# کلتوري یون

Ketabton.com

محمد اسمعیل یون

۱۳۸۷ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کــلــتـو ر ي يــو ن

## ( د ادبي او کلتوري ليکنو ټولګه)

لیکوال

محمد اسمعيل يون

۱۳۸۷ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| کتاب نوم: | کلتوري يون |
| ليکوال: | محمد اسمعيل يون |
| خپرندوی: | يون کلتوري يون |
| چاپکال: | ۱۳۸۷ل |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| د ليکوال پرله پسې نومره: | (۲۳) |
| د خپرندوی پرله پسې نومره: | (۲۳) |
| کمپوزر: | ضياالرحمن ضيا |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | یون له یو بل ((کلتوري یون)) سره | ۱ |
| ۲ | لیکنې د وختونو خاطرې له مرګه ژغوري | ۳ |
| ۳ | په شعر کې تکلف | ۷ |
| ۴ | فرهنګي او ټولنیز ارزښتونه | ۱۳ |
| ۵ | (په) او (پر) دوه مترادفې کلمې دي که مخالفې؟ | ۱۷ |
| ۶ | فرهنګي کار قرباني غواړي | ۲۵ |
| ۷ | د خدای پامانۍ ګیله | ۲۹ |
| ۸ | په پښتو کې د (یاګانو) سمه کارونه او اړتیا | ۳۴ |
| ۹ | په لیکوالۍ کې احتیاط | ۴۷ |
| ۱۰ | ازاد او تړلي مطبوعات | ۵۷ |
| ۱۱ | د فرهنګي کار وېش | ۷۲ |
| ۱۲ | ګران خوشال روهي ته د اوښکو مړاوی لیک | ۷۸ |
| ۱۳ | اوسني استوګن ادبي بهیر ته یوه لنډه کتنه | ۸۱ |
| ۱۴ | په لیکوالۍ کې د حقارت عقده | ۸۸ |
| ۱۵ | د مونوګراف لیکنې ګټې او اړتیاوې | ۹۸ |
| ۱۶ | لیکوال، کتونکی او لوستونکی | ۱۰۴ |
| ۱۷ | کلتوري اخلاق | ۱۱۸ |
| ۱۸ | مثبت کلتوري بدلون، اوښتون او... | ۱۲۵ |
| ۱۹ | زموږ د لیکوالو عمومي او خپلمنځي... | ۱۳۲ |
| ۲۰ | الفت د زړونو الفت | ۱۳۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۲۱ | زمونږ د اوسنيو ادبياتو فکري لوری | ۱۵۱ |
| ۲۲ | راډيو په وير او ټلويزيون په زنځير کې | ۱۵۵ |
| ۲۳ | د پوهنتوني کتابونو د چاپ اړتيا | ۱۶۹ |
| ۲۴ | د افغانستان په ختيځ کې ژورناليستيکي... | ۱۷۲ |
| ۲۵ | کلتوري يون او د فرهنگي تجربو تبادله | ۱۸۴ |
| ۲۶ | د «پسرلي» د فکر پسرلی | ۲۰۱ |
| ۲۷ | د يوې «ژبخورې ژبې» يرغل او د پښتو او... | ۲۱۱ |
| ۲۸ | افغانستان او د ايران کلتوري يرغل | ۲۲۱ |
| ۲۹ | زرين انځور د فکر او کار سړی | ۲۲۹ |
| ۳۰ | د محمد اسمعيل يون لنډه پېژندنه | ۲۴۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه:

# یون له یو بل

# ((کلتوري یون)) سره

په وروستیو کلونو کې د افغان کلتوري یون د بېلابېلو اړخونو په اړه څېړنه او ارزونه، موږ ته له څو خواوو مهمه ده. په داسې څېړنه او ارزونه کې موږ د افغان کلتور د ودې پر لاره له پرتو ستونزو او خنډونو هم خبرېږو، د ودې لارې چارې هم په کې لټولای او ځان ته معلومولای شو. ددې په څنګ کې موږ ته ملي ارزښت هم لري او دا ځکه چې دا ډول ارزونې د ملي کلتور د مطالعې په عمومي چوکاټ کې راځي.

د ښاغلي پوهندوی محمد اسمعیل یون د کلتوري-ادبي لیکنو او مقالو دغه ټولګه همداسې یوه ځانګړنه لري. په دې ټولګه کې موږ د داسې یو لیکوال لیکنې لولو، چې په وروستیو شلو کلونو کې د افغان ملي کلتور د مورچل د یوځوان، خو پیاوړي مدافع لیکوال په توګه، د همدغه سنګر په منځ کې پاتې شوی، هلې ځلې او مبارزې یې کړي او ټولې ناخوالې یې لیدلي او ددغو ناخوالو پر وړاندې درېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مقالو په دغه ټولګه کې د افغاني کلتور او ادب د بېلابېلو اړخونو په باب ارزونې، معلومات او تر ټولو غوره دا چې د ودې لپاره يې وړانديزونه تر سترګو کېږي. په ټولګه کې د پښتو ګرامر د ځينو خواوو په اړه څو څرګندونې وينو او هم د ځينو ادبي څېړو پر ادبي کار خبرې شوې دي، خو په عمومي توګه د افغانستان د کلتوري مسايلو په هکله عمده موضوعګانې په کې په جلا جلا ليکنو کې څېړل شوې دي. د افغان کلتور په دغو عامو موضوعګانو کې، زموږ د کلتوري يون يو شمېر داسې ټکي راغلي او مطرح شوي دي، چې زموږ د ډېرو ليکوالو، فرهنګيانو او فرهنګپالو لپاره په زړه پورې دي.

ګران پوهندوی محمداسمعيل يون له دې کبله هم د ستاينې وړ دی، چې په خپله يې ددغو بېلابېلو مقالو او ليکنو ټولګه راټوله او چاپ ته چمتو کړې ده او نور کسان يې له راتلونکي لټون څخه تر ډېره بې غمه کړي دي.

له ښاغلي يون څخه له دې امله هم مننه کوم چې زما د وړانديز له مخې يې پر دغه ټولګه د «کلتوري يون» نوم کېښود. هغه ته د لاړياتو کلتوري برياوو هيله کوم.

په درنښت
زرين انځور
کابل، د ۱۳۸۷ل کال د مرغومي ۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سریزې په ډول:

# لیکنې د وختونو خاطرې
# له مرګه ژغوري

زه د خوشال خان لېسې په (۹) ټولګي کې وم، چې لومړنی شعر مې چاپ شو، بیا چې کله لسم، یوولسم ټولګي ته ورسېدم، نو دا مهال مې څو شعرونه چاپ شوي وو، په یوولسم ټولګي کې وم، چې په خوشال خان لېسه کې د ځوانو لیکوالو او شاعرانو ادبي انجمن جوړ شو. دا انجمن د افغانستان د ځوانو لیکوالو او شاعرانو د کانون یا ټولنې یوه څانګه وه، چې دا مهال دا څانګې د کابل په څو لېسو او له هغې جملې څخه په خوشال خان لېسه کې جوړې شوې وې. د یوه کال (۱۳۶۵) په بهیر کې، د خوشال خان لېسې په لسګونو ځوان شاعران او لیکوال ددې ټولنې غړي شول او د شاعرۍ او لیکوالۍ یوه ګرمه څپه په لېسه کې راپورته شوه، د دې یوه کال په بهیر کې زموږ دې ادبي انجمن تر لسو زیاتې ادبي غونډې او مشاعرې جوړې کړې او هم مو په نورو لسګونو غونډو او مشاعرو کې ګډون وکړ، (۱۳۶۶)لمریز کال هم په همداسې ادبي څپو کې تېر شو. دا مهال ما له ((قبایلي زلمیان)) او ((درفش جوانان)) جریدو سره قلمي ملګرتیا پیدا کړه او ځینې شعرونه او لیکنې مې په کې خپرېدلې. پر ۱۳۶۷ل کال بیا د کابل پوهنتون د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې محصل شوم، له اخبارونو، جریدو، مجلو او راډیو تلویزیون سره مې اړیکې نور هم زیات شول، د ځلورو کلونو په بهیر کې مې ګڼ شمېر لیکنې او شعرونه د کابل د هغه وخت په خپرونو کې خپاره شول، د پوهنتون تر فراغت وروسته بېرته په پوهنتون کې د کدر غړی شوم، د تحصیل په دوره کې مې درې عنوانه کتابونه چاپ کړل. پر ۱۳۷۱ل کال په کابل کې تنظیمي جګړه پیل شوه، زه بیا کله په کابل، کله په لغمان او کله هم پېښور کې وم، تر خپله وسه مو فرهنګي کارونه کول، د تنظیمواکۍ په بهیر کې مې هم یو شمېر سیاسي او ادبي لیکنې وکړې او اکثره په پېښور چاپ خپرونو کې خپرې شوې، دا لیکنې چې دلته یې تاسې ګورئ، دا اکثره همغه ادبي او کلتوري لیکنې دي، چې د تنظیمواکۍ تر پیل وروسته بیا تر دې دمه پر بېلابېلو وختونو، په پښتونخوا او هېواد مېشتو ادبي او کلتوري چاپي خپرونو کې خپرې شوې دي.

په دې کې ټولې هغه ادبي لیکنې شاملې نه دي، چې ما په تېرو شلو کلونو کې کړې دي، هغه لیکنې چې ډېرې ابتدایي وې او ځینې هغه لیکنې چې بیا چاپ یې ماته مناسب ښکاره نه شو، هغه مې په دې لیکنو کې شاملې نه کړې، خو یو شمېر داسې لیکنې هم پاتې شوې، چې باید په دې کې راغلې وای، مګر تر دې مهاله یې زه په پیداکولو بریالی نه شوم، خو دا په بیا چاپ ارزې لیکنې هم دومره زیاتې نه دي، اکثره هغه لیکنې چې زما پر نظر یې راټولېدنه او بیا چاپ ضروري وو، هغه همدا لیکنې دي، چې په دې ټولګه کې خوندي دي. ادبي او کلتوري لیکنې د سیاسي هغو په شان نه دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې څوک يې پر بيا چاپ ټکنی شي او يا يې هم بيا چاپ ليکوال ته څه ستونزه پېښه کړي او يا د هغه شخصيت ته زيان ورسوي. خو که په ځينو کلتوري ليکنو کې هم، ډېرې کمزورې ليکنې ټولنې ته وړاندې شي، ټولنې ته به يې ګټه ونه رسي. په همدې خاطر يو ليکوال ته په کار دي، چې د هغو ادبي ليکنو ټولګې، ټولنې ته وړاندې کړي، چې له فکري او هنري پلوه څه نا څه د پوخوالي دايرې ته ورداخل شوې وي. زما دا ليکنې چې دي، زه يې له هر پلوه د پوخوالي په تله نه تلم او نه به د دې جوګه وي چې د يوې ښې ليکنې ټول معيارونه پوره کړي، خو څرنګه چې دا زما د خپلو تجربو يو نچوړ دی او زه د تېرو شلو کلونو په بهير کې عملاً له داسې ستونزو او کړاوونو سره مخامخ شوی يم او بيا مې پرې ليکنه کړې، نو اټکل کوم چې اوسنی او راتلونکی نسل به هم له دا ډول ستونزو سره مخامخېږي، خو مخکې تر دې چې په ادبي مبارزه کې له کړاوونو سره مخ شي، ښه ده چې د ستونزو حل لارې هم ورته معلومې وي او په فرهنګي چارو کې يې ځان ته مخکې تر مخکې يو روحي ډاډ جوړ کړی وي. دا ليکنې اکثره د هغو مسايلو په اړه ليکل شوي، چې که ليکوال په خپل ورځيني ژوند کې وغواړي که ونه غواړي، ورسره مخامخېږي. دا که په ليکنه کې ګرامري ستونزې دي، که اغزن کلتوري چاپېريال دی، که د چاپ ستونزې دي، که د کتابونو د وېش مساله ده، که د ليکوال ځاني ستونزې دي، که خپلمنځي اختلافات دي او که نورې ګڼې ستونزې، ټول هغه مسايل دي چې د ليکوال پر چاپېريال راڅرخي. په دې ليکنو کې مې هم لکه د نورو ليکنو په شان څه خاص تغيرات نه دي راوستي، يوازې املايي او انشايي تېروتنې مې تر خپله وسه سمې کړې دي. د دې ليکنو له بيا چاپ څخه مې هدف دا هم دی چې يو خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

به تېرې خاطرې او خپل تېر کړی کار خوندي کړم، بل به نور ځوان لیکوال هم له هغې ستړیا بې غمه کړم، چې کېدی شي یو نیم په کې زموږ تر مړینې وروسته دا هیله ولري، چې دا لیکنې راټولې او چاپ کړي، د هغوی د وخت د ضایع کېدو مخنیوی مې هم وکړ. له دې ټولګې څخه به نه یوازې زموږ فرهنګي بهیر ته، بلکې خپله ماته هم پته ولګي چې موږ چېرته وو؟ چېرته یو؟ او چېرته باید لاړ شو؟ که موږ خپلې ماضي ته کتنه ونه وکړو، نو خپل حال او راتلونکی سم نه شو سنجولای.

نو ددې لیکنو بیا چاپ مې د خپل فرهنګي ژوندانه د ماضي، حال او که خدای(ج) کول د راتلونکي لپاره د یو تسلسل او پُل په توګه ضرور وګاڼه. له نورو لیکوالو مې هم هیله ده، چې خپلې لیکنې راټولې او د مرګ له خطره وژغوري، هره لیکنه د لیکوال د زړه په وینو لیکل کېږي او د یو مشخص مهال د حالاتو انځورنه کوي، موږ باید مشخصې شېبې او مشخص وختونه د لیکنو په وسیله خوندي کړو او د وخت یادګارونه د وخت په څپو، بل وخت ته ور انتقال کړو.

د همداسې یوې هیلې د برې په هیله چې زموږ فرهنګي اثار او ارزښتونه د زمانې له ناخوالو او توپانونو خوندي پاتې شي، خپله دا لیکنه همدلته پایته رسوم.

په ډېره فرهنګي مینه او ولوله
پوهندوی محمد اسمعیل یون،
ارګ،د جمهوري ریاست ودانۍ، کابل- افغانستان
د ۱۳۸۷ل کال د مرغومي ۲۳مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په شعر کې تکلف

دا لیکنه د وفا جریدې، چې له پېښوره خپرېدله، د پنځم کال په ۴۳-۴۴ګڼه کې چې د ۱۳۷۵ل کال د لیندۍ پر (۱۰) نېټه چاپ شوې، خپره شوې ده.

تکلف، تصنع، ځان ښودنه او د اخلاقي او ټولنیزو چلندونو مصنوعي کول او ښودل هغه کړنې دي، چې نه یوازې په عام ټولنیز ژوند کې د منني او ستاینې وړ نه ګرځي، بلکې د لید د څښتنانو په زړونو کې د هغو د کرکټرونو پرضد یو عکس العمل هم راولاړېږي. همدارنګه په عامو لیکنو او په ځانګړي ډول د انسان تر ټولو شفاف او ظریف هنر (شعر) کې ددې ناروغۍ ځایول او لاره موندل، د شعر پر طبیعي او رنګینې ښکلا د بې ضرورته او زیان رسوونکو څیزونو زیاتول دي.

د پښتو ادبیاتو د لرغونې، کلاسیکې او بیا د معاصرې دورې شعرونو ته په ځغلند نظر سره ویلای شو، چې ددې ناروغۍ ګرد پرې پرېوتی نه دی.

تېرو لسو کلونو راهیسې چې په افغانستان کې د (شعار) او (شعر) ترمنځ پولې په څرګند ډول بېلېدلې، یو ډول اشخاصو ته دا لاره اواره شوه، چې د ((هنري شعر) په پلمه د تکلف او تصنع په ځواک خپل معنوي فقر پټ کړي، خو یو شمېر شاعرانو په رښتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره هم د شعر د هنريت عفت وساته او هر تکلف او تصنع يې د شعر هنري جامې ونه ګڼلې. ځينې نورو شاعرانو له دې وېرې چې کره کتونکي يې شعر د شعار په نوم ونه نوموي، په مصنوعي ډول خپل اند ته د وزن په چوکاټ کې د کلمو دومره پوښو نه ورکړل چې بيا يې د مانا روښانولو او ځرګندولو لپاره خپله هم حيران وو. يو شمېر نورو بيا د تکلف يو څه اغېز ومانه او ځينې بيا د «تکلفي شعر» او «هنري شعر» د پولو بېلولو او پېژندلو ته حيران شول. رښتيا هم متکلفينو د «هنري شعر» په نامه دومره کار وکړ چې له ډېرو يې ددې بريد د پېژندلو لاره ورکه کړه.

متکلفين به کله د مانا د مرغلرې لپاره «د اسمان خيالونو» ته وختل او هلته به يې «د لمر ابۍ» سره کيسې پيل کړې او کله به هم بيا د ځمکې په تل کې «... د لونګو د ښايست په بڼ کې، د پېغلتوب تنکي ګلان، د خزانې متروکو...» په لټه کې شول. ځينې به بې له کومې لارې او وسيلې د زړه د خيال «د بحرونو تل» ته ورننوتل، خو بيا به يې هم کومه مرغلره لاسته رانه وړه. اسمان ته د دوی ختل او د ځمکې تل ته د دوی ننوتل، د الفت صاحب د «لوړو خيالونو او ژورو فکرونو» په شان نه دي «هغه څه چې په لوړو وربځو کې شته په کښته ځاګانو کې هم شته» «د لوړ خيال او ژور فکر نتيجه يوه ده» خو دوی مصنوعي او تکلفي فکر کاوه، لکه اروا پوهان يې چې د يو رواني ناروغ د ذهن د تداعي لپاره هغه ته مصنوعي خوب ورکوي. د تکلف او تصنع غندل په دې مانا نه دي چې شاعر دې ګڼې د خپل اند، احساس

(c) ketabton.com: The Digital Library

او درد مرغلره د خوږو کلمو په ورېښمين شال کې تاوه نه کړي.
کلمې د شعر جامه ده او هر څومره چې دا لباس ښکلی جوړ شي، هماغومره ښکلی ښکاري او لکه يو سړی چې په ښکلي او قيمتي لباس کې ښکلی ښکاري، خو (مانا) د شعر روح دی، که د شعر د کلمو رګونو ته د مانا روح نه وي پوشوی، نو هغه تش مړی او بې روحه کلمې دي.
لکه يو سړي ته چې هر څومره ښکلې جامې واغوندو، خو چې ((سړيتوب)) ونه لري د چا په زړه کې به ځای نه شي. د استاد روهي په وينا ((د شعر شعريت همداسې دی لکه د سړي سړيتوب)).
کله کله ځينې اشخاص وايي: (( شعر بايد ساده نه وي، د عام ولس تر سطحې اوچت وي. ابهام ولري او مغلق وي)) د دوی موخه داده چې د لوستونکي د ذهني سطحې د لوړتيا لپاره پېچلی شعر په کار دی. دلته هم لږ غور په کار دی، ځينې شاعران د شعر ابهام له تکلف سره مغالطه کوي. د حميد بابا شعرونه چې د پښتو هنري شعر ښې بېلګې دي، له ابهام او له مانيزو غوټو ډک دي، خو تکلفي او تصنعي نه دي. د تکلفي ((شعر)) څو ځانګړنې په دې ډول په ګوته کولای شو:
ـ په تکلفي ((شعر)) کې د احساس، عاطفې او درد څرکونه، نه وي، که وي هم ډېر کم به وي، ياني دا چې شعر د کوم درد او احساس له مخې راپارېدلی نه دی، بلکې شاعر په خپله په نورمال ډول پر ((شعر)) ليکلو پيل کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ په دې ډول ((شعر)) کې د شعر تخنیکي اړخ ته پاملرنه کېږي، خو مانیز اړخ یې ډېر کمزوری وي.
ـ د ((ذهني انځور)) په نوم متکلف له فکري بحران سره مخ وي او هېڅ داسې ټولیزه پایله ترې لاسته نه راځي، چې د انځور د مانا غوټه ترې جوړه شي.
ـ متکلف خپل ټول عیب د استاد الفت په خبره ((معنوي فقر د الفاظو په برق او ذلق کې پټوي)).
ـ تکلفي ((شعر)) د استاد حمزه په وینا د ((امد)) شعر نه دی، بلکې د ((اورد)) شعر دی. یانې دا چې پر شاعر باندې د شعر ښاپېری خپل وزرونه نه دي غوړولي، بلکې ده خپله ځان مجبور کړی چې هغه ځانته راولي.
ـ د تخنیکي وزن کارول او له ښکلو کلمو سره بې مانا لوبې کول د تکلفي ((شعر)) بله ځانګړنه ده.
ـ یوه کلمه په بلې کې پېچل او بله په بله کې، هم ددې ډول نظم ځانګړتیا ده.
ـ ځان ښودنه، ځان لوړ ګڼل، نورو ته فریب ورکول هم د تکلفي ((شعر)) د ((شاعر)) مانیزه نیمګړتیا ده.
د پایلې یا نتیجې په توګه ویلای شو چې تکلفي ((شعر)) شعر نه دی خو بې مانا او یا هم د سستې مانا لرونکی او د کلمو له پلوه ((رنګین نظم)) ورته ویلای شو.
د شکل له مخې، هنري شعر، تکلفي شعر ته، له ظاهري پلوه ورته برېښي، دواړه ښکلو منو ته ورته وي. خو یوه منه داسې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هم ظاهراً ډېره ښکلې، پاکه او پخه ده او هم يې منځ پاک او ستره دی او کوم چينجي ورته لاره نه ده کړې او د خوراک پر وخت يې سړی په خوند نه مړېږي او د روغتيا لپاره ګټور مواد لري او بله هم ظاهراً ډېره ښکلې او پخه ښکاري، خو کله چې هغه سپينه او ټوټې کړې، نو منځ به يې سوری سوری او د چينجيو ځاله وي، بيا نو که چينجی، ترخه برخه او پوټکی يې يوې خواته کړو، نو په پاتې منه کې څه نه پاتې کېږي، لکه څنګه چې په بازار کې هر اخيستونکی ددې دواړو منو پر توپير نه پوهېږي. همدارنګه په شعر کې هم په لومړي وار لوستلو او اورېدلو د يو ښه هنري شعر او تکلفي شعر يا نظم توپيرول، ځينو ته ګران کار دی، خو دواړو ته په کره نظر کتلو او په څو ځله لوستلو او د شعر تر شننې وروسته سړي ته، لکه د منو په شان پوره پوره څرګندېدی شي.

ځينې متکلف شاعران له آره متکلف نه وو. هغوی د خپلې ژبې او ځينو نورو ژبو د لوړو شاعرانو ډېره ښکلي هنري شعرونه چې د مانا او احساس له مرغلرو يې د شعر وزرونه ډک وو، ولوستل، نو د هغوی د تقليد لپاره يې ځانونه چمتو کړل. څرنګه چې د لوړو شاعرانو په شعرونو کې «لوړ خيالونه او ژور فکرونه» وي او لوړ خيال او ژور فکر خو تر ډېرې لوستنې، ليد او ځيرتيا وروسته منځته راځي او د فطرت د سخاوت او لوريښنې اغېز هم په کې له نظره غورځېدی نه شي، نو دوی د شعر په لفظي اړخ کې ځان هغوی ته ورنږدې کړ، خو په مانا کې پاتې راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو اوسني شعر کې په ځانګړي ډول په تېر لس کلن بهير کې د دې ډول شعرونو يو لړ بېلګې شته، چې د اوس لپاره يې د پوره بېلګو له راوړلو څخه ډډه کوو، ځکه چې د هغوی ځينې ((شاعران)) هم له دې ډول نظمونو څخه ستړي شوي، تر څو پورې به په چا کې د بل چا د ذهني تېرايستلو وس جاري وي، ناستړي به يې هم اخر ستړي شي، ((تر څو به په چل ول باندې قدم راسره ږدې)).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فرهنګي او ټولنيز ارزښتونه

دا ليکنه د وفا جريدې د شپږم کال په ۱- ۲ ګڼه کې چې د ۱۳۷۵ل کال مرغومي له ۲۶ سره سمون خوري، خپره شوې ده.

په هره ټولنه کې يو لړ داسې منل شوي فرهنګي او ټولنيز ارزښتونه وي، چې د هغو په رڼا کې د هغې وګړي د خپل ژوند چارې پر مخ بيايي، يو لړ داسې ارزښتونه هم موجود وي چې هغه د انساني ژوند ډېرو سترو او فطري غوښتنو ته ځواب وايي او له يوې ټولنې نه بلې ته دومره توپير نه مومي.

افغاني ټولنه هم د ځانګړو کلتوري او ټولنيزو ارزښتونو درلودونکې وه، خو ايا دا ارزښتونه ثابت پاتې شول که بدلون يې وموند او که بدل کړای شول؟ دا څرګنده خبره ده ځينې ارزښتونه چې د انساني ژوند غوښتنو ته پوره او مثبت ځواب نه شي ورکولای، په طبيعي ډول د وخت په تېرېدو سره بدلون مومي، خو دلته زموږ اند ښښنه د دې ډول ارزښتونو په باب نه ده، بلکې د هغو ارزښتونو او نورمونو په باب ده، چې زموږ په ټولنه کې جبراً او قصداً محوه شوي او محوه کېږي.

د شل کلنې جګړې په ترڅ کې چې د افغاني ټولنې د وجود د بېلابېلو رګونو وينه وزبېښل شوه، نو په دې کې فرهنګي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنيزو ارزښتونو او اخلاقو زيات ټپونه وزغمل. يو شمېر هغه منوراو نامنور اشخاص چې له لومړي سياسي جريان سره په تصادم کې واقع شول، يا خو د ژوند له نعمت نه محروم کړای شول او يا هم په نورو ټولنو کې په ژوند محکوم شول. د هغوی فکر، ګروهه او هغه مثبت ارزښتونه چې دوی په خپله ټولنه کې منل او پر نورو يې منل، په نورو ټولنو کې يا کمزوري شول او يا سوچ بېخي له منځه لاړل، له هغوی نه بل جوړ شوی او رالوی شوی نسل خو بېخي په نورو کلتوري او فکري جريانونو کې رالوی شو. کله چې په هېواد کې د لومړي سياسي کړکېچ په اصطلاح ((بشپړتيا يي پړاو)) راورسېد، نو بيا خو بېخي خبره بل شان شوه. دا وار ته هم د هېواد د ولس زياته برخه د ټاکلو او منلو کلتوري او عقيده يي ارزښتونو په رڼا کې د مخالفت ډګر ته راووتله، چا چې د جنګ وس درلود په جنګ کې له خپلو هيلو سره يوځای خاورې پر سر شول او څوک چې نورو هېوادونو ته لاړل، نو د هغو د کلتور تابع شول. د جګړې هغه اړخ چې حکومتي چارې يې په لاس کې وې، د افغاني فرهنګ د بې ارزښته کولو او د ځينو معنوي او قومي ارزښتونو د له منځه وړلو لپاره يې په شعوري ډول هلې ځلې پيل کړې. دغه راز د جګړې دې غاړې هم د مذهب او عقيدې تر سيوري لاندې په شعوري او نا شعوري ډول د هېواد د ملي او ټولنيزو ارزښتونو د محوه کولو په لار کې ګامونه پورته کړل.

تقريباً (۳۵۰۰) ښوونځي يې ړنګ او د هېواد يو شمېر فرهنګي مرکزونه يې په دې نامه چې حکومتي ملکيت دی، له منځه يوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پایله دا شوه چې دواړې غاړې د ولس د ځینو ارزښتونو پر له منځه وړلو بوختې شوې. کومې سیمې چې د چارواکو تر واک لاندې وې، هغه د مخالفینو او کومې چې د مخالفینو تر واک لاندې وې، هغه د چارواکو تر بریدونو لاندې راغلې. د همدې ځو کلني بېلتون په ترڅ کې پر هېواد دوه ډوله متضاد عقیده یي او لرې تر لرې کلتوري شرایط حاکم شول. د ساري په توګه هغه سیمه چې د چارواکو تر واک لاندې وه په هغې کې موسیقي او ځینې نور ((هنري)) فعالیتونه د افغاني کلتور جز ګڼل کېدل او د پراختیا لپاره یې هلې ځلې هم کېدې او د موسیقۍ نه منونکي ((بې فرهنګه)) ګڼل کېدل، خو مقابله سیمه او طرف کې بیا خبره بل ډول وه.

کله چې پر ۱۳۷۱ لمریز کال د مخالفینو یوه ډله د یو ناوړه سازش له لارې قدرت ته ورسول شوه، نو خبره تر بدو بتره شوه. دوی د هغه فکر، ګروهې او ارزښت په سپکولو کې تر ټولو اوچت ګامونه واخیستل، چې د هغو د تطبیق بیرغ یې اوچت کړی و. ددې نوي بدلون په پایله کې د هغو سیمو او ښارونو اکثره تحصیل کړي اشخاص د بېلابېلو عواملو له کبله د هېواد پرېښودو ته مجبور شول. دوی هم په نورو ټولنو کې حل شول او یا حلېدونکي دي.

اوس نو په تېرو شلو کلونو کې په افغانسان کې د هر سیاسي بدلون په راتلو سره، تر هرڅا دمخه فرهنګي اشخاص او فرهنګي بنسټونه له منځه ځي. ځینې وختونه خو یوازې او یوازې د ذوق او لنډ فکرۍ پر اساس هم ځینې فرهنګي بنسټونه له منځه وړل شوي دي. په دې ډول په شلکلن واټن کې د ((مغزونو فرار)) په متواتر ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوام پیدا کړ او هېواد له مفکرینو او روڼ اندو څخه تش شو. په همدې زماني واټن کې یو بل نسل رالوی شو، چې د جګړې له فرهنګ سره لوېدلی نسل دی. هغه د هغو ارزښتونو نه چندان پروا ساتي او نه پرې پوهېږي، چې زموږ د ټولنې رغنده فرهنګي او اخلاقي عناصر یې جوړول.

د جګړې بدمرغی، ناخوالو او اقتصادي ستونزو هم د افغانانو د ځینو مثبتو کلتوري ارزښتونو په له منځه وړلو کې خپل لوی اغېز وشینده.

د مثال په توګه مینه، عاطفه، غیرت او مېلمه پالنه، د افغاني ټولنې هغه ارزښتونه دي، چې په سلګونو کلونه یې زموږ د ټولنې د خلکو پر زړونو حکومت کړی دی، خو اوس د افغانانو په وس کې د مېلمه پالنې هغه تاب پاتې نه دی، چې تر جګړې دمخه کلونو کې و. په کابل کې مې یو له زیات شمېر اشخاصو څخه دا اورېدلي، چې «ډېر مې زړه کېږي چې پلانی مېلمه کړم او د خپل زړه غمونه ورسره تش کړم، خو اقتصادي حالات مې ډېر خراب دي»، اوس اکثره افغانان خپل مېلمه ته د پخوا په شان په خلاص مټ ست او بلنه نه شي ورکولای، که څه هم په زړه کې یې دا هیله غځونې کوي. د عملي وس او امکاناتو د نشت په وجه کېدی شي دا عنعنه ورو ورو د هېرېدو خواته لاړه شي او همدارنګه زموږ د ټولنې نور فرهنګي او ټولنیز ارزښتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (په) او (پر) دوه مترادفې کلمې دي که مخالفې؟

> دا لیکنه هغه وخت وشوه چې لیکوال د هیلي مجلې د لیکنو د سمون په کار کې عملاً له دې ډول ستونزو سره مخامخ شو. دا لیکنه بیا د هیلي مجلې په یوه ګڼه کې خپره شوه.

کله کله موږ په ګړنی او ان په لیکنی ژبه کې دوه یا څو داسې کلمې یوه د بلې پرځای کاروو، چې دمانا له مخې سره څه نا څه ورته وي، خو دبڼې یا شکل له مخې سره بېلې وي. داسې کلمې هم شته چې دشکل له مخې سره ورته یا یو شان وي، خو د مانا له مخې سره مخالفې وي.

هغه کلمې چې دشکل له مخې سره بېلې وي او مانا یې سره ورته او نږدې وي، هغو ته هم مانیزې یا مترادفې کلمې وایې لکه لوی، غټ، ستر او نورې او هغه کلمې چې دشکل له مخې سره ورته وي، خو مانا یې بدله وي هغو ته په اصطلاح همشکله مختلف المعنی کلمې وایي. لکه

لور (طرف، خوا) لور (داس، رېبونکې اله) او داسې نور....

خو اوس راځو دې ته چې ایا په ژبه کې حقیقي مترادفې او هم مانیزې کلمې شته اوکه نه؟ کله چې موږ له مترادفې کلمې سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

(حقيقي) لفظ راوړو، نو مقصد مو دادی چې دا همماني‌زوالی باید بشپړ حقيقت ولري، يانې سل په سلو کې يوه کلمه دبلې مانا ورکړي او دهغې پر ځای وکارول شي، اوس موږ غواړو دهمداسې يو حقيقت په لټه کې شو، چې ايا په رښتيا هم په يوه ژبه کې دوه حقيقي مترادفې کلمې پيدا کېدی شي او که نه؟

ژبپوهان وايي، چې يوه ژبه کې قطعاً دوه حقيقي مترادفې کلمې نه شته، خو مترادفې هغه شته. د(حقيقي مترادفو) او (مترادفو) کلمو ترمنځ هم يو مانيز تضاد پروت دی، چې د عامو لوستو خلکو سر پرې نه خلاصېږي، خو ژبپوهان او نور متخصصين يې پر تضاد او توپير پوهېږي.

د(حقيقي مترادفو) او (مترادفو) کلمو ترمنځ اصلي تضاد او توپير دادی چې په حقيقي مترادفو کې بايد ديوې کلمې مانا سل په سلوکې دبلې کلمې ځای ډك کړي او دهغې پر ځای وکارول شي، چې دا په يوه ژبه کې هېڅ شونې نه ده. خو مترادفې بيا هغه کلمې دي چې دعاجلې اړتيا او يا دکلمو دتکرار دمخنيوي لپاره يوه دبلې پرځای کارېږي، خو کله که دهغې کلمې دکارونې دقيق ځای راشي، نو بيا يې موږ له ورايه پر توپير پوهېږو، چې دا مو درسته کارولې که نا درسته؟ لکه په عامه ګړنۍ او ان په ليکنۍ ژبه کې موږ د(لوی، ستر، غټ) درې واړه ستاينومونه (صفتونه) په يوه مانا کاروو او کوم خاص توپير په کې نه کوو، لکه احمد ډېر غټ سړی شو، احمد ډېر ستر سړی شو، احمد ډېر لوی سړی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته موږ د احمد لپاره دا درېواړه صفتونه په يوه مانا وکارول او ډېر زيات مانيز توپير او تضاد مو هم تر نظره رانغی، خو که همدغه صفتونه بيا بل چېرې پر خپل خپل ځای استعمالوو، نو اوچت توپير په کې لېدل کېږي. لکه احمد ستر جنرال شو، دا ډول ويلای شو، خو دا ډول هېڅکله نه شو ويلای چې: احمد لوی جنرال يا غټ جنرال شو. دا هم ويلای شو چې: د افغانستان ستره محکمه، خو دانه شو ويلای چې: دافغانستان غټه محکمه. دا هم ويلای شو، دا ډېر سخت کار دی، دا ډېر مشکل کار دی، خو همدا (سخت) او (مشکل) (سره له دې چې د دوو بېلابېلو ژبو کلمې دي خو (مشکل) هم زموږ په ژبه کې دود دی) بيا به بل ځای کې په يوه مانا نه کارول کېږي، لکه (احمد ډېر سخت سړی دی) ويلای شو، خو (احمد ډېر مشکل سړی دی) نه شو ويلای، له دې څخه ښکاري، چې يوه کلمه په پوره ډول او سل په سلو کې په هرځای کې دبلې کلمې ځای نه شي نيولای.

ددې خبرې ډاګيزول هم په کار دي، چې کله په يوه ژبه کې دحقيقي مترادفو کلمو دنشتوالي خبره مطرح کېږي، نو له دې څخه موخه د همغې ژبې خپلې کلمې دي، نه له نورو ژبو څخه را اوښتې او راغلې کلمې. هغه کلمې چې له نورو ژبو څخه راغلي وي کېدی شي، ځينې داسې کلمې په کې پيدا شي، چې دهمدې ژبې دنورو کلمو ځای ونيسي. يانې دخپلې ژبې آره کلمه استعمال نه شي، بلکې له بلې ژبې څخه راغلې، دهغې همانيزه کلمه استعمال شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه (ښوونځی او مکتب) چې ښوونځی پښتو او مکتب عربي لفظ دی، په پښتو کې یو دبل پر ځای استعمالېدی شي. خو په پښتو کې بیا دښوونځي ځای نیوونکې بله پوره پښتو کلمه نه شته.

ددې خبرې علت دادی چې کله دیوې ژبې وګړي دیو قرارداد یا تړون په ډول دیو څیز لپاره یو واحد نوم ږدي، نو همغه نوم بیا دودېږي. یانې پر یوه وخت دیوه څیز یاشي لپاره دوه نومونه نه اېښودل کېږي، البته کېدی شي دیوې ژبې په بېلابېلو ګړدودونو کې دیو څیز لپاره څو نومونه وي، خو په ټولیز ډول یوه معیاري ژبه په پام کې نیول کېږي، نو دیو واحد څیز لپاره دوه بېلابېل نومونه نه اېښودل کېږي اونه ورته اړتیا وي.

له دې سریزې او څرګندونو څخه زموږ موخه داده چې په ژبه کې حقیقي مترادفې کلمې نه شته، نو چې نه شته، باید (په) او (پر) هم دوه حقیقي مترادفې کلمې نه وي، ان مترادفې نه وي، بلکې له مانیز پلوه مختلفې دي او مانیز تضاد په کې پروت دی، نو چې دا دواړه کلمې مخالفې او متضادې دي، نو بیا ولې دواړه په یوه مانا او یوه دبلې پرځای کاروو؟ ددې علت څه دی؟ موږ دا کار په شعوري ډول کوو که ناشعوري؟ او که له کوم ډول ابهام او تېروتنې سره مخ یو؟

زموږ په اند ځینې لیکوال په شعوري، ځینې په ناشعوري، ځینې د ابهام له مخې دا کار کوي او ځینې بیا لا دا هم په کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووايي چې (پـه) او (پـر) دواړه يـوه مانـا ورکـوي، دا يـوازې د لهجـو اختلاف دی اوبس.

د ډېر غور او سپړنې وړ خبره همدا ده چې (پر) او (پـه) لهجوي اختلاف ګڼي، نه ګرامري، خو اساسي خبره داده چې (پر) او (پـه) د لهجوي تـوپير خبـره نـه ده، بلکـې پـه دې دوو کلمـو کـې ګرامـري توپير او مانيز تضاد پروت دی، په لهجوي توپير کې دکلمې مانـا نه بدلېږي، کېدی شي شکل او تلفظ يې بدل شي، خو په ګرامـري جوړښت کې دکلمې مانا بدلېږي، نو کله چې ددوو کلمو مانا سره توپير ولري، دا د ژبې دجوړښت لـه مخـې د ددوو بېلابېلـو مانـاوو لپاره ګومارل شوي دي، نـه د واحد مفهـوم لپـاره، نـو کلـه چې پـه کلمـو کـې مـانيز تضـاد پـروت وي، بايـد هـره يـوه پـر خپـل ځـای وکارول شي، نه يوه دبلې پرځای، ځکه چې دجملې او ترکيب مانـا ته بدلون ورکوي.

ځينې ليکوال چې په شعوري ډول دا دواړه ناخپلواکه کلمې يـوه دبلې پرځـای کـاروي، دا کـار کېـدی شي ديـوې عقـدې او ځېـل لـه مخـې وي، چـې پـه دې ډول ګرامـري يـو والـي او د ژبـې اصـلي جوړښت تـه زيـان رسـېږي. ځيـنې يـې پـه ناشعوري ډول کـاروي، دهغو خو ګناه ځکه نه ده چې پوهېږي پرې نه او ځينو خلکو ته بيـا پـه کـې يـو ډول ابهـام وي، ددې پرځـای چـې درسـت يـې اسـتعمال کړي، په غلطه بڼه يې کاروي، لازمه ده چې دلته ددغـو دوو کلمـو دکارونې پر ځرنګوالي بحث وکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(پــه) او (پــر)**: دواړه ناخپلواکـه کلمې دي. نـاخپلواکې کلمې هغو ته وايـي چې لـه يـو څو غـړونو څخه رغېـدلي وي، خو کومـه بشپړه او تامه مانا نه لري، مانـايې دجملې او ترکيب پـه جوړښت کې څرګندېږي. لکه همدا (په) او (پر) . دې کلمو ته په ګرامري ژبـه وييکي وايي چې په عربي ژبه کې يې (ادوات) بولي، وييکـي هغـه کلمې دي چې خپلواکـه مانـا نـه لـري، بلکـي مانـا يـې دجملـې دجوړښت لـه مخې څرګنـدېږي او هـم دجملې د مانـا دترښـت او جوړښت سببېږي.

## د (په) او (پر) داستعمال ځايونه:

**الف ـ (په)**: دمکاني حالت لپاره راځي او زيـاتره وخت ورسره (کې) اوستربل ملګرى وي، لکه پـه کـور کې يم. پـه جام کې اوبه شته، په غرو کې ونې وي، په ځنګله کې ځناور وي.

خپله (په) کومه مستقله مانا نه لري، خو پـه جملـه کـې يې مانا څرګندېږي او هم دجملې دمانـا دترښت او جوړښت سبب ګرځي، لکه چې پورته جملو کې د يو مکاني حالت څرګندونه کوي.

د (په) او (کې) ترمنځ ضرور يو څه وي لکه په پورته جملو کې چې د (پـه) او (کـې) تـرمنځ (کـور، جـام، غـرو او ځنګلـه) راغلـي او ديـو مکاني حالت څرګندونه کوي.

له مکاني حالـت پرتـه (پـه) پـه يـوه جملـه کـې دفـاعلي حالـت څرګندونه هم کوي، لکه (دا کار زه په خپلـه نـه کـوم خـو پـه تـا بـه يـې وکـړم.) ددې جملې مانـا داده چې زه ددې کـار وس نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرم یا یې نه کوم خو په تا به یې وکړم،نو ته یې ترسره کړه، مانا دویم شخص دکار اجرا کوونکی یانې فاعل شو.

دوسیله ییز حالت یاد دویم فاعل لپاره هم (په) کارول کېږي، په بېل کار کوم، په تبر لرګي ماتوم، په توپك نښه ولم، دلته لومړی فاعل خپله شخص او دویم فاعل یا وسیله بېل، تبر او توپك دی.

ب : (پر): هم د (په) په شان نا خپلواکه کلمه او وییکی دی، چې زیاتره په جمله کې د مفعولي حالت، یانې دهغه حالت چې یو کار پرې اجرا کېږي، څرګندونه کوي او اکثره ورسره (باندې) اوستربل راځي: پر مېز باندې کار کوم، پرځمکه باندې کار کوم، پر اسلامي پوهانو باندې لیکنه کوم، خو کله کله (باندې) اوستربل غورځېدلی هم شي لکه پر څوکۍ کار کوم، پر احمد سیاسي کارکوم، مانا سیاسي سړی ورڅخه جوړوم.

د(باندې) ترڅنګ (سربېره) او (دې) سره هم (پر) راځي، سربېره پردې یا پردې سربېره. لنډه دا چې (په) دفاعلي او (پر) دمفعولي حالت څرګندونه کوي. زیاتره خلك دا دواړه یو بل سره مغالطه کوي او دیو بل پرځای یې کاروي.

ځینې د (په) پرځای (پر) استعمالوي لکه پر کور کې یم. یو کتاب کې داسې هم راغلي وو: دجرمني هیئت پرخپل لاس دخپل حکومت مکتوب امیر عبدالرحمن خان ته ورکړ. دلته (پر) غلط د (په) پرځای استعمال شوی دی،دا داسې مانا ورکوي چې هغه هیئت پر خپل لاس مکتوب لیکلی یانې لیکل یې په لاس کې کړي، نه په ځانګړي مکتوب کې، خو که د (پر) پرځای یې (په)

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـارولای وای نـو مانـا بـه یـې همغـه شـان پـوره شـوې وای چـې دليكوال په زړه کې ګرځېدله.

په مذهبي، سياسي او حقوقي ليکنو کې ددې ډول وييکو دقيقه کارونه ډېره ضروري ده، ځکه چې د متن مانا بدلوي او سرچپه کوي.

دغو جملوته هم پام وکړئ:

په پښتو ژبه مقاله ليکم: مانا دليکنې ژبه مې پښتو ده.

پر پښتو ژبه مقاله ليکم: مانا دپښتو ژبې په باب ليکنه کوم.

که چېرې موږ د (په) او (پر) دقيقې کارونې ته پام ونه کړو، نو ددغو دووجملو مانيز توپير به راته څرګند نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فرهنګي کار قرباني غواړي

دا ليکنه د هيلې مجلې د ۱۳۷۶ ل کال په ٦مه ګڼه کې خپره شوې ده.

زموږ په ټولنه کې د هر هغه کار چې د ټولنيزو ګټو په انډول يې ځاني ګټه کمه وي، تر سره کول ګران دي، خو ځوک چې د دې ډول هڅو بري ته اوږه ورکوي، نو ځان يې بايد د زغم او يو ډول بلهارۍ (قربانۍ) په وسيله سمبال کړی وي.

ددې ډول هڅو او کارونو په منځ کې يو هم فرهنګي او يا پوهنيز کار دی، چې تر اوسه پورې لا زموږ په ټولنه کې د ژوند د خړوب او هوساينې پر لومړنۍ وسيلې نه دی اوښتی. بېلابېل لاملونه ددې سبب شوي چې د فرهنګي کار، د فرهنګيانو د هڅو او د پوهنيزو چارو د ارزښت د لوړاوي مخه ډب کړي. په دې ترڅ کې نو بيا د پښتو فرهنګ او پښتنو فرهنګيانو برخه ډېره خواره ده. له ځينو استثنايي حالاتو پرته داسې کمې بېلګې به پيدا شي، چې کوم ټولواک، نيمواک او هم چارواکي د کوم پښتون ليکوال او قلموال ملا د شاباس او آفرين په لاس ټپولې وي او د ژوند ناوخوالې او د زمانې ګردونه يې ترې څنډلي وي. بلکې زموږ فرهنګي برخليک همداسې راغلی، چې د چا له هڅونې او پالنې پرته به خپل فرهنګي يون په خپله پر مخ بيايو، خپله به خوله تويوو او خپله به يې وچوو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو کاشکې چې یوازې همداسې وای او زموږ لیکوالو د چا له مننې او ستاینې پرته د فرهنګي ارمان پر لوري یون کولای، خو خبره داسې نه ده. دلته زموږ فرهنګیان خپل فرهنګ ته د خپل ځاني زیار، مینې او ولولې په نوم دډېرو جرمونو او تورونو په جېل کې راښکېل کېږي او کله لاخبره دې ته هم ورسېږي چې ستر الهي نعمت (ژوند) یې هم د زورواکو د برچې له اور سره مخامخ شي. زموږ قلموال پر یوه وخت په دوو جبهو کې د مبارزې له چلېنج سره مخامخ دي: یوه هغه جبهه ده چې لیکوال او فرهنګي د خپل هېوادني فرهنګ او ژبې د پرمختګ لپاره د خپلې ولولې او مینې په ځواک جوړه کړې او له کومې مادي ګټې پرته د خپل ژوند خواږه په همدې لاره کې بلهاري کوي او دویم د مقابل لوري هغه یرغلیزه جبهه ده چې ډېر مادي او مانیز ملاتړ یې تر شا ولاړ دی او د فرهنګي ښکېلاک او زېښناک په زرګونو چلونه او توطیې ور سره مل دي. دوی له خپلو ټولو وسایلو سره زموږ د فرهنګیانو د قلم او فکر د خولو پر جوړو شویو ماڼیو یرغل کوي او کله چې یې زموږ فرهنګیان د ژوند له ساز و سامان پرته د مینې او قلم په ولوله او دقربانۍ په جذبه د مقابلې میدان ته ور ودانګي بیا نو پر ډول ډول تورونو تورنېږي. له بده مرغه چې زموږ د ولس ذهني کچه هم تر ډېره حده داسې ساتل شوې، چې پر ژوند یې ترې د خپلو مینه وړو قدر اخیستل شوی دی، ځکه خو علامه سید جما ل الدین افغان زموږ ټولنه د هغو ټولنو په منځ کې ودرولې چې لیکوال یې پر ژوند مړ او پر مړینې ژوندی دی. زموږ په ټولنه کې ډېرې داسې پېښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي او کېږي چې د نړۍ په فرهنګي تاریخ کې داسې بېلګې ډېرې کمې دي. محمد ګل نوري د پښتو د ولسي ادبیاتو او پښتنې فلکور یو لوی خدمتګار دی، یو وخت د ژوند ناخوالو دومره تنګ کړ چې د کندهار په ښار کې د یوې کټوې مستو خرڅون ته کېناست، خو د هغه تر مړینې وروسته د هغه په یاد غونډې وشوې.
د مرحوم استاد بېنوا مړی ځکه مساپر شو، چې د هغه وخت حکومت هغې الوتکې ته اجازه ورنه کړه، چې د هغه مړی کابل ته یوسي، خو څو کاله وروسته یې د هغه په باب یو ډېر شانداره سیمینار جوړ کړ. له دې څخه ښکاري چې زموږ ټولنه او چارواکي د فرهنګیانو د پوهنیز کار له ارزښته وروسته خبرېږي. دا خبره په دې مانا نه ده چې زموږ ولس له خپلو فرهنګیانو سره مینه او خواخوږي نه لري، بلکې خبره داده چې تر ډېره بریده هڅه شوې، چې زموږ پر ولس د نالوستۍ داسې سیوری خور شي، چې د ولس د ذهن او لید سترګو نه توري تیارې تاوې شي، نه یوازې دا چې خپل خدمتګاران ونه پېژني، بلکې خپل ځان هم ونه پېژني او د ذهن زیاته برخه یې هغه چا ته متوجه وي، چې د دوی د ذهني ښکېلاک هیله لري او د استاد الفت په وینا دې ته ورسي چې رښتیا هم «موږ خپل خدمتګاران نه پېژنو خو باداران ښه پېژنو» همدغه ستونزې دي چې زموږ فرهنګي بهیر یې وخت پر وخت ټکنی کړی دی. یو زیات شمېر تکړه لیکوالو او فرهنګیانو ښه په زغرده تر یوه بریده په ډېره ګرمه ولوله فرهنګي هڅې او خدمتونه کړي، خو بیا د زمانې ناخوالو او یادو لاملونو داسې ځپلي چې نه یوازې یې فرهنګي کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

سست شوی، بلکې په ټپه ودرېدلای هم دی او لیکوال هم د نهیلیو او د ژوند له ستړیاوو سره مخامخ شوی دی. کله کله لاداسې هم شوي چې لیکوال پر خپل تېر فرهنګي او علمي کار پښېماني ښکاره کړې او دايې ویلي چې کاش له دې څخه خو مې یو بل کار کړی وای، ژوند خو به مې جوړ شوی و. همدغو ترخو ناخوالو زموږ د یو زیات شمېر فرهنګیانو ژوند له رواني ناروغیو او مایوسیو سره مخامخ کړی دی. د پورتنیو ټکو له یادون څخه زما موخه همدا ده، چې پښتني فرهنګ ته کار کول دا ټولې ستونزې او کړاوونه لري. هغه ځوان لیکوال او فرهنګیان چې په ګرمه ولوله د خپل فرهنګ د خدمت لپاره د مبارزې ډګر ته را دانګي که داسې فکر وکړي چې هلته د هېڅ ډول ګټو، امتیاز او نورو هوساینو د شتوالي تصور موجود نه دی او یوازې د قربانۍ په روحیه یې ذهن، قلم او روح وینځلی وي، نو بیا که زموږ فرهنګیان له هرڅومره ستونزو سره مخامخ شي، نه یوازې دا چې فریاد به نه کوي، روحي ستونزې به نه لري، بلکې د خپل فرهنګ د خدمت په لاره کې به له ځورېدلو او کړېدلو هم خوند اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دخدای پامانی ګیله

دا لیکنه د مرحوم ننګیال د مړینې د خبر له اورېدو سره سم لیکل شوې وه او همغه مهال په هیله مجله کې چاپ شوې ده.

ته بیا تر موږ دمخه شوې، تا بیا د ژوند دبدرنګۍ پرمخ څپېړه ورکړه، ته بیا له خپل هنر سره د وړانګو ښار ته لاړې، ته لکه چې له تیارو څخه ډېر په تنګ شوې، که څنګه؟ ته خو له هرې تیارې سره عادت وې، ډول ډول تیارې دې لیدلې وې، سرې، شنې، تورې او سپینې تیارې. هرې یوې ستا د زړه د هنر د ملکې وزرونه تړل، خو ته همغسې سرزوری وې، له هرې یوې سره دې د خپل هنر الهه جنګوله، ځان دې د اورونو په بټۍ کې کړاوه، خو سر دې نه ټیټاوه، ته هماغه ((پښتون وې چې سرټیټی دې... ته هم نه و زده.))

خو ته په یوه پټ راز پوه وې، همدا یوه خبره دې له موږه پټه کړې وه، همدغه یو راز دې موږ ته ناویلی پرېښوده، تا ژوند پېژندلی و، خو موږ ته دې نه وو ویلي، ځکه دې نو د سترګو په رپ کې د ابدیت جام پر سر واړوه، او موږ دې د بد رنګ ژوند د دېوال تر شا پرېښودو، خو موږ هم یوه ګیله لرو، هغه دا چې تا خدای پاماني ونه کړه او لاړې، ځکه هر څوک چې له یوې ډلې بېلېږي، نو خدای پاماني اخلي او بیا ځي. که ستا دا کار په دې نیت وي چې ته تل له

(c) ketabton.com: The Digital Library

موري سره حاضر يې او زموږ پر ذهن پاچاهي کوي، نو بيا خو درسته ده، خو که داسې وي، چې تا هلته د نور او ښکلا سمندر ته ځان ورسوه او د خپلو هغو دوو مليونو ستورو په کتار کې ودرېدې چې د بېلابېلو تيارو ښامارانو يې د ژوند د ښکلا دېوالونه رنګ کړي دي، نو بيا خو موږ هم ځانته د ګيلو او مانو حق ورکوو.

ته خو په هره خبره کې د غيرت پر سپين آس سور وې او د هر امتياز پر وخت دې بل ځوک تر ځان دمخه کاوه، نو دا ځل ولې؟ لکه چې ابدي سفر ډېر خوندور دی، که څنګه چې يوازې د خپلو ارمانونو پر دلدل سور او پرمخ لاړې؟

دلته خو اوس هم ډېرې لوبې روانې دي، ايا له دې لوبو نه ستړی شوې؟ که زړه دې تنګ شو او که نور دې د خپل شعر په رڼه هنداره کې د هغو انځورونه د خپل احساس او عاطفې کړېدنه ګڼله؟ ته خو حساس وې، ستا پوټکی خو ډېر نازک و او چېرته لرې به چې ستا د وطن د غرونو په څوکه کې هم پر کومه څېرې اور ولګېد، نو دلته به ستا له ګوګله دودونه پورته شول او کله چې به ستا ليلی (پښتو) ته چا تروې وکتل، نو څنګه به دربانديې تبه راغله، څنګه به دې لاسونه ورپېږدېدل، څنګه به تک سور شوې، څنګه به دې ژر قلم پر کاغذ کېښود او د احساس او ولولو مرغلرې به دې وشيندلې.

دا ټولې خبرې به پر ځای پرېږدو، زه اوس خپل غم ژاړم، تا ته چې څومره کوز ګوری يم، هغه لاڅه کوې، اوس به زه لغمان ته په کومو سترګو ځم؟ زموږ د کور لاره خو ستاسو پر کور تېرېږي، مخکې خو زه د موټر ښي خوا ته کېناستلم، چې ستاسو د کور د شنو ونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننداره وکړم، او ستا په شتوالي زړه ډاډه کړم، اوس به نو زه له شرمه هم د موټر کينې خواته کېنم، او له شرمه به ستا له کوره مخ اړوم، ما خو تا ته ويلي وو، چې زه او ته نږدې سيمه وال يو، زما جنازه به ستا پر اوږو او ستا به زما پر اوږو کلي ته ځي، اوس نو کومه ده؟ ما خو ستا جنازې ته اوږه ور نه کړه، مور اوس هم خپل وطن کې مسافر او خپل وطن کې بې وطنه يو، ستا په زړه کې به هم دا خبره تېرېږي، چې زه ډېر دروغجن يم او ماتاته دروغ ويلي وو، کېدی شي ددې غچ رانه هغه وخت واخلې، چې زه هم څو ورځې وروسته ستاسو نوي او لوی کلي ته درشم او هلته رانه مخ واړوې او راته ووايې چې هلته دې را سره څه وکړل چې اوس لادلته راپسې راغلې! خو زه ګوره هم چوپه خوله پاتې کېدی نه شم، که نور څه ونه وايم، نو دومره خو وايم چې ته خو ښه وې، ځان دې له غمونو بې غمه کړ، تا خو ماته ويلي وو، چې دلته به ټول غمونه سره وېشو، تا نو ولې ټول غمونه يوازې ماته پرېښودل او ځانله دې ابدي سفر غوره کړ.

ته خو پر هره خبره تېنګ ولاړ وې، نه دې د سياسي تربور ځواب پرېښوده، نه دې د فرهنګي او نه دې د کورني او کليوال.

ياد خو به دې وي، چې هغه ورځ مور څو تنه ستاسو د کور ترڅنګ تېرېدو او تا په وچ زور خپل کور ته ستانه کړو. زموږ په ډېر ټينګار سره دې تربور راته بانه کړ، چې د يو پښتون له کوره مېلمه تېرېدل پوهېږې څه مانا لري؟ زه به خپل تربور ته څه وايم؟ مور خو هغه شپه تا سره پاتې شوو او ستا شمله نوره هم په تربورانو کې لوړه شوه. خو ته ګوره بيا غلی او موسکی شوې او له همغې ورځې دې ځان غلی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه اوږده سفر تکل دې پیل کړ. ته خو ښه پوه وې، چې ستا د ژبې او وطن ځومره تربوران ستا د شعر الهې ترور ته کابو ناست دي، نو مور دې، دې لېوانو ته یوازې پرېښودو؟ ایا هغه ته نه وې چې د اور او وینو په څلور نیمو کلونو کې دې د زخمي کابل په زړه کې د فرهنګي مینې د رباب تارونه ترنګول، کله چې همدې رباب ته مور خپلې څنې غوږې کړې، په ولولو او شور راغلو، بیا نو تا خپل سفر پیل کړ. دامنم چې تا د ېرې فرهنګي تورې وهلې چې ځلا یې تر د ېره وخته ستا فرهنګي ویاړونه ژوندي ساتلای شي، خو مور د خپلې مینې د هغې ماتې ښېرې په غم کې یو، چې تا غوندې یو ماڼو یې ساحل ته د رسولو جوګه و.

ته کېدی شي بیا له ځان سره موسکی شې او ووایې چې دوی ژوندي مړي دي، هسې د ژوند په یوه لوی زندان کې ګرځي، څېرې یې د مړو دي، خو خبرې د ژوند یو کوي، خو له دې نه خبر نه دي چې ژوند چېرته دی؟

ته خو زمور د ژوند په رنګ ښه خبر یې، نو ځکه به مو د ېر نه ګرموې، خو زه بیا خپله ګیله راغبرګوم، ته نو ولې له موږه پټ او بې له خدای پاماني لاړې؟ ته کېدی شي بیا موسکی شې او ووایې چې ته لاتر اوسه د مرګ په خوند خبر نه یې، د مرګ پرښتې د باد په شان دي، هغه خو څه رنګ نه لري، چې څوک یې ووینې او چاته خبر ورکړي، دا دوه ملیونو نورو دې کله خدای پاماني واخیسته چې ما اخیستې وای؟ خو په دې خبرو له ما نه ځان خلاصولای نه شې، زه خو پوهېږم چې ته څوک وې او څه شی دې لیدلای شول او څه نه؟ ایاته

(c) ketabton.com: The Digital Library

همغه ځوک نه وي چې د «مرغانو په هګیو کې دي د هغو پروازونه لیدل» ایا ته همغه ځوک نه وي چې له هیلیو، ځېرېو او ښبترو سره دې خبرې کولې، تا خو د مرګ پرښتو سره د مخه د مینې او پیوستون تار تړلی و، خو دا راز دې مور ته نه وایه، نو ځکه زه ګیله من یم، که ته هر څه ووایې، چې نه داسې نه ده، زه یې ناڅاپي بللای یم، او ما د خدای پامانې وخت پیدا نه کړ، نو زه بیا وایم چې دا خبره نو د چا ده:؟

یو باد را لګېدلی ما له ځانه سره وړي
د زړه آس مې له باره له ارمانه سره وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په پښتو کې د (یاګانو) سمه کارونه او اړتیا

د پښتو (یاګانو) د سمې کارونې په اړه زما دا لیکنه د هیلې مجلې د ۱۳۷۶ل کال په (٤) ګڼه کې چاپ شوې ده، وروسته مې په دې لیکنه کې څه نورې زیاتونې هم وکړې، چې دادی دلته یې تاسو ته وړاندې کوم.

په پښتو ژبه کې (ی) ګانې د شکل یا بڼې له پلوه پر پنځه ډوله دي چې پخوا د پښتو ژبپوهانو او لیکپوهانو له خوا دا شکلونه غوره شوي او که په اویایمو کلونو کې د باره ګلۍ د سیمینار پرېکړه ورسره یوځای کړو، نو دا شمېر اوس شپږو شکلونو ته رسېږي، دا پنځه یا شپږ شکلونه په حقیقت کې د څلورو بېلابېلو اوازونو ښکارندویي یا استازي کوي، چې دوه یې خپلواک غږونه یا واولونه دي او نور یې د ژبپوهنې د یوې دودیزې نومونې یا اصطلاح له مخې غبرګغږونه یا دیفتونګونه دي.

دپښتو (ی) ګانو دا څلور اوازونه په حقیقت کې څلور مختلف غږونه دي، چې د پنځو نږدې همشکله ګرافیمونو په بڼه افاده کېږي، له همدې کبله دا مختلف او بېلابېل اوازونه په دودیز ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوه ګرافیم (ی ګانو) په نامه یادېږي، که په پیل کې دپښتو غږونو لپاره دلیکنښو یا ګرافیمونو د ایښودلو پرمهال دې څلورو بېلابېلو اوازونو ته بېل بېل شکلونه غوره شوي وای، نو نن به د پښتو (یاګانو) په لیکنۍ او ګړنۍ برخه کې هغه ستونزه او ناسم پوهاوی نه رامنځته کېده، چې اوس کله کله په دې برخه کې پېښېږي، خو له دې سره سره پښتو ژبپوهانو او لیکپوهانو هڅه کړې، چې د ټکو او ځینو نښو په زیاتون سره ددې اوازونو د افادې په بڼه کې اسانتیا راولي او دپښتو لیک لوستنه اسانه کړي.

د یادونې وړ ده چې د پښتو (۸) واولونو له جملې څخه دوه یې همدا یاګانې دي، چې د کارونې خورا زیات ځایونه او اړخونه لري. له واول پرته طبعاً کلمه هډو جوړېدی نه شي، نو ځکه که موږ دا دوه واولونه (ي = i) او (ې = e) محاسبه کړو، نو دپښتو کلمو په سلو کې تر پنځه ویشتو زیاته برخه جوړوي، ددې واولونو ارزښت په دې کې دی چې نه یوازې د نوم یا فعل په اصلي بڼه کې راځي، بلکې په مغیره حالت کې هم راځي او دپښتو ژبې دګرامر یوه ځانګړتیا یا د ژبني سکښت یو خصوصیت دادی چې فعل، نوم، صفت یا قید پر خپل اصلي حالت سربېره دویم یا مغیره حالت هم لري او د جمعې هم، نو دا دوه واولونه یا (ی ګانې) دکلمو په دغسې اوښتون کې اساسي نقش لري. سربېره پر دې زورکي واله او همزه واله یا (ۍ = ئ) او نرمه یا نرینه (ی) هم دپښتو کلمو په جوړونه کې ډېر نقش لري، نو دا ټول چې سره یوځای شي دا د پښتو کلمو یوه ډېره درنه او غوښنه برخه جوړوي. که چېرې دهغو د ټاکل شویو شکلونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

واسطه دهغو د اوازونو سمه افاده او لیکنې ښه ترسره نه شي او یا یوه د بلې پرځای وکارول شي، نو یقیني خبره ده، چې دپښتو متن په افاده او لوستنه کې به ډېرې ستونزې رامنځته شي .

زه دلته غواړم لومړی دپښتو دمروجو پنځه واړو یاګانو دسمې کارونې ځایونه په ګوته کړم او بیا وروسته د (ی ګانو) په اړه خپل یو نظر او وړاندیز راوړم .

**۱- نرمه، زورواله یا نرینه (ی** = ay) :

دې (ی) ته نرمه، لنډه، زورواله یا نرینه (ی) وایي او د ژبپوهنې له معمول تعریف سره سم یو غبرګغږ یا دیفتونګ ګڼل کېږي، چې له یو خپلواک اواز (a) او یو نیمه خپلواک غږ (y) څخه رغېدلی دی. سره له دې چې یو شمېر اوسني ژبپوهان د دیفتونګ له معمول تعریف سره موافق نه دي او هر یو، یو بېل اواز ګڼي، په هر ترتیب نرمه یا نرینه (ی) له همدغو دوو اوازونو څخه رغېدلې ده او دیوې څپې په شان یو ځل له خولې څخه راوځي. ددې (ی) دکارونې ځایونه په دې ډول دي :

الف – دمفردو مذکرو نومونو په پای کې راځي لکه :

سړی، منګی، لړګی، زمری، ډانګی، فرنګی او داسې نور...

کېدی شي دا نومونه حقیقي مذکر وي یا لفظي .

ب – په ځینو نسبتي صفتونو یا ستاینومونو کې هم راځي لکه:

توریالی، تنګیالی، زمریالی، بریالی او نور...

ج – په هغو فعلونو کې هم راځي، چې دمفرد مذکر نوم لپاره ګردان شوي یا اوښتي وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه: احمد ډېر څورېدلی دی، محمود ډېر کرېدلی دی، لاس مې سوزېدلی دی .

د – د ځینو امکاني فعلونو په پای کې هم راځي. لکه :

زړه مې په ښو خبرو رغېدلای شي، استاد د زده کوونکو په ښو اخلاقو خوشالېدلای شي .

وطن په کارونو اباد ېدلای شي، ځمکه د بزګر په هڅو زرغونېدلای شي .

**۲- څرګنده یا معروفه (ي = i) :**

دا (ي) په پښتو کې یو خپلواک غږ (واول) دی، چې په پښتو متن کې ډېره زیاته کارول کېږي، د کارونې ځینې مهم ځایونه یې په دې ډول دي :

الف – دهغو مفردو مذکرو یا نارینه نومونو دجمعې لپاره راځي چې په نرینه (ی) پای ته رسېدلي وي، لکه :

| مفرد | جمع |
|---|---|
| سړی | سړي |
| زمری | زمري |
| غویی | غويي |
| منګی | منګي |
| لړګی | لړګي |

او داسې نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب – دهغو مفردو مذکرو نومونو دمغیره یا دویم حالت لپاره راځي چې په نرینه (ی) پای ته رسېدلي وي لکه :

| (اصلي حالت) | (مغیره یا دویم حالت) |
|---|---|
| (سړی) کار کوي | (سړي) کار وکړ |
| (بریالی) درس لولي | (بریالي) درس ولوست |
| (زمری) د ځنګله پاچا دی | له (زمري) څخه نور حیوانات وېرېږي. |

ج – د نسبتي صفتونو یا نسبتي نومونو په پای کې هم راځي، لکه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| خوشال | خوشالي | رحیم | رحیمي |
| خوښ | خوښي | کریم | کریمي |
| سوکال | سوکالي | ابراهیم | ابراهیمي |
| هوسا | هوسایي | | |
| اونور... | | | |

د – په یو شمېر کسبي نومونو کې چې د یوې پېشې یا کسب ښکارندویي کوي، هم کارول کېږي، لکه:
ډولچي، سورنچي، توپچي، موچي، دوبي، جارچي او نور...

هـ - په یو شمېر فعلونو، په تېره بیا د حال زمانې په فعلونو کې هم استعمالېږي.
لکه: ځي، راځي، خوري، کړي، ښې، وړي، لولي، ناڅي، پاڅي او نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳- اوږده، مجهوله یا ښځینه (ې = e):**

دا (ې) هم یو خپلواک اواز (واول) دی، چې په پښتو کلمو په تېره بیا په ښځینه نومونو کې زیاته کارول کېږي. د کارونې ځینې مهم ځایونه به یې دلته په ګوته کړو:

الف – دا ښځینه (ې) د هغو مفردو مونثو نومونو د جمعې لپاره کارول کېږي، چې په ګرده (ه) یا زور (a) پای ته رسېدلي وي. لکه :

| مفرد | جمع |
|---|---|
| ډیوه | ډیوې |
| ښځه | ښځې |
| پاڼه | پاڼې |
| مڼه | مڼې |
| زرکه | زرکې او داسې نور... |

ب – د هغو مفردو مونثو نومونو د مغیره یا دویم حالت لپاره راځي چې په همدې ګرده (ه) یا زور (a) پایته رسېدلي وي. لکه :

| اصلي حالت | مغیره حالت |
|---|---|
| (ډیوه) رڼا کوي | د (ډیوې) رڼا تته ده. |
| (ښځهٔ) د ژوند نیمه برخه ده. | بې له (ښځې) ژوندون ګران دی. |
| (پاڼه) ورژېده | د توت (پاڼې) رنګ مې خوښېږي. |
| (پلوشه) درس لولي | (پلوشې) درس ولوست. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج – دهغو ښځینه صفتونو دجمعې او مغیره حالت لپاره هم راځي چې په ګرده (ه) یا زور (a) پایته رسېدلي وي. لکه :

| مفرد او اصلي حالت | مغیر او د جمعې حالت |
|---|---|
| (ښه ښځه) | (ښې ښځې) |
| (ښه ښځه) ښه خوی لري | (د ښې ښځې) په ښه خوی وي |
| (سره ډیوه) | (سرې ډیوې) |

د – په هغو نسبتي صفتونو او فعلونو کې هم کارول کېږي، چې د ښځینه نومونو لپاره کارول شوي او یا ګردان شوي وي،لکه :

له (بدې ورځې) ژاړم ( د ښې ورځې) خاوند شه
(نجونې ژړېدلې) (خوېندې خندېدلې)
(تورې نڅېدلې) (وراوې تېرېدلې او داسې نور...

هـ - په ښځینه ضمیرونو او مفردو حقیقي مونثو نومونو کې هم کارول کېږي لکه:

دې، هغې، ناوې، ادې، خواښې او نور...

ددې (ې) یو بله ښه ځانګړنه په دې کې ده، چې دکلمو په منځ کې هم خپل هویت ساتلای شي او ان که څوک وغواړي په دقیق ډول یې استعمال کړي، دکلمې په سر کې هم خپل هویت ساتلای شي لکه:

(تېر) دپخوا تېر شوی او (تیر) د دستک او لرګي په مانا
(پېر) دمهال په مانا او (پیر) دلارښود یا مرشد په مانا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴- زورکي واله (ې = ə y)**

زورکې واله (ې = ə y) د ژبپوهنې د همغو معمولو تعریفونو له مخې یو غبرګغږ دی، یانې له دوو اوازونو څخه رغېدلې ده، چې یو زورکی (ə) دی او بل (y) دی چې یو یې خپلواک (ə) دی او بل یې (y) نیمه خپلواک یا سیمي واول. په پښتو اوسنۍ الفبې کې د زورکي (ə) او زور (a) تفاوت نه لیدل کېږي او دواړه په دې بڼه (ه) لیکي، خو فکر د باړه ګلۍ په سیمینار کې د زور او زورکي لپاره (ه او ۀ) نښې منل شوي دي او دا یو ښه وړاندیز دی. او بل یې (y) نیمه خپلواک غږ دی، د استعمال ځایونه یې په دې ډول دي :

الف – په پښتو مفردو مونثو نومونو کې راځي، کېدی شي دا نومونه یا حقیقي مونث وي یا نا حقیقي، خو په لفظي ډول پرې د مونث اطلاق کېږي. لکه :

ځولۍ ، زمرۍ ، نړۍ ، ګلالۍ ، ډوډۍ ، څوکۍ ، او داسې نور...

ب – د ځینو هغو نسبتي صفتونو د جمعې او مغیره حالت لپاره راځي، چې په څرګنده (ي) پایته رسېدلي وي. لکه :

| اصلي حالت | جمع یا مفرد |
| --- | --- |
| خوښي | خوښې |
| تربګني | تربګنې |
| دوستي | دوستې |
| خوشالي | خوشالې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا به په یوه مثال کې هم واضح کړو :

| (اصلي حالت) | (مغیره حالت) |
|---|---|
| د احمد او محمود ترمنځ دوستي ده . | د احمد او محمود د دوستۍ مزه نه شته . |
| **مفرد** | **جمع** |
| نن دې په کاله کې خوشالي ده | خدای(ج) دې دې وطن ته ډېرې خوشالۍ راولي. |

**۵- همزه واله ئ** (əy) :

دا هم یو غبرګغږ دی او له زورکي والې (ې) سره یې په سکښت، جوړښت او تلفظ کې هېڅ تفاوت نه شته، یانې دا غږونه په حقیقت کې دیوې ځپې په شان یو ځل له خولې څخه راوځي. پښتو لیکپوهانو د زورکي والې (ې) او همزه والې (ئ) د بېلتون نښه او ضرورت همدا ګڼلی چې یوه په نومونو او بله په فعلونو کې راځي. زه به دلته د پښتو لیکپوهانو له خوا د همزه واله (ئ) د اوسني دود یز استعمال ځایونه په ګوته کړم:

الف – همزه واله (ئ) اکثره د امر او نهې فعلونو په پای کې راځي لکه: کېنئ، پاڅئ، وخورئ، مه خورئ، لاړشئ، مه ځئ او نور...

ب – د ځینو سوالیه جملو په پای کې هم راځي البته دلته هم فعلي حالت ځرګندوي لکه: تاسو ښوونځي ته راځئ، تاسو درس لولئ، په علمي غونډو کې برخه اخلئ او داسې نور...

د یادونې وړ ده چې همزه واله (ئ)، زورکي واله (ې) او نرمه یا نرینه (ی) د کلمو په منځ کې خپل هویت ساتلای نه شي او ځای یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرګندې (ي) شکل نیسي، یوازې د کلمو په پای کې دا (ی) ګانې د شکل له پلوه خپل هویت ساتلی شي.

لکه: نرۍ + وال = نریوال   یا کلی + وال = کلیوال

اوس د پښتو (ی) ګانو په اړه خپل نظر او وړاندیز وړاندې کوم:

**لومړی د نومونو په اړه:** پښتو (ی) ګانې طبعاً د بېلابېلو اوازونو ښکارندویي کوي، لکه څنګه چې هر اواز خپل یو بېل او واحد نوم لري، نو په کار ده چې د هغه ګرافیم یا شکل هم یو واحد او له اواز سره منطبق یو نوم ولري، لکه څنګه چې موږ په خپله نوره ابېڅې (الفبې) کې د هر اواز لپاره د ګرافیم یو مشخص نوم لرو او هېڅ ستونزه په کې نه وینو، نو د دلته هم باید د نومونو د یو والي له لارې دا ستونزه حل شي. په دې برخه کې زما مشخص وړاندیز دا دی چې:

(ی = ay) ته دې نرینه (ی) وویل شي، ځکه چې دا د هغې د کارونې له ځایونو او مانا سره پوره پوره مطابقت کوي، په هر ځای کې چې دا (ی) کارول کېږي، فعل وي که صفت او یا که نوم وي، د هغو ټولو خصلت به نارینه وي یا به لفظاً او یا به هم د مانا له پلوه د نارینه ځانګړتیا ترې څرګنده شي، نو د (لنډې) یا (نرمې) (ی) دوه نور نومونه دې ترې حذف شي، ځکه چې له مانا سره یې اړخ نه لګوي، زور واله (ی) یې هم له نامه سره مانیز اړخ لګوي، ځکه چې له زور (a) او سیمي واول (y) څخه جوړه شوې ده. خو نرینه (ی) ورسره تر ټولو زیات اړخ لګوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ې = e): لکه څنګه چې (ی= ay) د نارینه نومونو، صفتونو او فعلونو لپاره راځي، دغسې (ې = e) د مونثو نومونو، صفتونو او فعلونو لپاره راځي، نو په کار ده چې ښځینه (ې) ورته وویل شي، چې له مانا سره یې مطابقت پیدا شي. د مجهولې یا اوږدې (ې) اصطلاحګانې ځکه سمې نه برېښي، چې د (مجهولې) اصطلاح موږ ته مجهوله نه ده او کېدی شي د عربي ژبې او دري ژبې ویونکو ته دا (ې) مجهوله وي او همغه تعبیر دلته سرایت کړی وي، نو کوم شی چې موږ ته مجهول نه وي، ولې د مجهول نوم پرې کېږدو؟

د یوه واول اوږد او لنډ تلفظ کول په مانا کې کوم تغیر نه راولي نو ځکه دا اصطلاح یا نوم هم له مانا سره اړخ نه لګوي، نو که دې (ې) ته همغه (ښځینه ې) نوم ورکړل شي دا کار به د هغې له مانا سره مطابقت پیدا کړي.

د څرګندې یا معروفې (ي = i) نومونه دومره بده نه برېښي، ځکه پښتنو او نا پښتنو ټولو ته څرګنده ده او نور نومونه هم نه لري، نو ځکه که همدا نوم غوره شي، څه ستونزه نه شي راولاړولای.

د زورکي والې او همزه والې (ی، ئ) په باب زما نظر دادی چې دا دواړه په حقیقت کې یو اواز دی او یا د یوه غږ دوه شکلونه دي. موږ په نورو ځایونو کې د پښتو الفبې په برخه کې په واقعیت کې د اوازونو لپاره شکلونه نه لرو او موږ د اوازونو باقي یا پوروړي یو، لکه د زورکي (ə ) لپاره هم تراوسه پورې د (ه) شکل او د زور (a) لپاره هم دا (ه) شکل کاروو، سره له دې چې د باره ګلۍ سیمینار د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زورکي لپاره (ۀ) شکل غوره کړ، خو تراوسه لاپوره دود شوی نه دی او هم د (u) او (ه) دوو اوازونو لپاره یو شکل (و) لرو، خو دلته بیا د یوه اواز (əy) لپاره دوه شکله لرو: (ۍ = ئ). ژبپوهانو او لیکپوهانو دهمزه والې (ئ) د ضرورت وجه (فعلي افاده) ګڼلې، نو که د فعل، نوم او صفت د تثبیت لپاره موږ د اوازونو شکلونه بدلوو، نو بیا خو هغه نورې (ی) ګانې هم په فعلونو، صفتونو او نومونو کې راځي، نو هغو ته مو ولې بېلابېل شکلونه غوره نه کړل له:

ی = سړی (نوم)، بریالی (ستاینوم)، کړېدلی دی (فعل)

ي = سړي (نوم)، تنګیالي (توصیفي یا ستاینوم)، خوري، ځي (فعل)

ې = ناوې (نوم) تودې/ سړې (صفت)، خندېدلې، ګرځېدلې (فعل)

نو دلته ولې دا (ی) ګانې دمحتوا له مخې پر نورو شکلونو ونه وېشل شوې؟ زورکي واله او همزه واله (ۍ،ئ) په حقیقت کې د یوه اواز ښکارندویي کوي او د یوه اواز د تثبیت لپاره یوازې یوه ګرافیم یا توري ته اړتیا ده او بس. د یوه غږ لپاره د بېلابېلو تورو شتوالی دا مانا ورکوي، چې موږ د یوې ژبې لپاره په یوه واحد لیکدود کې څو الفبې ولرو او دا کار د ژبې زده کړه او دتدریس چارې سختوي. نو زما وړاندیز دادی، چې همزه والې (ئ) ته هېڅ اړتیا نه شته او دا پر ژبه یو زیاتي بار دی او ګټه نه لري، باید له پښتو الفبې څخه حذف شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د باړه ګلۍ په سیمینار کې چې یوه بله ی (ے) شکل په اختیاري ډول منل شوی، هغې ته هم هېڅ اړتیا نه شته او دا پر پښتو ژبه د اردو ژبې د اغېز ښکارندویي کوي او د استعمال ځایونه یې په نورو (یا) ګانو افاده کېدی شي .

پښتو لوستونکو ته مې د یاګانو دزده کړې په برخه کې وړاندیز دادی، چې د یاګانو دنومونو د زده کړې پرځای د یاګانو دتلفظ او دهغو د استعمال ځایونو ته زیاته پاملرنه وکړي، نومونه (اصطلاح) کېدی شي دسړي له یاده ووځي، خو د یاګانو دقیق تلفظ او په حافظه کې دهغو د شکل ساتنه د یاګانو له دقیقې کارونې سره مرسته کولای شي. لوستونکي کولای شي، لاندې شعار د یاګانو د استعمال د یوه لنډ فورمول په توګه په پام کې ونیسي او په هره کلمه کې چې ( یا ګانې) کارول شوې وي، د همدې فورمول له مخې یې دتلفظ په پام کې نیولو سره وکاروي: دا فورمول دادی :

**تل دې وي سوله په ټوله نړۍ کې – سره یو شئ دا مو شعار دی.**

پورتني فورمول کې د هرې (ی) شکل او تلفظ په پام کې ونیسئ او په هره کلمه کې چې (ی) کارېدلې وي هغه له دې تلفظ او شکل سره منطبق کړئ، نو کېدی شي په سم ډول یې وکاروئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په لیکوالۍ کې احتیاط

دا لیکنه هم د هیلې مجلې په پاڼو کې خوندي شوې ده.

دژوند په ټولو چارو کې پام او احتیاط ته ډېره اړتیا ده، د ورځني ژوند له ترافیکي پېښو نیولې بیا تر سترو سیاسي پېښو پورې هرې یوې کې احتیاط ډېر ضروري دی. که په ځاني ژوند کې احتیاط ونه شي نو فردي ژوند به تباه شي او که چېرې په ټولنیز او سیاسي ژوند کې احتیاط ونه شي، نو ټولنه او هېواد به له سترو ناورینونو او غمېزو سره مخ شي، په همدې وجه اسلام، نورو اسماني دینونو او ټولنیزو مفکرینو انسان ته د ژوند په ټولو چارو کې د احتیاط سپارښتنه کړې ده.

زموږ دهېواد په سیاسي او ټولنیز ژوندانه کې د بې احتیاطۍ، بې غورۍ، افراط او بې تفاوتۍ نتیجه موږ په خپلو سترګو ولیدله او لا یې ګورو. خو اوس راځو دې ته چې په لیکوالۍ کې احتیاط څه ارزښت، رول او اغېز لري؟

لیکوالي د ټولنیزو چارو دلارښوونې، ځلونې او پرمخیون یوه غوره وسیله ده او لیکوال دټولنې داسې یو اندیال (مفکر) شخص دی چې دټولنې دنورو عادي وګړو په انډول یې د فکراو خیال، احساس، عاطفې او ولولې کچه ډېره اوچته ده، همدارنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکوال دټولنې يو حساس موجود دی، چې په ټولنه کې دهرډول مثبتې او منفي پېښې پر وړاندې چټک غبرګون ښيي. ځينې وايي چې دليکوال د وجود پوټکی ډېر نری او نازك دی، نو ځکه خو دهرعمل پر وړاندې ډېر ژر عکس العمل ښيي، دا خبره په دې مانا نه ده چې ليکوال دټولنيزو پېښو او ناورينونو پر وړاندې دمقاومت تاب نه لري، بلکې خبره دحساسيت او ادراك په ځواك کې ده چې په ليکوال کې دا ځواك ترنورو پياوړی دی. خو کله کله داسې هم پېښېږي، چې ليکوال دخپلو شفافو ولولو او چټك غبرګون تر اغېزو لاندې د افراط او تفريط داسې پړاو ته ورسېږي چې په دواړو حالتونو کې يې د تعادل پولې نړولي او د بيا را ګرځېدنې چانس يې له منځه وړی وي.

دليکوال خبره دعادي وګړو په څېر نه ده چې تر خولې ووځي او بيا د باد په څپو کې ورکه شي. دليکوال خبره نه يوازې ديوې ټولنې دپېښو هنداره ده، بلکې دده خپله تذکره هم ده. لکه څنګه چې ديو شخص دهويت په تذکره کې دده اکثره ځانګړنې په ګوته کېږي. دغسې دليکوال له ليکوالۍ څخه هم دهغه دټولنيز، سياسي، اخلاقي شخصيت او ټولنيز تفکر ټوله مجموعه راڅرګندېږي او د هغه باطني او ظاهري هويت ورڅخه ښکاري. نو ليکوال ته په کار دي چې خبرې يې په تول تللې وي. په کتابي او مطبوعاتي بڼه دليکوال د اند او نظر خپرېدل (توکړو لاړو ) ته ورته وي، چې بېرته نه راپورته کېږي، نو ځکه خو په کې تر حده زيات احتياط په کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ادبي او څېړنيزو ليکنو کې دليکوال تېروتنه دويم ځل خپله ليکوال او د نورو ليکوالو له خوا سمېدی شي، خو په سياسي ليکنو، د ژونديو شخصيتونو او دسياسي ډلو دتائيد او ترديد په باب ليکنې دليکوال خپل فردي مسووليت دی او بل څوك يې دسمون مسووليت پر غاړه نه شي اخيستلای.

يو ليکوال دوست مې يوه ورځ (د طالبانو د واکمنۍ پر مهال) له بهر څخه ماته ټلېفون وکړ، راته يې وويل، چې د طالبانو په باب راته خپل نظر څرګند کړه چې څومره يې وستايو؟ البته دا ليکوال دطالبانو يو اورنی پلوی و، ما ورته وويل: دومره ستاينه يې وکړه چې سبا پښېمانه نه شې، مانا دا چې دتائيد او ترديد، ستاينې او غندنې ترمنځ تعادل ته دې بايد پام وي، داسې نه چې په ستاينه کې دومره وړاندې تللای يې چې دبېرته راګرځېدو پر وخت دې دترديد او غندنې ټول پلونه نړولي وي.

په سياسي او ټولنيزې ليکوالۍ کې بايد ليکوال ځان ته د بېرته راګرځېدو يوه خوندي او ساتندويه لاره او کوڅه هم پرېږدي، چې دخپلې تېرې تائيدونې او ستاينې د پښېمانۍ پر وخت له هغې څخه ګټه پورته کړي، خو که دا لاره نه وي، دليکوال راتلونکی کار ټکنی کېږي او هم دليکوال فکري او اخلاقي شخصيت ته زيان رسي. دی بيا ټولنې ته دکوم کار او پېښې دتائيدونې او ردونې لارښوونې نه شي کولای، ځکه چې خلك ورته وايي چې ستا تېرې ستاينې، تائيدونې او ياهم ردونې ناسمې وختلې نو راتلونکې هم همداسې در وبوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما هغه لیکوال ملګری چې مانه یې د طالبانو دستاینې په باب خپل نظر غوښتی و، تقریباً یو کال وروسته یوځل بیا ماته ټلیفون وکړ او ویې ویل چې ستا مشوره ماته ډېره ګټوره تمامه شوه، ځکه چې ما هغه وخت غوښتل چې ددوی په ستاینه کې ډېر مطالب چاپ کړم او اوس زما نظر ددوی بشپړ مخالف دی او غواړم چې ددوی په غندنه کې یو څو لیکنې خپرې کړم، ما ورته بیا وویل: ګوره په غندنه کې هم افراط ونه کړې، د افراطي غندنې او افراطي ستاینې دواړو نتیجه پښېماني ده، ښه داده چې پر احساساتو واکمن شې؛ ښو ته ښه او بدو ته بد ووایې. بله خبره داده چې پر سیاسي ډلو او ژوندیو سیاسي شخصیتونو ډېر باور په کار نه دی، ځکه چې هغوی خوځنده او متحول دي، ناست نه وي او کار یې لا ختم شوی نه وي، کله چې یو سیاسي ګوند او شخصیت په بشپړ ډول د فعالیت او ازمون له ډګره ووځي بیا دهغو ټول کارونه ارزول کېدی شي. دا په دې مانا نه ده چې څوك دې د واکمن بهیر پر وړاندې غلی کېني او هېڅ دې نه لیکي، لیکوال که ددې پېښو پر وړاندې بې توپیره پاتې شي، نو ټولنې سره به یې غټ خیانت کړی وي، اصلي خبره داده چې د واکمن جریان دمثبتو او منفي پېښو پر وړاندې مثبت او منفي غبرګون ښودل او د نیمګړتیاوو په ګوته کول دلیکوال حق دی که چېرې لیکوال د واکمنو جریانونو د واکمنۍ پر مهال هغو ته خپلې نیمګړتیاوې او دحل لارې په ګوته نه کړي، ولس راویښ نه کړي، نو بیا خو یې خپل مسوولیت نه دی ترسره کړی، کله چې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

واکمن بهیر له منځه لاړ، ترهغه وروسته خو بیا ورته نصیحت کول بې ګټې دي، بیا نو یوازې د هغو دکړنو ارزونه مطرح کېږي. خو دلته زموږ موخه داده چې د واکمن جریان پر وخت باید لیکوال د مثبتو کارونو ستاینه او د منفي هڅو غندنه وکړي او که چېرې جریان داسې وي چې ټول مثبت او یا ټول منفي وي، نو بیا خو یې ستاینه او غندنه هم د همدې معیار او کچې له مخې ده.

په افغانستان کې دمجاهدینو (مختلفو تنظیمونو) د واکمنۍ پر مهال یو لیکوال چې نه غواړم دلته یې نوم یاد کړم راته وویل، چې له (....) شخه چې هغه هم لیکوال و او هم یې یو کمپیوټر لاره او کتابونه به یې کمپوزول، سخته ګیله وکړه، دې لیکوال وویل چې زه له هغه شخه سخت خوابدی یم، ما هغه ته د کمپوز لپاره دخپلو شعرونو مجموعه ورکړه، هغه خو اول زما شعري ټولګه ډېره وځنډوله او تر ډېر ځنډ وروسته یې رانه ډېرې پیسې وغوښتې چې د بازار تر نرخه هم ډېرې زیاتې دي، ما همدومره پیسې لرلې چې هغه ته مې دکمپوز لګښت کې ورکړې او چاپ ته څه پاتې نه شوې، نو ځکه دادی زما مجموعه وځنډېدله. کله چې طالبان واك ته ورسېدل ترهغه وروسته مې دا شاعر او لیکوال بیا مخې ته راغی، ما ترې دشعري مجموعې پوښتنه وکړه، ده راته وویل کور دې دهغه لیکوال کمپوزر ملګري ودان وي، چې له ما څخه یې ډېرې پیسې واخیستې او چاپ ته راسره څه پاتې نه شول که زما هغه مجموعه چاپ شوې وای، نو اوس به طالبانو له پوزې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوړند کړی وم، ما ویل ولې دطالبانو نو ستا پر شعري ټولګې څه کار دی؟ ده وویل: ته خو خبر نه یې هغې کې ټول داسې شعرونه وو چې ما د مجاهدینو او پاټکیانو په ستاینه کې ویلي وو. ما ورته وویل ته خو نو د ډاکټر نجیب او تر هغه دمخه دکارمل په حکومت کې غټ سړی وې، نو تا مجاهدین څه کول؟ هغه راته وویل مجاهدین لا څه کوې، چې ترهغو مخکنیو ته مې هم ډېر شعرونه ویلي، خو هغه مې دمجاهدینو په وخت کې پټ کړل او له دې مجموعې مې وکښل.

دطالبانو د واکمنۍ څلور کاله تېر وو، چې همدا شاعر مې یو ځل بیا مخې ته راغی او ویې ویل چې یون صیب دشعرونو یوه مجموعه مې تیاره کړې، که راته ویې ګورې او څه پرې ولیکې نو ډېر به خوښ شم، ما ورته وویل چې همغه جهادي شعرونه دي که څنګه؟ دی له خندا شین شو نه بابا اوس کله دهغو وخت دی، اوس خو وخت بدل دی، ما چې په څو مشاعرو کې د طالبانو په افراطي ستاینه کې ددې شاعر څو شعرونه اورېدلي وو، نو په زړه کې راتېر شول چې دا ځل به یې ټول شعرونه د طالبانو په ستاینه کې وي، ده ته مې وویل، چې پر یو شرط درڅخه مجموعه اخلم چې دطالب په ستاینه کې به یو شعر هم په کې نه پرېږدم، دی یو ځل بیا له خندا شین شو او راته یې وویل چې تاته خو یې دهمدې لپاره درکوم چې زه پرځان نه پوهېږم او ډېره ستاینه رانه کېږي، تاته یې ځکه درکوم هسې نه چې غرق نه شم هغه بل ځل خو خدای بچ کړم هغه .. بچ کړم دا ځل مې ټول امید تاته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورتنی مثال مې ځکه راوړ چې کېدی شي، زموږ پر یو شمېر نورو لیکوالو هم همدا حال تېر شوی وي او یا پرې تېر شي. داسې ډېر لیکوال شته چې دیوه سیاسي ګوند د واکمنۍ پرمهال خپل چاپ شوی هنري اثر په بله واکمنۍ کې چاته نه شي ښودلای ځکه چې له ده څخه بې ځایه ستاینه شوې وي، دلته هغه لیکوال نه یادوم چې یو سیاسي جریان ته ژمن و او دهغو په ګټه یې سیاسي لیکني کړې دي، هغه خو دخپلې ژمنتیا له مخې اړ و چې دا ډول لیکنې وکړي او یا یې په اصطلاح حق و، خو زما مقصد هغه لیکوال دي، چې نه په کوم سیاسي بهیر پورې تړلي وو او نه سیاسي خلك وو، خو خپل هنر یې دهغو دخدمت او افراطي ستاینې لپاره په دې کچه ګومارلی و، چې دهمغو سیاسي بهیرونو اصلي غړي او لوبغاړي هم ورته حیران وو او دي.

دطالبانو د واکمنۍ پر دریم کال دهېواد ورځپاڼې ریس ښاغلي ملا عبدالحنان همت ماته وویل: یون صیب والله دغه د ورځپاڼو کلکسیونونه مو لټولي وای او هغه شاعران او لیکوال مو په ګوته کړي وای چې دې پخوانیو کمونیستانو ته یې لیکنې کړي او شعرونه یې ویلي دي. ما ورته وویل، چې لست ته یې هېڅ ضرورت نه شته، ده وویل ولې؟ ما ویل دغه څه شاعران چې اوس ستاسې ستاینه کوي، همدغه ټول دي، په مشاعره کې کېنه هرچاچې ستاسې ستاینه کوله، جلا کوه یې او حساب ورسره کوه، دهغو لسو تنو نومونه مې ورته واخیستل، چې په تېرو نظامونو کې یې هم ستاینې کولې او اوس یې هم کوي، ما ورته وویل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغه دي، دا په هر نظام کې همداسې دي، دا به په سباني نظام کې هم همداسې وي او هغه څوك چې اوس ستاسو ستاينه نه كوي، دوی دېروني نظام هم نه ده کړې او د سباني به هم ونه کړي.
همت صاحب ماته وويل دا خو ډېرښه خلك دي، زموږ هره خبره مني، زما چې دکومې موضوع په اړه کوم شعر او ليکنه په کار شي نو عاجل دوی ته ټلفون وکړم، دوی بيا ډېر ژر دهمغې موضوع په اړه شعر او يا مقاله ليکلي وي. ما ورته وويل چې دا ډول خلک د هر نظام په کارېږي، تر تاسو وروسته به هم په کار شي، خو د ولس نه په کارېږي.
زموږ يو بل ليکوال بيا يو وخت پر طالبانو دومره مين و، چې په افراطي ستاينه کې يې ډوب و، يو وخت بيا داسې راغی، چې دومره افراطي غندنه يې پيل کړه چې تر تصور نه پورته وه، يوه ورځ يې يو عادي طالب سره دخبرو په ترڅ کې طالبان په داسې افراطي بڼه وغندل چې ان دپېښوريانو خبره له الفاظو سره يې هم انصاف ونه کړ، خو طالب ورته په مقابل کې وويل: والله نو موږ خو ساده خلك وو همدا تا او ځينې نورو موږ دومره وستايلو چې موږ اخر دغرور وزرونه وکړل، موږ ويلې چې موږ په رښتيا هم همدومره اوچت خلك يو، كه تا دومره ستاينه نه وای کړې، کېدی شي موږ دې افراط ته نه وای رسېدلي. دطالبانو دغرور او نورو بدګڼو عامل چې هرڅه وو پر هغو دلته بحث نه کوو، خو زموږ له ليکوال سره دطالب په فردي منطق کې سخت قوت پروت و. پر دې وخت ما هم ددوی په خبرو کې ځان په دې ډول ورشريک کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې لیکوال ته مې وویل: دا طالبان په پیل کې هم دومره ښه خلك نه وو، چې سل په سلو کې دې دهغو ستاینه وشي او دهېڅ (خو ځای دې ونه لري او اوس هم دومره بدخلك نه دي، چې هېڅ ښه دې ونه لري او ټول دې بد وي، لکه څنګه چې له تا څخه پخوا په افراطي ستاینه کې تېروتنه شوې، اوس درنه همداسې په افراطي غندنه کې هم تېروتنه کېږي. لیکوال سره له دې چې طالب سره یې ډېر دلایل وویل، خو ماته پرې دهغه منطق قوي ځکه ښکاره شو چې لیکوال خو له اوله طالب هم نه و، نو بیا ولې یې دطالبانو په ستاینه کې تر طالبانو زیات افراط کاوه او هغه هم له همدغې خوږې ګوتې نیولی و.

ما داسې لیکوال هم لیدلي، چې یو وخت یې د یو سیاسي شخصیت پر ضد ګنې لیکنې خپرې کړې وي او بل وخت یې بیا دهغه دتائیدونې او ستاینې لپاره قلم راپورته کړی دی. چې یوه بله ژوندۍ بېلګه به هم وړاندې کړم.

د ۱۳۵۸ل کال د مرغومي تر۶ مې نېټې دمخه یو لیکوال سره له دې چې دخلکیانو دګوند رسمي غړی نه و، خو دهغوی دخوشالۍ لپاره یې دببرك کارمل پر ضد داسې توندې او تېزې لیکنې وکړې او مطبوعاتو کې یې خپرې کړې، چې خلکیان هم ورته حیران وو، کله چې کارمل د واك پر ګدۍ کېنول شو، نو دا لیکوال ډېر وارخطا شو، دمشورې لپاره دخدای بښلي استاد عبدالروف بېنوا کورته لاړ او ورته یې وویل: هله لار راښیه چې څه وکړم؟ استاد بېنوا ته چې دلیکوال اخلاقي ضعف له پخوا نه هم


(c) ketabton.com: The Digital Library

معلوم و، له ډېره سُخره يې ورته ووېل: ((هېڅ خبره نه ده، پوستين پردې بل مخ واغونده)) مانا يې دا وه چې ته خو هسې هم په ستاينو او غندنو بلد يې، دكارمل ستاينه پيل كړه. ليكوال هم همدا نصيحت په دواړو غوږو واورېده او هغه يې په ښه پوره صداقت عملي كړ، څه موده وروسته يې دكارمل دربار ته هم لاره پيدا كړه او د ډاكټر نجيب پر وخت يې لا نوره وده هم وكړه. له دې پورته يادونو څخه مې مقصد دا دى، چې بې ځايه ستاينې او غندنې په كار نه دي، كله كله به څوك يو مقام ته ورسوي، خو هېڅكله هم دخپل وجدان په ماڼيو كې ارامه ساه نه شي اخيستلاى، نو ليكوال ته په كار ده، چې په خپلو ليكنو كې ډېر احتياط وكړي، خپله ليكوالي د افراط او تفريط په سيند لاهو نه كړي، ځكه چې جبران يې بيا ډېر سخت دى، دليكوال چاپې او خپرنۍ ليكنه توكړي لاړې دي، چې بېرته نه پورته كېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ازاد او ترلي مطبوعات

دا ليکنه د طالبانو د حاکميت د اوج پرمهال ليکل شوې وه او همغه مهال د هيلې مجلې د ۱۳۷۹ل کال په (۶) گڼه کې چاپ شوې ده.



په هره ټولنه او هېواد کې چې دولتي جوړښت ولري او واکمنه اداره يې د ددولت تمثيل وکړای شي، نو د واك همدا جوړښت پر درېيو لويو څانگو وېشل کېږي، چې قضايه، مقننه او اجرائيه ځواك يې بولي. په حقيقت کې همدغه درې څانگې او ځواکونه د دولت اډانه جوړوي. د دولت د رغښت نورې څانگې بيا له همدغو څانگو څخه رابېلېږي او هره يوه د ټولنې يوه اړتيا وړ برخه خړوبوي.

د بشري نړۍ په پرمختگ سره يوه بله څانگه هم د دولت په اغېزمنۍ او پرمختيا کې اغېزناکه وگڼل شوه، دا د مطبوعاتو څانگه ده، چې د دولت د څلورم ځواك په نامه يادېږي، مطبوعاتو ته دټولنې اعصاب هم وايي، ځکه چې د نړۍ اکثره فکري بدلونونه او نورې پرمختياوې د همدې خپرونو له لومړني شکل الهام اخلي او د پرمختللې نړۍ فکري جريانونه د همدې مطبوعاتو زېږنده گڼل کېږي. هره ټولنه او دولت د خپل ځان،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنې او ولس له اړتیا سره سمې خپرونې (مطبوعات) لري. داخپرونې بیا دجولیز او مانیز څرنګوالي له پلوه پر لسګونو ډولونو وېشل کېږي. له یوې دېوالي جریدې او شپېپاڼې رانیولې تر ټلویزیون او د اوسني پرمختللي انټرنټ تر عصري شبکې پورې ټولې خپرونې (رسنۍ) ګڼل کېږي. خو له فکري پلوه تر هرڅه لومړی، خپرونې یا مطبوعات پر دوو برخو وېشل کېږي: ازاد مطبوعات او تړلي مطبوعات. موږ به دلته هڅه وکړو، چې ددې دوه ډولو خپرونو د مانیزڅرنګوالي، ګټو، اړتیاوو او ضررونو په باب یوڅه رڼاواچوو:

## ۱-تړلي مطبوعات یا خپرونې:

تړلې یا رسمي خپرونې هغه دي، چې په ټولنه کې د دولت او یا واکمن سیاسي جریان له خوا خپرېږي اوتر زیاته بریده د هغوی د خیال اواند ښکارندویي کوي. تړلي مطبوعات د خپلو ښېګڼو او ګټو ترڅنګ یو شمېر نیمګړتیاوې او زیانونه هم لري،چې دلته به ورته اشاره وکړو:


## نیمګړتیاوې:

په تړلو او رسمي خپرونو کې د انتقاد او نیوکې روحیه کمزورې وي، د ذوق، شوق او پراخ اندو واند(فکر و خیال) وزرونه په کې تړلي وي، د ټولنې د سمون او رغون لپاره د افکارو تبادله په کې یا ناممکنه او یا ناسمه وي.

د ټولنې دټولو اړخونو او پاړکو ذوقونه او اړتیاوې نه شي خړوبولای. د واکمن جریان د هر عمل او چلند ستاینه کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرنیمګړتیاوو اود هغو دحل په باب کم بحث کوي، دناخوالو په انعکاس کې پوره ونډه نه شي اخیستلای. په رسمي خپرونو کې یوازې د هغو استعدادونو د غوړېدو لپاره لاره اوارېږي، چې له واکمن بهیر سره فکري خواخوږي ولري او له هغه سره تړلي وي، شخصي تشبث او ځاني استعداد په کې کمه وده کوي. رسمي مطبوعات خبرتیایي سرچینې ګڼل کېږي، خو د ولس او دولت ترمنځ د روحي پیوستون او فکري یووالي دټینګښت څرګندوی او عامل نه وي، په عمومي ډول رسمي خپرونې د ودې عمودي حرکت تعقیبوي، یانې دا چې درسمي مطبوعاتو د لوستونکو د مطالعې لوری مخ پورته او مستقیم دی؛ کیڼ او ښي لوري ته کتلای نه شي، لوستونکي ته لکه د ګاډي اس غوندې د فکري او ذوقي سانسور داسې سترګۍ (عینکې) پر سترګو کوي، چې نېغه اوښودل شوې لار به ګوري، اخوا دېخوا نه شي کتلای. د رسمي خپرونو پرمختیایي تګلوری کولای شو په دې جوله کې افاده کړو:




پیل ټکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلتـه لوسـتنه يـوازې لـه يـوې ټاكلې نقطې څخـه پيلېږي او مـخ پورته حركت كوي، بلې خوا ته يې د غوړېدو او حركت امكـان نـه شته.

د رسمي خپرونو لوستونكو يوه غټه ستونزه دا وي چې څه يې خپلـه لوسـتلي وي همغـه دكـاڼي كرښـه ګڼي، ځكـه چې د هغـوی ذهني وده په ټولو برخو او خواوو كې انډوليزه اومتوازنه نـه وي، د واكمن جريان يوه موخه همدا وي چې خلك په داسې روحيه وروزي چې دوی يـې غـواړي. مبتـذل، كليشـه يـي او تكـراري مطالـب درسـمي خپرونـو بلـه نيمګړتيـا او سـتونزه ده چې د لوسـتونكو د ذهني ستړيا سبب ګرځي او لوستونكي د مطالعې پرېښودلـو تـه اړباسي. لـه رسـمي خپرونـو څخـه نيـولې بيـا تـر رسـمي ښـوونې او روزنې پورې ټول روزنيـز بهيـر لـه يـو ډول مسـتقيم فشـار سره مـل وي، مسـتقيم فشـار چې هـر ډول وي، پـر پلـي كېـدونكي سـخت پرېوزي او د ستړيا سبب يې ګرځي.

خو له دې ټولو نيمګړتياوو سره سره رسمي خپرونې يو لړ داسې سـترې او اساسـي ښېګڼې او ګټې لـري، چې هغـه د يـو ملت پـه ذهنـي وده او پـرمختګ، د ذوقونـو پـه خـړوب او نـورو اړتيـاوو پـه پوره كولو كې كارنده ونډه لري، چې بل هېڅ كار يې ځـای نـه شي ډكولای، دلته به د رسمي مطبوعاتو ځينو سترو ګټواو ښېګڼو تـه هم اشاره وكړو:

## درسمي يا تړلو خپرونو ګټې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

درسمي يا ترلو خپرونوګټه دا ده چې د ټولنې ټول وګړي په يوه روحيه او مفکوره روزي او د ذهني انارشۍ مخه نيسي، که چېرې په ټولنه کې داسې يو سياسي نظام واکمن وي، چې دخپل ملت لپاره يوه ملي او پرمختيايي ستراتيژي ولري، نو له رسمي خپرونو څخه د ټول ولس د ذهني تمرکز او فکري يووالي لپاره غټه ګټه پورته کولای شي.

که رسمي مطبوعات په ملي روحيه سمبال شي، نو په ملت کې به د ملي شعور او ملي پيوستون روحيه پياوړې کړي، د واحد دښمن پروړاندې به يې رواني ځواك غښتلی کړي اوپه ملت کې د درز اچونې او منفي لېوالتياوو مخه به ونيول شي.د رسمي مطبوعاتو بله ښېګڼه دا ده، چې له يوه واحد مرکزه کنټرولېږي، ټولنې ته د متضادو افکارو د رادننه ايستلو او بيا پرهغو باندې د ټولنې د وېش مخنيوی کوي. په رسمي مطبوعاتو کې د اخلاقي انحرافيو مخه هم نيول کېدی شي، يا لږترلږه داسې مسايل نه خپروي، چې اخلاقي نيمګړتياوې ولري او يا ولولې راوپاروي.

رسمي مطبوعاتو کې دمتوازن وېش امکان ډېر زيات دی، د ټولنې هر اړوند پاړکي ته وررسېدی شي او دولت د مالي زيان يا سپسيدۍ په زغملو سره هر هغه چا ته چې اړتيا ورته ولري، خپرونه ور رسولای شي.

په رسمي خپرونو کې بله ښېګڼه دا ده چې اکثره خپرونې د يوې ټاکلې پوهنيزې جرګه ګۍ له خوا خپرېږي، معياري ژبه، معياري ليکدود او نور ملي ارزښتونه تعقيبوي، د چا د شخصي

(c) ketabton.com: The Digital Library

توهین،سپکاوي او یا شرمونې امکان په کې ډېر کم وي، که رسمي خپرونې له مانیز پلوه پر بېلابېلو خپرونو وېشل شوې وي او بیا هره خپرونه خپله یوه موضوع تعقیب کړي، نو د ټولنې ټولې خواووې به په متوازنه توګه ورسره وده وکړي، طبعاً د دولت امکانات تر اشخاصو زیات وي، که دولت په رښتیا هم غواړي د خپرونو له لارې خپل ولس ته خدمت وکړي، نو په دې برخه کې رسمي خپرونو ته ډېر امکانات برابرولای شي او رسمي خپرونې د خپلې همدې برلاسۍ له مخې کولای شي، لوستونکو ته ډېر نوي معلومات وړاندې کړي.

## ۲- ازادې خپرونې:

لکه څنګه چې مو پورته د رسمي خپرونو نیمګړتیاوو ته اشاره وکړه، نو کله چې په یوه ټولنه کې رسمي خپرونې د ټولنې اړتیاوو په خروب کې پاتې راشي، نو ازادو خپرونو ته اړتیا پیداکېږي.

ازادې خپرونې هم د رسمي هغو په شان زیاتې ګټې او یو شمېر زیانونه لري، چې دلته به یې د دواړو یادونه وکړو:

## د ازادو خپرونو ګټې:

ازادې خپرونې په ټولنه کې د سالم انتقاد روحیه رامنځته کوي، د سالم انتقاد په نتیجه کې په ټولنه کې د زغم کلتور پیدا کېږي، د زغم کلتور د ټوکېدو له کبله د ټولنې سیاستوال د برچې او تورې پرځای د قلم او خبرو له لارې خپل مسایل حلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ازاد مطبوعات د درغليو، ټګيو، برګيو، رشوتونواو نورو ټولنيزو فسادونو په رسوا کولو کې کارنده ونډه اخلي، نو ځکه خو ددې کارونو عاملين هڅه کوي، چې دخپرونو د پردې پر مخ څرګند نه شي او له خپل پلان کړي جنايت څخه تېر شي.

ازاد مطبوعات د ټولنې واکمنو ته لاره ښيي، نيمګړتياوې ورته بيانوي او دا څرګندوي چې که شپه تياره ده منې په شمار دي؟ د ټولنې د برخليك په ټاکلو او د هغې په وده او پرمختيا کې د ټولنې وګړي متوازنه او انډوليزه ونډه لري.

ازاد مطبوعات له رسمي هغو سره د مثبت رقابت او سيالۍ له لارې د ټولنې وګړو ته نوي او رنګارنګ مطالب برابروي، چې ټولنه پرې خپل ذوق خړوب کړي.

په ازادو خپرونو کې ډېر هغه استعدادونه غوړېدلای شي، چې په رسمي خپرونو کې ورته چانس نه وي، په ازادو خپرونو کې روزنيزه برخه له کوم مستقيم فشار پرته عملي کېږي. د ازادو خپرونو پرمختيايي تګلوری افقي دی، کيڼ او ښي لوري ته وده کوي، له يوې واحدې نقطې پيلېږي او دواړو خواوو ته غځېږي. لوستونکي يې هم دواړو خواوو ته وده کوي او خپل ذوق خړوبوي، پر لوستونکي کوم فشار نه شته، هرې خوا ته چې غواړي حرکت کولای شي، لکه په دې لاندې شکل کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library




په دې ډول په ازادو مطبوعاتو کې د لوستونکي د استعداد د غوړېدنې امکانات زيات دي.

د ښوونې او رزنې د اصولو له مخې نامستقيه ښوونه او روزنه تر فشاري هغې ښه ځکه ده، چې پر لوستونکي باندې له کومې ذهني سترټيا، ناارامۍ او احساس پرته عملي کېږي او د هغه د مينې اولېوالتيا کچه اوچتوي.

د ازادو مطبوعاتو له لارې کېدی شي، د ټولنې د يوشمېر وګړو ژوند هم خړوب شي او پانګه هم لاسته ورشي، د ازادو خپرونو له دومره ښېګڼو او ګټو سره سره يو شمېر نيمګړتياوې او زيانونه هم لري، چې دلته به د ځينو يادونه وکړو:

## نيمګړتياوې اوزيانونه:

هغه ټولنې چې ملي پيوستون او يووالی يې ښه کوښښ شوی نه وي، ازاد مطبوعات کولای شي، په داسې ټولنو کې ذهني انارشي رامنځته کړي، هغه يووالی چې د کلونو په اوږدو کې يا د زورواکۍ او يا هم د نورو عواملو له کبله رامنځته شوی، متضرر کړي او په پای کې فزيکي ټکر ته لاره اواره کړي.

که ازاد مطبوعات دخپلې ټولنې ملي ګټې په پام کې ونه نيسي، نو ټولنه انحرافي لوري ته کشولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چېرې ازاد مطبوعات د اقتصادي ګټې له درکه دوراني حرکت ونه لري، یانې خپل لګښت بېرته پوره نه کړي او ورځنۍ پانګه یې زیاته نه شي، نوچلوونکي یې مجبور دي له کورنیو او بهرنیو نامشروعو سرچینو سره اړیکي ونیسي او خپله بقا تضمین کړي، ازاد مطبوعات د خپلو شخصي ګټو او شهرت لپاره کله کله داسې شیان خپروي چې ټولنه او په تېره بیاځوان پښت اخلاقي انحراف ته راکاږي.

کله کله ازاد مطبوعات تر دې حده هم لاس غځوي چې د خلکو په شخصي ژوند کې مداخله کوي، یا له ځینو اشخاصو حق السکوت اخلي او یا ورځخه د خپلو تبلیغاتي امکاناتو په واسطه د باد بنګه جوړوي، په دې ډول په ټولنه کې دسالم شخصیت د پاتې کېدنې شونتیا کمزورې کوي. که پر ازادو خپرونو چالاکه، درغلن او فاسق اشخاص حاکم شول، نو ټولنه له ډېرو بدمرغیو سره مخامخولای شي. هغو ټولنو کې چې ګڼ قومیزه دي او د ملي ستراتیژۍ بنسټ په کې د کوم قوي واکمن جریان له خوا نه ملاتړېږي، نو ازاد مطبوعات کولای شي، د قومي او سیمه ییزې تفرقې اورته لمن ووهي.

لنډه دا چې که ازاد مطبوعات بیا هم د یوې ملي ستراتیژۍ له مخې کنټرول نه شي، نو ډېر زیانونه راولاړولای شي، په هغو ټولنو کې چې ازادو مطبوعاتو وده کړې او بیا ټولنو د هغو په واسطه دوه اړخیز پرمختګ کړی، هلته د رسمي او نارسمي خپرونو چلوونکي پر ځو اساسي موضوعاتو سره متفق وو، لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېواد ، ملي ژبه، دين، ملت د ولس ښېرازي اوځينې نور اساسي توکي، هريوه پورتنيو ارزښتونو ته خدمت خپله دنده ګڼله، خو زموږ په شان وروسته پاتې ساتل شوې ټولنې کې چې د ازادو خپرونو ډېره کمه تجربه او مزه يې ليدلې، حالات بل ډول دي، دلته د لوستي قشر کچه دومره نه ده، چې ازاد مطبوعات دې بېرته دوراني حرکت وکړي او خپل لګښت دې پوره کړي او نه د واکمنو کلتوري زغم دومره دی چې رښتيا دې هم يوه ازاده خپرونه ومني او وزغمي، خير نو زموږ ټولنه ازادو خپرونو ته اړتيا لري او که نه؟ غواړو ددې پوښتنې په باب څه څرګندونې وکړو:

## زموږ په ټولنه کې د ازادو خپرونو اړتيا:

زموږ ټولنه هم لکه د نورو ټولنو په شان ازادو خپرونو ته اړتيا لري، ځکه چې اوسنۍ رسمي خپرونې نه د شمېر او نه هم دڅرنګوالي له پلوه دملت اړتياوې خړوبولای شي. ان دواکمن جريان غوښتنې هم نه شي پوره کولای. د اوسنيو رسمي خپرونو اساسي نيمګړتيا دا ده چې له دې مطبوعاتو څخه د خپرونو ډېرې ژوندۍ، متحرکې او اساسي برخې لکه ټلويزيون اوانټرنټ منفي شوي، راډيويي خپرونې کمې شوي او يوازې په سپوره تبليغاتو او د مستقيم فشار پر تبليغاتي وسيلو اوښتي دي. پاتې خپرونې هم د وخت په عصري تخنيکي وسايلو سمبالې نه دي، وچ انحصار پرې حاکم دی او زيروح تصوير چې د چاپي خپرونو اساسي برخه ده، ترې لرې شوی دی. دا چې زيروح تصوير د واکمنو په تعبير له شريعت سره ټکر خوري او ناروا ګڼل کېږي دا نو د هغوی خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

اندود دی، خو که څوك مطبوعات غواړي او بیا د هغو اغېز، نو بیا خو تصویر د مطبوعاتو یوه اساسي برخه ده او هغو ته روح ورکوي، بې تصویره مطبوعات، بې روحیه مطبوعات ګڼل کېږي او ډېره سپېره ښکاري. کله چې څوك یوه خپرونه راواخلي، نو لومړی یې تصویر، بیا عنوان او بیا متن ته پام کوي، واکمن وغواړي که ونه غواړي د ډله ییزو رسنیو یوه داسې څپه روانه ده، چې ولس مجبور دی هغو ته مخه وکړي، په نننۍ عصري نړۍ کې د انټرنټ په ناپایه سمندر کې د هیڅ شي کمی نه شته او نه پرې د چا مطلق سانسور څه اغېز کوي. هلته به هرڅوك هرڅه چې غواړي لاسته راوړي، نو بیا به د ازادو خپرونو مخالفین څه کوي؟ ښه به دا وي مخکې تر دې چې د نورې نړۍ فرهنګي یرغل زموږ د ولس پر ذهن خپله څپه خوره کړي، موږ باید خپل مطبوعات ورته قوي کړو. افغانستان کې د ګوتو په شمار څو مجلې او اخبارونه خپرېږي او په پېښور کې یو څو عنوانه ازادې افغاني خپرونې فعالیت کوي، چې دا ټولې زموږ د ملت په سلو کې د (۲) برخې وګړو اړتیا هم نه شي پوره کولای، د خپرونو ډېرول زموږ د ملي شعور دبیدارۍ نښه ګڼل کېږي او د لوستونکو د شمېر زیاتون څرګندوي، دامریکا متحده ایالتونه به یې د بېلګې په توګه وړاندې کړو: په دې هېواد کې له سلګونو ټلویزیوني چاینلونو او د انټرنټ پر بېشانه نړۍ سربېره له ورځپاڼې نیولې تر اوونیزې، میاشتنۍ او کالنۍ پورې ټولې (۱۱زره) عنوانه خپرونې کېږي، چې کلنۍ تیراژ یې د انسان تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصوره هم اوچتېږي. په دې کې داسې خپرونې هم شته چې هره ورځ په لسګونو مليونو ټوکه خپرېږي او داسې کتابونه هم شته، چې تيراژ يې(۵۰) مليونو ټوکو ته رسېږي. په داسې حال کې چې په افغانستان کې له تعليمي کتابونو پرته، د امير شېرعليخان له وخته تردې دمه پورې د ټولو چاپ شويو کتابونو عمومي شمېر(۵۰)مليونو ټوکو ته نه رسېږي. تېر کال په پېښور کې د ازادو ليکوالو له خوا تر (۲۰۰) عنوانو زيات پښتوکتابونه چاپ شوي وو او دا زموږ په خپرنيز تاريخ کې يو بېساري ريکارډ و. خو د واکمنو له خوا په ټول افغانستان کې د ټولو چاپ شويو کتابونو شمېر لس عنوانو ته نه رسېده، تر دې يو کال دمخه يوازې په لندن کې ټول (۶۰) زره عنوانه کتابونه چاپ شوي وو، چې عمومي تيراژ يې مليياردونو ملياردونو ټوکو ته رسېده. له دې پرتلنې څخه زموږ مقصد دا نه دی چې زموږ هېواد دې له دې پرمختللې نړۍ سره پرتله شي او څه شی چې هغوی لري بايد موږ يې هم همدا اوس ولرو، بلکې هدف دا دی چې موږ ته يوه ذهني رڼايي وي. په پرمختللو ټولنو کې هم يوازې دولتونو دا کار نه دی کړی، بلکې هغوی دومره کړې چې له خلکو څخه يې د ذهني سانسور او اختناق وېره او پرده لرې کړې ده. که چېرې زموږ په خپل هېواد کې د خپرونو ازادي وای، نو دا (۲۰۰) عنوانه کتابونه ولې هلته نه چاپېدل، هغه په مليونونوکلدارې چې له دې درکه د پاکستان د پانګې برخه شوې، ولې زموږ هېواد ته نه پاتې کېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې خبرې يادون هم ضروري دی، چې زموږ ټولنه له کلتوري، مذهبي او ذهني پلوه دې حالت ته ده رسېدلې،چې د نورو ټولنو په شان دې هرڅه وزغمي او يا دې هرڅه پرې وزغمل شي او هر ډول خپرونوته دې اجازه ورکړل شي، که څو اساسي اصول او آرونه، په پام کې ونيول شي، نو د ستونزې حل راوتی شي.

## اسلام:

ټولې خپرونې بايد اسلامي اصول په پام کې ونيسي، يانې داسلام خلاف بايد نه وي.

## افغانستان:

هېڅ خپرونه بايد د افغانستان د خاورې بشپړتيا متضرره نه کړي.

## ملت:

هېڅ خپرونه بايدملت ضد ليکنې ونه لري، بلکې ټولې خپرونې دې هڅه وکړي، چې د پورتنيو درېيو سترو ارزښتونو د پاللو او ساتلو لپاره هاند و هڅه وکړي.

کــه چېــرې ازادې خپــرونې د يــوې دقــيقې، ملــي- اســلامي ستراتيژۍ له مخې کنټرول نه شي، نو زموږ خو بيا يوه شاته پاتې ساتل شوې ټولنه ده . دې کې ډېره ازادي د ډېرې انارشۍ په مانا ده. هرڅوك چې هرڅه غواړي هغه به خپروي، ټولنه به بيا له ذهني، قومي، سيمه ييز او مذهبي پلوه ووېشل شي او د هېواد تجزيې ته به لاره اواره کړي. زموږ په ټولنه کې د ازادو مطبوعاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چلوونکي هم باید د خپلو مالي سرچینو خبره سپینه کړي. ځکه چې دلته هېڅ خپرونه که څه هم ډېره ښه، هم وي بېرته خپل لګښت نه شي پوره کولای، ددې لپاره چې د ولس، حاکمیت او ازادو خپرونو د چلوونکو ترمنځ پوره باور ټینګ وي، باید مالي سرچینې څرګندې وي.

په اوس حالت کې که زموږ په ټولنه کې د ازادو خپرونو لپاره دغه لارې په پام کې ونیول شي، بې ګټې به نه وي: تر ټولو لومړی باید خپله دولتي مطبوعات ازاد شي، که دولتي مطبوعات رښتیا هم ازاد شي او د ټولنې غوښتنې پوره کړي، نو خو بیا نورو خپرونو ته اړتیا نه احساسېږي، پر اوسنیو دولتي خپرونو واکمن وچ سانسور، د تصویرونو او ژوندیو موجوداتو د تصویرونو نه خپرول، خپله ددې سبب شوي، چې دولتي خپرونې بې ارزښته او یوازې د واکمن جریان د ګټو ښکارندویې وکړي، که واکمن غواړي چې په رسنیز او خبري ډګر کې له نورې نړۍ سره سیال شي، نو د هغو دخپرونو پروړاندې باید یو خپرنی دفاعي او تعرضي سیستم ولري، که غواړې د انټرنټ په ناپایه سمندر کې دخپل ځان پرضد د زهرجنو تبلیغاتو له توپاني څپې څخه بچ شي، نو انټرنټ کې باید خپله صفحه او ونډه ولري، که غواړي چې د نړۍ د سلګونو ټلویزیوني چاینلونو ژوندي تبلیغات خنثی کړي، نو باید دولتي ټلویزیوني چاینل ورته ولري، مانا دا چې انټرنټ ته انټرنټ، ټلویزیون ته ټلویزیون ، راډیو ته راډیو، ورځپاڼې ته ورځپاڼه او نورو خپرونوته باید نورې خپرونې ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چېرې دولتي مطبوعات همداسې پر يوه اړخيز واټ او سړک روان وي، نو بيا خو دې هغو خپرونو ته اجازه ورکړي، چې د يادو شويو اصولو خلاف نه وي، مالي سرچينې يې هم معلومې وي او له هر پلوه تر دولتي خپرونو څخه ښې دي، دا خپرونې به تريوه حده د ولس هيلې خړوب کړي.

که چېرې په دې ټولو لارو کې يوه هم نه منل کېږي، نو دا به دا مانا ولري چې زموږ ټولنه له خپلو ډېرو حقوقو، له هغې جملې څخه د بيان له ازادۍ څخه چې خپله يو اسلامي اصل هم ګڼل کېږي، بې برخې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د فرهنګي کار وېش

> دا ليکنه زما په مديريت، د شمشاد مجلې په وروستۍ ګڼه کې د سريزې په توګه راغلې ده.

په هره ټولنه کې چې د هغو د وګړو ترمنځ د کار وېش رامنځته شي، نو هم ورسره د ټولنې پرمختګ ته لاره اوارېږي، هم کار په ښه ډول ترسره کېږي او هم د کار پر اجرا کوونکو باندې فشار کمېږي. د اوسنۍ نړۍ او د پرمختللو ټولنو د پرمختګ يو اساسي علت همدا دی چې کارونه يې تخصصي او ځانګړي کړي دي، هر څوک چې په کوم کار کې مهارت لري، همغه ورته سپارل کېږي او ترسره کوي يې.

له نن نه لس کاله وړاندې (د ۱۳۲۹ل کال د لړم پر ۲۵ مه نېټه) په کابل کې (خوشال فرهنګي ټولنه) جوړه شوه، ددې ټولنې د جوړېدو اساسي هدف دا و چې افغاني ملي فرهنګ او د هېواد ملي ژبې ته زيات او وړ خدمتونه وکړي.

ټولنې دخپل ښه انسجام، اوډون او پرمختګ په هيله د خپلې کړنلارې، تګلارې او د ارمان پلي کېدو لپاره په خپل تشکيلاتي جوړښت کې تر (۱۵) زياتې بېلابېلې څانګې جوړې کړې، لکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعر ځانګه، د داستان ځانګه، تیاتر او موسیقۍ ځانګه، د کره کتنې، څېړنې، ځوانانو او نړیوالو اړیکو ځانګې او داسې نورې...

ددې ځانګو لپاره داسې کسان د مسولینو په توګه وټاکل شول، چې هم یې مسلکي مهارت درلود ، هم یې واک و ځواک او هم یې خپله له همدې کار سره مینه او لېوالتیا وه، نو ځکه خو ټولنې د یو کال په بهیر کې وکړای شول، تر لسو زیاتې علمي او ادبي غونډې جوړې کړي او څلور عنوانه کتابونه خپاره کړي. ددې کار د پرمختګ اساسي علت دا و چې کار اهل کار ته ورسپارل شوی و. که چېرې پر هېواد باندې د ناورین له پاسه بل ناورین نه وای راغلی، نو زیات اټکل او باور و چې دې ټولنې به ډېر زیات فرهنګي کار کړی وای.

زه (یون) پر هغه وخت د خوشال فرهنګي ټولنې په چوکاټ کې د ځوانانو د ادبي انجمن (ځانګې) مسول ټاکل شوی وم.

کله چې د ۱۳۷۱ل کال په پیل کې په افغانستان کې دولتي او سیاسي نظام سره وپاشل شو، نو د خوشال فرهنګي ټولنې اکثره غړي په تېره بیا د لارښودې شورا غړي، مهاجر او د نړۍ په یو شمېر هېوادونو کې خواره شول، د ټولنې دفتر لوټ او فرهنګي کار هم تر یوه وخته پورې پر ټپه ودرېد ، څو موده وروسته په کابل کې د خوشال فرهنګي ټولنې لارښودې شورا او اجرائیه هئیت یو شمېر غړي سره جرګه شول او پرېکړه یې وکړه چې د حالاتو له پېچلتیا سره سره هم باید موږ خپل فرهنګي کار ته دوام ورکړو. څرنګه چې هغه وخت د زیات فرهنګي کار لپاره حالات پوره مساعد نه وو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکثرو مشوره او پرېکړه دا وه چې موږ به په اوس وخت کې يوازې د شمشاد مجلې او ځينو نورو کتابونو د چاپ او خپراوي په واسطه دخوشال فرهنګي ټولنې نوم ژوندی ساتو او کله چې بيا حالات ښه شول، نو پر هر اړخيزو فرهنګي کارونو به لاس پورې کړو.

د شمشاد مجلې لومړۍ ګڼه د ۱۳۷۰ل کال په بهير کې د خوشال فرهنګي ټولنې د لارښودې شورا د ځو تنو غړو په علمي او تخنيکي هلو ځلو، د پوهنمل بريالي باجوړي په مديرت او د احمد تکل په مرستيالۍ خپره شوه.

د ۱۳۷۱ل کال د ناوړو حالاتو له امله استاد باجوړی هم د ټولنې د يو شمېر نورو غړو په څېر پېښور ته راغی، په کابل کې د ټولنې لارښودې شورا او اجرائيه هيت پاتې غړو د شمشاد مجلې مديريت زما او مرستيالي يې دلال پاچا ازمون پر غاړه کړه.

تر ۱۳۷۲ل کال وروسته له لومړۍ ګڼې پرته دادی تر دې ګڼې پورې موږ (۱۲) پرله پسې ګڼې په ټکني او ځنډني ډول خپرې کړې، دمجلې ټکني کېدل او ځنډېدل، له دې امله وو، چې مجلې هېڅ ډول مالي پانګه نه لرله، يوازې د ځينو فرهنګيانو او فرهنګپالو پر مرسته او بسپنويې ډډه لګوله. د ټولنې د اصلي غړو تيت وپرک کېدل بله ربړه وه چې د مجلې پر وخت چاپول يې ناشوني کړي وو او همدارنګه د ځای او چاپېريال بدلون بل عامل و چې موږ يې بېوسه کړي وو، خو له دې ټولو ستونزو سره سره موږ يوازې دومره وکړای شول چې مجله نيم ژواندې وساتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يادولو وړ بله خبره داده، چې د شمشاد مجلې د ټولو ګڼو په خپراوي او د ليکنو او چاپ لګښت په برابرولو کې دهېواد د تکړه ليکوال سرمحقق زلمي هېوادمل مرسته او لاسنيوى ډېر اغېزناک او مثمر و، که چېرې د هېوادمل صاحب مرسته، منډې تړې، هڅونه او هر اړخيزې مرستې نه واى، نو (شمشاد) به درېيمې ګڼې ته هم رسېدلې نه واى.

کله چې موږ په پېښور او کابل کې د يو شمېر نورو نويو او اغېزناکو فرهنګي فعاليتونو لپاره هلې ځلې پيل کړې او په دې دواړو ځايونو کې مو مسوليتونه او کارونه ډېر زيات او درانه شول، نو شمشاد نوره هم پسې ټکنۍ شوه او کله چې بيا هېوادمل صاحب له پېښور نه جرمني ته لاړ، نو د مجلې په چاپولو کې نور ځنډ هم پېښ شو.

له ډېره وخته راهيسې زه په دې فکر کې وم، چې د شمشاد مجلې پازوالي (مسوليت) خپله هېوادمل صاحب ته وسپارو، ځکه چې شمشاد يوه علمي او اکاډميکه مجله ده او د هېوادمل صاحب له آر مسلک سره ښه اړخ لګوي او هم يې دى په ښه ځرنګوالي سره ترتيبولاى او چاپولاى شي، خو بيا به مې ځکه جرئت مړاوى شو چې ما ويل نه چې د هېواد مل صاحب په زړه کې څه ونه ګرځي، چې زه له کاره اوږه تشوم او دده پر ګڼو بوختياوو سربېره ددې کار ټول بارهم ده ته ورسپارم.

خو کله چې هېوادمل صاحب جرمني ته لاړ، نو موږ ټولو ته خو څرګنده وه، چې هغه د فرهنګي کار و زيار دومره مېړنى دى، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅکله هم وزګار کېناستل خوند نه ورکوي، ضرور به يوه مجله او يا خپرونه راوباسي، نو چې بله نوې خپرونه پيلوي، ښه به دا وي هغه خپرونې چې د له منځه تلو په حالت کې دي او يا ځنډنۍ دي، هغه له مرګ او ځنډه راوژغوري. په همدې فکر کې وم چې د هېواد پياوړی ليکوال (زرين انځور) له جرمني ښخه پېښور ته راغی او د هېوادمل صاحب د اوسنيو فرهنګي بوختياوو او پلانونو په باب يې راسره خبرې وکړې، انځور صاحب وويل چې ما په زړه او ذهن کې يوه نقشه جوړه کړې چې که چېرې تاسې ورسره موافق يئ نو بيا کېدی شي چې پر هېوادمل صاحب فشار راوړو او دا خبره پرې ومنو. البته دا خبره ما تراوسه له هېواد مل صاحب سره شريکه کړې نه ده، خو که تاسې موافق ياست او بيا موږ او تاسو ټول له هېواد مل څخه هيله وکړو، نو زما باور دی چې وبه يې مني.

انځور صاحب وويل: زما طرحه داده چې پر تاسې باندې هم کارونه تر حده زيات شوي او ښه زيات مصروفيت يې، د شمشاد مجلې مسوليت هم ستاسو پرغاړه دی، مجله ډېره ځنډنۍ شوې که ددې مجلې مسوليت هېوادمل صاحب ته وسپارو يو خو به مو دا مجله له ځنډني حالت نه را ايستې وي او بله به مو د همدې مجلې له لارې خوشال فرهنګي ټولنه هم له هېرېدو څخه ژغورلې وي.

ما چې د انځور صاحب دا نظر واورېد، نو لکه يو درون بار مې چې له اوږو لرې شوی وي، ورته مې وويل چې ما خو له شرمه غږ نه کاوه، تر يو کاله زيات وخت وشو، چې په همدې فکر کې يم، دا خو داسې کار دی چې هم ثواب دی هم خرما؛ هم به مجله چاپ شي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

به ټولنه له هېرېدو څخه وژغورل شي او هم به د هېوادمل صاحب په شتوالي کې د مجلې پوهنيز او اکاډميک څرنګوالي او څومره والي ته زيات کار وشي. دا خو نور اعلی نور شو.

څو ورځې وروسته مو په پېښور کې د خوشال فرهنګي ټولنې د لارښودې شورا غړو يوه غونډه جوړه کړه او په هغې کې مو همدا خبره مطرح کړه، هغو ټولو همدا نظر معقول وګاڼه او ويې مانه، بيا مو هېواد مل صاحب ته د ټولنې د لارښودې شورا دغړو وړانديز ورولېږه او هغه ومانه.

په دې ډول مو د شمشاد مجلې دژغورنې لپاره يوه ګټوره هڅه وکړه، زه باور لرم چې د هېوادمل صاحب په هڅه، کاروزيار به (شمشاد) رښتيا هم (شمشاد) شي، پښتو ادب او هېواد ته به غوره خدمتونه وکړي.

زه په داسې حال کې چې هېواد مل صاحب ته مبارکي وايم او د هر راز فرهنګي کار او همکارۍ ژمنه ورسره کوم، له درنو لوستونکو څخه د مجلې د چلوونکي له دريځه خدای پاماني اخلم، خو دې سره سره ددې خبرې يادول هم ضرور بولم، چې له مجلې سره به هر ډول ليکنۍ او نوره تخنيکي همکاري کوم.

په ټوله فرهنګي مينه

محمد اسمعيل يون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګران خوشال روهي ته داوښکومړاوی

## لیک

دا لیکنه ما د خدای بښلي استاد روهي د مړينې د خبر په اورېدو سره چې پر همغه شپه له بي بي سي راډيو څخه خپور شو، کړې وه. دا ليکنه بيا په شمشاد مجله، د استاد روهي ياد، اثر او ځينو نورو خپرونو کې خپره شوې ده.

ته يوازې وې ؟ تادخپل پلارجنازه يوازې پورته کړه ؟ هغه خودعلم اوپوهې يوغرو . تادهغهٔ روح ته څنګه اوږه ورکړه ؟ تاپه کوم زور هغه له ځمکې پورته کړ؟ ايانهيلی نه شوې ؟ شاو خوا دې ونه کتل؟ کتلي به دې وي ! څومره به نهيلی شوی يې ! هېڅوک به نه وو ، ته به يوازې وې ! ګڼ شمېرخپلوان به دې سترګوته ودرېدلي وي ، وطن به دې يادشوی وي ، کلی به دې ياد شوی وي ، خپله هديره به دې ياده شوې وي ! اوکه يوازې په غمونوکې به ډوب وې اودمينې دغره جنازه دې وړله ؟ووايه «اجمل» هم درسره و اوکه نه؟ کټې خوځلوربازوګان لري اوتاسوخودوه ورونه وئ . ووايه نوربازوګان چانيولي وو؟ خپلو که پرديو؟ اجمل خوبه تل دګل په شان غوړېدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

و ، ووایـه دخپـل پلاردعـاطفي مینـې د برجونـو نړېـدو د هغـه ګـل ځـواني دملاتیرکوړکرکـه نـه ؟ مـوږ ډېرلـرې وو ، ډېربـې وسـه ، خوتاسې بـه ډېرډېربې وسه وئ . ضروربه مودخپـل وطـن هربـوټي ، هره تړه اوهرسړی سترګوته ودرېدلي وي !

روهي صاحب خو له خپل هېوادسره ډېره مینه درلودله . وایي چې دمسافروپه پردي وطن کې ځنکدن ډېرسخت وي ، خپـل وطن یـې سترګوته ودرېږي . ووایـه دروهـي صاحب ځنکدن څنګـه و؟ خپـل وطن یې سترګوکې ډېرګرځیده که څنګه ؟ ایادځنکدن په وخت کې مودهغه مخ دوطـن قبلې تـه راړولی وکـه نه ؟ اوکـه دا ارمـان مـوهم ورته پوره نه کړ؟

له مانه خوبـه ډېرګیلـه مـن وې، ځکـه زمااوستاخودزړه یـاري وه، کاشکې خدای پاک پر مینې نه وای مین کړی، که نه نـواوس خـویې بایدوزرونه راکړي وای چې دخپلې مینـې دځنکـدن وروستي سلام ته خوورغلی وای . زه زړه چاته تش کړم . تـه خوښـه وې لـه نـږدې دې دعواطفـواو مینـې دکـوه طورجنـازه ولیدلـه اوتنـده بـه دې ښـه ماتـه کړې وي، خوکاشکې یوځل یوبـل سره مـخ شـواوخپل زړونـه یودبـل پر زړه کېږدو او وګورو چې دچاپـه زړه کـې داورغرونـه زیـاتې زلزلـې کوي .

روهي صیب په پردېسۍ کې د ابدي سفر لمـن ونیـوه، ګـورئ چـې امانتي یې ګور کې کېږدئ، که بیا موږ کې متره پیـدا شـوه، نـو هغـه به یې خپل هېواد ته راوړو. د پښتنو د یو بـل پوهانـد پـه شـان یـې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

قبر ولیکئ چې: ((دا د پردېس محمد صدیق روهي قبر دی که پښتنو زلمو کې چېرې متره پیداشوه، نوهڅه وکي دې خپل وطن ته یوسي)) بیانوکه یووخت زموږ د کړېدلي اومړاوي ملت روح وغوړېده، نو بیابه یې دهېواد په مینه کې سترې هڅه وکي، خپل وطن ته راوړي او زموږ ددې مسافر پوهاند ټکلی روح به ارام شي .

په تېپي مینه
ستابېوسه یون
۱۳۷۵-۲-۲۹
کابل-افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوسني استوګن ادبي بهير ته يوه لنډه کتنه

دا ليکنه د باختر مجلې د ۱۳۷۸ل کال په لومړۍ ګڼه کې چاپ شوې ده، په دې ليکنه کې د طالبانو د واکمنۍ تر پيل وروسته دوه-درې کلن ادبي بهير څېړل شوی دی.

په هره ټولنه کې سياسي، پوځي او ټولنيز شرايط د هغې ټولنې د ژوند په بدلون او اوښتون کې زيات اغېز لري.
ادبيات د ټولنې د عواطفو او اخلاقو هنداره ګڼل کېږي، د ټولنې ښېګڼې، بدګڼې، دردونه، غمونه، خوښي او سوکالي ټول په ادبياتو کې خوندي او له يوه پښت نه بل ته لېږدي. له همدې کبله خو وايي چې «ادبيات د ټولنې وجدان دی». د جګړه ييزو شپبو ادبيات طبعاً د جګړې رنګ لري، ضرور به د غم، درد، وينو او مرګونو انځورونه پکې وي. اوس چې موږ د هېواد په داخل کې خپل ادبي بهير ته ګورو، نو د واکمنو شرايطو څرګند او نيمه څرګند انځورونه مو تر سترګو کېږي. له څو کالو راهيسې چې زموږ ټولنه د پرمختګ پرځای د شاتګ پر لوري روانه ده او د ژوندانه بېلابېلو خواوو ته درانه زيانونه اړول شوي، ادبيات او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادبي بهیرونه هم زیانمن شوي دي. خو که د ټولنې د نورو خواوو په انډول د ادبیاتو زیانمني، ټکني کېدل او پرشاتګ په پام کې ونیول شي، نو ادبیات او ادبي بهیرونه هغومره نه دي زیانمن شوي لکه څنګه چې د ټولنې د ژوند نورې خواوې ټکېدلي او زیانمنې شوې دي. ددې یو علت به هم دا وي چې ادبیات د یو فزیکي موجود په توګه د یو اثر تر چاپ وروسته مطرح کېږي، د جګړې ځانګړنې دادي چې لومړی فزیکي ودانۍ رنګې کړي او بیا ذهني او مانیزه شتمنۍ.

د افغانستان د تېر شل کلن ناورین په بهیر کې هر سیاسي پړاو او پوځي بدلون پر ادبیاتو خپل اغېز شیندلای دی. سره له دې چې ددې شل کلن ناتار اورنیو شېبو زموږ له ادبیاتو، سره لیکه راوتاوه کړې ده خو دې سره سره په هر سیاسي او پوځي پېر کې ادبیاتو او ادبي بهیر د خپلو ځینو ځانګړنو له مخې له یوه پړاو څخه بل ته توپیر موندلای دی.

زه غواړم د ۱۳۷۵ل کال د تلې میاشتې تر پنځمې نېټې وروسته چې په هېواد کې یو بل سیاسي، پوځي او ان فزیکي بدلون راغی، پر ادبي بهیر یو څه رڼا واچوم:

له ۱۳۷۵ل کال راهیسې د هېواد په استوګن ادبي بهیر کې د ادبیاتو د نورو برخو په انډول شعر یا نظم، زیات مطرح شو. ددې وجه داده چې له نظم څخه د سیاسي موخو لپاره ګټه واخیستل شوه. څرنګه چې په افغانستان کې مطبوعات د نورې نړۍ په انډول زیات شاته پاتې دي او هم د ټولنې اکثریت برخه نالوستې ده، نو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی سره د ذهني اړيکو د ټينګولو او پر دوی اغېز شيندلو لپاره شعر يا نظم تر ټولو ښه وسيله شوه. پر موسيقي، سينما، تمثيلي ټوټو او ځينو نورو تفريحي پروګرامونو ټينګ او سست بنديز هم (نظم) ته ددې لاره اواره کړه، چې ځينې خلک ترې د (ترنم) په بڼه د موسيقي خوند هم واخلي.

تر ۱۳۷۵ل کال وروسته په کابل او ننګرهار کې ځو ځله لويې مشاعرې وشوې چې په لسګونو، نه، بلکې په سلګونو شاعرانو او ناظمانو پکې ګډون وکړ، ځينو ته د خپل کلام د اورولو نوبت هم ونه رسېده، خو په همدې بهير کې د څو علمي او ادبي سيمينارونو د جوړولو هڅه هم وشوه او ځينې جوړ هم شول، خو په ډېرې سختۍ د سيمينارونو لپاره په ټاکلې برخه کې ليکنې برابرې شوې. له شعر يا نظم سره د هر يو لوستي او نالوستي مينه ځکه ده چې يو خو د لوستو پر وخت ډېر وخت نه غواړي او بل هغه څوک چې نالوستي دي، هغو ته خو د (ترانو) په بڼه له راډيو څخه وړاندې کېږي او د هغوی د ذوق د خړوبېدو سبب کېږي. له همدې کبله خو په راډيو کې هغه (وخت) چې پخوا به موسيقۍ ته ورکول کېده، اوس ترانو ته وقف شوی دی. په راډيو کې داسې نظمونه هم خپرېږي چې ان د سياسي تبصرو ځای نيسي او د حکومت د رسمي نظر ښکارندويي کوي.(!)

په هرات، کندهار، غزني، کابل او ننګرهار کې چې کومې خپرونې کېږي په هغو کې نظم ته ځانګړی ځای ورکړی شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظم ته د ځانګړې پاملرنې له کبله خو د ((اسلامي امارت)) په نوبت د شعرونو دوه کتابونه: (پګړۍ کې کم نه يې له کاکله ګله) او (اهار) هم چاپ شوي دي. په داسې حال کې چې په نورو برخو کې کوم کتاب نه دی چاپ شوی، يوازې په فرهنګي برخه کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا د افغانستان د فرهنګ د بيا رغونې په باب د جوړ شوي سيمينار د مقالو مجموعه چاپ شوې او په سياسي برخه کې د اسامه بن لادن په باب د شوي سيمينار د مقالو مجموعه چاپ شوې ده.

هغه شاعران چې په هېواد کې استوګن دي هغوی هم د خپلو نورو ليکنو په انډول شعري مجموعې زياتې چاپ کړې دي. په همدې دريو کلونو کې يوازې ځوان شاعر عبدالغفور لېوال د شعرونو درې ټولګې، ځوان شاعر قاضي محمد حسن حقيار د شعرونو يوه ټولګه، د ځوان شاعرانو عبدالعزيز غيرت، اجمل اند، صديق الله بدر او نورمحمد لاهو د شعرونو يوه يوه مجموعه چاپ شوې دي. په ننګرهار کې د څو تنو ځوانو شاعرانو ګډه شوي جونګ (په سيله کې ګلابونه) هم چاپ شوی دی، له دې څخه دا خبره څرګندېږي چې په هېواد کې د ادبياتو د نورو برخو په انډول شعر يا نظم ته پاملرنه زياته ده. په همدې بهير کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د شعر او ادب د ادارې په چوکاټ کې په ځينو سيمو کې د ليکوالو ټولنې هم جوړې شوې، چې کولای شو د ((الينګار فرهنګي يون)) او د ((خوست ادبي ټولنه)) د بېلګې په توګه ياد کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې دواړو ټولنو د هرې يوې غړي له پنځوسو څخه تر سلو تنو پورې رسېږي. ددې دواړو ټولنو اکثره غړي شاعران دي او ځينې يې بيا د ادب په نورو څانګو کې هم ليکنې کوي. پخپله په کابل کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د شعر او ادب اداره هم په منظم ډول په هرو پنځلس ورځو کې يو ځل د کره کتنې غونډه کوي او هغې کې د ځوانو شاعرانو او ليکوالو شعرونه او لنډې کيسې ارزول کېږي.

که په ټولنيز ډول د هېواد اوسني ادبي بهير ارزول کېږي، نو سړی ويلای شي، چې د شعر او نظم برخه يې زياته ګړندۍ او غوښنه ده، د ادب بله هېڅ څانګه ورسره د پرتلې وړ نه ده، په ځانګړي ډول د څومره والي له پلوه.

د څرنګوالي له پلوه هم سړی د هېواد اوسني شعر ته ډېرې هيلې لرلای شي. له منظومو ترانو او شعاري نظمونو پرته چې د وخت د غوښتنو پر بنسټ رامنځته شوي او موسمي عمر او بڼه لري، نور ګڼ شمېر داسې شاعران هم شته چې شعرونه يې له هنري ارزښتونو څخه ډک دي، د ټولنې ډېره ښکلې انځورګري يې کړې ده او شعر ته يې د تلپاتې او ياهم د ډېر عمر جامه جوړه کړې ده. که د ننګرهار، خلافت، کندهار او کتاب مجلې، د هېواد، انيس او ننګرهار ورځپاڼې وکتل شي، نو د شعر په پاڼو کې يې يو شمېر ښکلي شعرونه موندلای شو، چې د بشپړو هنري ښکلاوو لرونکي دي. همدارنګه د راډيو له خپو څخه هم کله کله ځينې شعرونه خپرېږي چې د خواږه ترنم ترڅنګ يې شعري جوهر هم ډېر ښکلی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلنده دی. داسې ښکاري چې په هېواد کې د شعار مزي ورو ورو سستيږي او بازار يې سړېږي. په هېواد کې ددې ادبي بهير په پيل کې ځينې داسې ناظمان، چې زيات مطرح ښکاريدل، اوس ورو ورور خپل ارزښت بايلي او ځای يې شاعران نيسي، له تشو شعارونو، سپوره نظمونو او کليشه يي خبرو څخه اخير د انسان ذهن ستړی کېږي او هر وخت د سړي زړه کېږي چې ښکلو شعرونو ته د زړه رازونه او غمونه وسپړي او رازونياز ورسره وکړي. په هېواد کې د شعر د بريمن يون له هيلو سره سره د ادبياتو په نورو څانگو کې د تخليقي اثارو کمی احساسېږي. که څه هم اوس په استوګن ادبي بهير کې د شعر ترڅنګ لنډې کيسې ته هم څه نا څه پاملرنه کېږي. د شعر او ادب په اداره کې کله کله پر لنډو کيسو کره کتنه کېږي. ددې ليکوالو په کيسو کې ځينې داسې لنډې کيسې هم شته چې د پوره او بشپړې لنډې کيسې په تول پوره خېږي او د لوستونکي هنري تونده پرې ماتېږي. ځينې ښکلې لنډې کيسې په هېواد، انيس او ننګرهار ورځپاڼو او همدارنګه په کندهار، ننګرهار، کتاب او خلافت مجلو کې هم خپرې شوې دي، خو په ځانګړې او مستقل ډول دننه په هېواد کې د لنډو کيسو کومه ټولګه چاپ شوې نه ده.

پر اوسني وخت په چاپي بڼه په هېواد کې د منځي داستان او اوږد داستان کومه چاپي بېلګه ليدل شوې نه ده، البته ځينې ليکوال په خصوصي ډول يادونه کوي، چې منځني داستانونه او ناولونه يې ليکلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په ټولیز ډول د هېواد اوسنی ادبي بهیر ارزول کېږي، نو سرې ویلای شي چې زموږ اوسنۍ ادبي برخه کې د شعر یا نظم تله خورا درنه ده. په دویمه کټګورۍ کې لنډه کیسه او ځینې هنري نثرونه راځي. د منځنۍ داستان او ناول برخه مو زیاته خواره ده او همدارنګه د نورو ادبي ژانرونو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په لیکوالۍ کې د حقارت عقده

دا لیکنه هم د هیلي مجلې په یوه ګڼه کې خپره شوې ده.

هر انسان چې په ټولنه کې د حقارت پر عقده اخته وي، د ژوند لارې او ډګرونه پرې ورو – ورو راتنګېږي، د دې پرځای چې په ژوند کې پرمختګ وکړي، شاتګ کوي او په ټولنه کې د نورو وګړو په انډول د ژوند له کاروانه شاته پاتې کېږي.
عقده من او کینه ګر شخص په حقیقت کې د خپل ځان دښمن دی، د دې پرځای چې پر خپل ځان کار وکړي، د نورو ژوند او کارونو ته متوجه وي، دا ډول اشخاص ټول عمر تر نورو خپل ځانونه ټیټ ګڼي او همدغه حقارت ورو – ورو د دوی پر ذهني او روحي عقدو بدلېږي او دا بیا د دوی د ذهن او روان د ځپنې لامل ګرځي او په نتیجه کې دا شخص هم له فکري پلوه او هم له جسمي پلوه ډېر کمزوری کېږي.
ارواپوهان وایي: په ټولو ژوندیو موجوداتو کې د زهرو ماده د همغه ژوندي موجود له قهر او غوسې څخه جوړېږي، همدا قهر او غوسه د وخت په تېرېدو سره په زهرو بدلېږي. دوی د بېلګې په توګه د (مار) یادونه کوي. اروا پوهان وایي: مار چې په ژوندانه کې له ګرمۍ، یخنۍ او یا له کوم بل ناعادي حالت سره مخامخ شي، نو په غوسه کېږي او قهر ورځي، د همدغه فشار له امله یو ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

مایع مواد تولیدوي، دا مایع مواد بیا د مار خولې ته راځي او هلته بیا په یوه ځانګړې کڅوړه کې راټولېږي، د همدې کڅوړې او د مار په خوله کې د غاښونو ترمنځ یوه لاره ده، د مار په غاښونو کې بیا ډېر نري – نري سوري دي، کله چې انسان یا بل کوم ژوندی موجود وچیچي، د همدې غاښونو له لارې همدا مایع مواد د هغه وجود ته انتقالوي او هغه له نورمال حالت څخه وباسي. ارواپوهان وایي چې همدغه ډول زهر د انسان په وجود کې هم شته، چې د قهر او غوسې پر وخت تولیدېږي، خو انسان بیا ورته د مار په شان ځانګړې کڅوړه او د راټولولو ځای نه لري. نو کله چې په قهر شي، غوسه ورشي، نو له همدغه قهر څخه راپیدا شوی تاو یې ټول وجود ته تیت شي، نو ځکه یې ټول وجود کمزوری شي، دا ډول اشخاص له ذهني او جسمي پلوه چندان ځواکمن نه وي. زغم، صبر او اوسېله یې کمه وي او د هرې پېښې پروړاندې ډېر ژر او چټک عکس العمل ښیي.

عقده او حقارت د ژوند په هر ډګر کې له یوې مخې منفي پایلې هم نه لري،کله – کله معکوسه (مثبته) نتیجه هم ورکوي، مانا دا چې د منفي عقدې او کینې له امله مثبت کارونه رامنځته کېږي. د نړۍ یو شمېر لوی شخصیتونه د کینې، عقدې او پېغور له امله د ستروالي پوړۍ ته رسېدلي دي، د بېلګې په توګه یو عادي پېغور د دې سبب شو چې ستر نومیالي افغان شاعر امیرحمزه بابا پښتو شاعرۍ ته مخ راواړوه. د افغانستان د معاصر تاریخ د ډېرې درنې ستې (محمد ګل خان مومند بابا) په باب هم ویل کېږي چې یو عادي پېغور د دې سبب شو، چې د ده ټول وجود او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذهن پښتوپالنې ته واړوي، همداراز د نړۍ نورې ګڼې مثبتې پېښې د همدې کينو، عقدو او پېغورونو له غبرګونونو څخه رامنځته شوي دي او شخصيتونه يې ښه ځلېدلي دي، خو د دې ډول پېغور، کينو او عقدو لوری مثبتې خوا ته و.

خو راځو دېته چې عقده، کينه او رخه په ليکوالۍ کې د ليکوال پر کار او فرهنګي هڅو څه اغېز لري؟ لکه څنګه چې مو پورته اشاره وکړه، که چېرې څوك د يو مثبت ارمان او يا هم سترې هېوادنۍ او ملي هيلې د بري لپاره په ځان کې کوم تاو، کينه او يا هم عقده راټول کړي او هغه ټول د همدې ارمان د بري لپاره وکاروي، نو بيا خو کېدی شي سترې برياوې ترلاسه کړي، خو که چېرې کوم شخص بې ارمانه عقده من وي، يا يې هم عقده او کينه فردي وي، نو هغه بيا د خپل ځان دښمن دی، پرته له دې چې خپل ځان وځوروي او وکړوي، نور څه يې لاسته نه ورځي، د دې ډول عقدو د حل لاره يوازې دا ده چې د ده مقابل سيال شخص په هر ډګر کې تر ده وروسته پاتې شي، سره له دې چې د هغه ژوند بېل وي او د ده بېل، خو دا ډول اشخاص د خپل ژوند سوکالي او بدمرغي د نورو د ژوند له سوکالۍ او بدمرغۍ سره پرتله کوي، که د هغو ژوند ښه او ځلند و، نو د ده ژوند خراب دی، که د هغه خراب و، نو د ده بيا ښه دی. سره له دې چې د دوی دواړو د ژوند ترمنځ هېڅ ډول فزيکي، اقتصادي او يا کوم بل ډول مستقيم تړاو نه شته، استاد الفت په خپل يوه نثر کې د دې ډول اشخاصو يو ښه مثال وړاندې کوي، هغه وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"زما یو دوست دی، خدای(ج) هرڅه ورکړي، یو کور یې دلته، بل یې په کابل کې، بل یې یو بل ځای کې، غواوې لري، موټر لري، هستي لري، ښه د مځو او سړو خاوند دی، مانا دا چې شتمني یې ښه پرېمانه ده او ته به فکر کوې چې دی د دنیا له غمو بېغمه دی، خو دی هم کله – کله ځورېږي، کړېږي او خپه وي.

خپه په دې وي، چې زما یو بل دوست دی، هغه تر ده هم زیاته هستي او شتمني لري، د ده د ځورېدلو علت دا دی چې هغه بل ولې تر ده زیاته شتمني لري".

د دې خبرې مانا دا ده چې ځینې خلك د خپل ژوند سوکالي، غم، خپګان د نورو د سوکالۍ او بدمرغۍ په کچې پورې تړي.

له بده مرغه چې زموږ یو شمېر لیکوال هم پر همدغې ناروغۍ اخته دي، دوی هم د دې پرځای چې فرهنګي کار وکړي او له خپل کار او هنره خوند واخلي، د نورو کار ته متوجه وي، چې نور څه کوي؟ زیات کار کوي که کم؟ څنګه یې کوي؟ سرچینې او منابع یې له کومه ځایه دي؟ دا هر کار چې کوي په دې کې به د ده شخصي ګټه څومره خوندي وي؟ د میاشتې عایدات به یې څومره وي؟ همداسې نورې په لسګونو "ولې" او "څنګه" (د دې ډول اشخاصو په ذهنونو کې تاوېږي او له خپل اساسي کار او ژونده یې کږوي، یوشمېر تصنعي، تکلفي او هغو لیکوالو ته چې پر فکري خلا اخته دي، بېخي یوه رواني عقده او رنځ پیدا شوی) چې ولې داسې کېږي (دا نور لیکوال ولې کار کوي؟). د دې ډول په اصطلاح لیکوالو د دې رنځ او عقدې یو بل اساسي علت دا دی چې دوی د خپل استعداد په اندول ځان ته د زیات څه تمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـري، خـو د دوی کـړی کـار او اسـتعداد هغـه هـیلې نـه شـي پـوره کـولای، نـو ځکـه خـو یـې د نـورو بریـاوو تـه پـام شـي او هغـه بیـا د خپلو ماتو د علت په توګه ګڼي.

یوشمېر خو بیا داسې هم دي، چې نوره لیکوالي یې په سلو کې شـل بـرخې ده، خـو انتقـادي لیکنـې یـې پـه سـلو کـې اتیـا برخـو تـه ختلې دي، هغو خپل ذهن داسې روزلی چې په هرڅه کې باید اول له خپل نظره، منفي شیان او یا هم نیمګړتیاوې رابرسېره کړي، د هغو په ذره بین کي هېڅکله هم مثبت کارونه او ښېګڼې نه لیدل کېږي، ځکه دوی چې له سره قلم را پورتـه کـوي او ذهـن لیکلـو تـه تیاروي، نو ذهنیت یې منفي وي او لیکنه هم لـه همدې لیـدلوري کوي، دا ډول کسان په حقیقت کې د دري ژبې په اصطلاح (منفي بافان) دي. د روزنې په پرتله یې د غندنې او د سمون پرځای یې د کار ورانۍ تله درنه ده. دا ډول په اصطلاح کره کتونکي غـواړي لـه ځوانو لیکوالو لار ورکه کړي، لکه څنګه چې له دوی څخه ورکه ده.

دوی بیـا دا فکـري ځـواك هـم نـه لـري، چـې د ښـه کـار او کـره لیکوالۍ معیارونه مشخص کړي، چې نور لیکوال بیـا همغـه لاره تعقیب کړي او دوی بیا په کې څه ونه وایي.

دوی په ټولنه کې هېڅ وګړي او هېڅ لیکوال ته له مثبت لیـدلوري نـه ګـوري او پـه هـر چـا کـې کـې بـه یـوه (خـو) راباسـي. لـه دې ډول لیکوالـو ایډیـال ورك دی، سـړی نـه پوهېـږي چـې څـه غـواړي، وروستی هدف او موخه یې څه دي؟ چې ورته ووایې: ستاسو په نظر پـه ټولنـه کې ښـه سـړی او لیکـوال څوك دی او بایـد یـو شـخص یـا لیکـوال کـوم معیارونـه پـوره کـړي او کومـو پوړیـو تـه ورسـېږي چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو ته د منلو وړ وي؟ نو په څوب کې به درته ووايي چې والله نو دې سره يې زموږ کار نه شته، زموږ کار يوازې د نيمګړتياوو په ګوته کول دي، ښېګڼې خو هسې هم شته. که بيا ورڅخه وپوښتې چې يوازې د چا نيمګړتياوې بيانول او پر ښېګڼو يې غلې پاتې کېدل به د کره کتونکي نياو (انصاف) تر پوښتنې لاندې را نه ولي او مقابل لورى به خپه او خواشينى نه کړي؟ بيا به نو درته ووايي چې نه نو ستاينه خو زموږ کار نه دى او که ورته ووايې څه کېږي هغه کارونه چې نورو نه يې دکره تر سره کولو هيله لرئ، خپله متې را بډوهئ او تر سره يې کړئ! نو بيا به درته ووايي چې دا خو زموږ کار نه دى دا د هغوى کار دى بايد له کومې نيمګړتيا پرته يې تر سره کړي.

دا ډول کره کتونکي يوازې ثمر او تيارې مېوې ته په تمه دي، دا چې دا مېوه په څومره تکليف تر لاسه کېږي او څومره خولې پرې تويېږي، دا زيار او زحمت نه محاسبه کوي او نه د خپلې ټولنې او کار وسايلو ته ګوري، نه د ليکوال چاپېريال او امکاناتو ته! بس يوازې هغې مېوې ته منتظر دي چې يوازې دده په ذوق برابره وي.

يو څوتنه بيا داسې دي، چې هغوى د فکري خلا تر څنګ پر اقتصادي عقدې هم اخته دي، مانا دا چې هر مثبت او کړى کار له اقتصادي ليدلوري ګوري. زموږ يو ليکوال ملګري د يو ادبي کتاب د چاپولو تکل کړى و، د چاپ لګښت د پوره کولو لپاره يې يوشمېر هغو افغانانو ته ليکونه ولېږل، چې له ده سره يې د پېژندګلوۍ نږدې اړيکي وو، هغوى تر خپله وسه د دې کتاب لپاره بسپنه ورکړه، له ۵۰۰ پاکستانۍ کلدارو نيولې تر درې څلورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو پاکستانۍ روپیو پورې، هر یو مرسته وکړه. په ټولیز ډول شپږ – اووه تنه په دې مرسته کې راټول شوي وو. کله چې لیکوال دا ټولې بسپنې راجمع کړې، نو د کتاب د چاپ لګښت یې پوره کړ، خو د کمپوز او ایډیټ لپاره یې لا پیسې پوره نه شوې، لیکوال له دود سره سم د ټولو مرستندویانو نومونه ولیکل او مننه یې ورڅخه وکړه. د هر یو د پیسو اندازه یې بېلابېله ځکه ونه لیکله، چې د ځینو پیسې لږ وې او د ځینو بیا د هغوی په انډول زیاتې. ده فکر وکړ، هسې نه چې پر ځینو باندې د پیسو یاد شوی مقدار ښه ونه لګېږي او په زړه کې ورته ځان کم ښکاره شي. نو له ټولو څخه یې عامه مننه وکړه، کله چې کتاب چاپ شو، نو د نورو لیکنو ته د منتظرو کره کتونکو(!!) له جملې څخه د یوه لاسته ورغی، پر کتاب یې یوه اوږده لیکنه وکړه، چې ځای– ځای ترې د کینې، تمسخر او ناوړه تعبیرونو بوی راته، د دې کره کتونکي د لیکنې مرکزي ټکی دا و چې د کتاب لیکوال له ډېرو خلکو څخه بسپنې راټولې کړې، ځکه چې د مرستندویانو نومونه زیات وو. د هغو د مرستو په یوې برخې یې دا کتاب چاپ کړی او نورې یې ځان ته خوندي کړې دي!؟ د کره کتونکي له لیکنې څخه داسې ښکارېدله چې ددې کتاب په باب یې څو ځله ځان سره (سوی تبسم) کړی او غوښتې یې دي نور هم (سوی تبسم) ته وهڅوي.

زه خپله د دې کتاب د لیکوال او کره کتونکي ترمنځ په داسې یو منځني دریځ کې وم، چې د دواړو حالات راته ښه معلوم وو، ځکه زه خبر وم چې د کتاب لیکوال په ډېر زړه چاودون او دوه کلنو منډو تړړو ایله په دې بریالی شو، چې هم دا کتاب ترتیب کړي او هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهرمېشتي افغانان وهڅوي، چې د دغه کتاب د چاپ لګښت پرې کړي، خو ښاغلي کره کتونکي د ليکوال هغه دوه کلنې منډې ترړې او ستر فرهنګي ارمان هېڅ په پام کې نه و نيولی، يوازې پر همدې ټکي يې زور راوړی و، چې ليکوال له ډېرو خلکو پيسې اخيستي ، خو کتاب يې پرې يوازې همدا يو چاپ کړی دی. داسې ښکارېدله چې د کره کتونکي فکر د يوه اقتصادي محروميت په دايره کې راګير و، ځکه خو يې د کتاب د مانيز ارزښت پر ځای د اقتصادي ګټې او هغه هم د شکمنې اټکليزې ګټې لوري ته زياته لېوالتيا درلوده، دلته معلومېږي چې د لومړي ليکوال اصلي غايه فرهنګي کار و، چې ويې کړ او عملي بېلګه يې خلکو ته وړاندې کړه، خو د کره کتونکي ليکنه بيا د هغه د خپل هغه اقتصادي محروميت انعکاس و، چې دده په لاشعور کې پروت دی او دی د نورو کړی کار د همدې لامل نتيجه ګڼي. که داسې وګڼو چې ليکوال د کتاب د چاپ له پلوه اقتصادي ګټه هم کړې وي، نو بيا خو هم بده خبره نه ده، کاشکې زموږ په ژبې او زموږ په ولس کې کلتوري کار د دې جوګه شي، چې ليکوال ورڅخه تغذيه شي او بل کار ته اړ نه شي، بله خبره دا ده که کره کتونکي ته په دې ډول هڅو کې اقتصادي ګټه متصوره وي، نو ښه به دا وي چې دی خپله هم دې کار ته راودانګي، چې هم فرهنګي کار وکړي او هم پيسې وګټي، يانې دا چې هم يې خرما نصيب شي او هم ثواب. څومره به ښه و، چې زموږ په هېواد کې په کلتوري او علمي کار کې پيسې وای، چې ټولو خلکو همدې کار ته ملا تړلې وای او د جنګ پرځای مو د فرهنګ لاره خپله کړې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازې ځينې په اصطلاح کره کتونکي نه دي، چې پر دې ناروغۍ اخته دي، بلکې يو شمېر نور ليکوال هم شته چې زياته انرژي يې د خپلو همځنګو ليکوالو د شخصيت پر تخريب او سپکاوي لګېږي او ټوله ورځ په ګړنې تبليغ تېروي، هغه د چا خبره خپله درنه او د بل سپکه وايي او په دې ډول غواړي د خپل حقارت عقده آواره کړي. خو د کره کتونکو (!) د زغم جام بيا تر دوی ډېر ډك دی، نو ځکه خو د نورو د کړي کار پروړاندې ژر تر مورګو ډك شي او نتيجه يې يوشمېر هغه ليکنې شي، چې د ودانۍ پرځای يې د ورانۍ او د ستاينې پر ځای يې د غندنې تله درنوي.

ددې ډول ليکوالو يا کره کتونکو په باب به په پای کې وروستی خبره دا وکړو؛ دا هغه ډول ليکوال دي چې د نورو ثمر ته منتظر وي، که اصلي ليکوال څه شی توليد نه کړي يا کره يا نيمګړی، نو دې دويم لاس ليکوالو ته بيا کار هم نه پيدا کېږي، ځکه چې دوی خو اصلاً د بل چا کار ته منتظر وي، چې هغه د خپل کار ثمره او بېلګه ټولنې ته وړاندې کړي او دوی بيا هغه وڅکي چې په ذوق يې برابره ده او که نه؟ کله چې يې په ذوق برابره نه شي نو بيا د عيبونو لرليد يا زره بين ورته اړم کړي او په لسګونو عيبونه په کې پيدا کړي. دا ډول ليکوال په حقيقت کې په ټولنه کې دويم لاس ليکوال دي، چې د لومړي لاس ليکوالو (توليدوونکو) ثمر ته منتظر دي، ډېرې هغه ليکنې چې دې ښاغلو کره کتونکو کړي، په حقيقت کې د هغو ليکنو زېږنده دي چې تر دوی دمخه شوي او دوی بيا د هغوی په باب دا ليکنې کړي، که چېرې هغو ليکوالو دا ليکنې نه وای کړي، نو ددوی ليکنې به هم هېڅ نه وې، دا خبرې په دې مانا

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه دي، چې په ليکوالۍ کې دې هم هرې ګډوډۍ ته لاره اواره شي او هرڅوك چې هر څه يې زړه غواړي هغه دې وليکي، د هرکار لپاره يو لړ معيارونه وي، چې د هغو له مخې د يو کار ښېګڼې او بدګڼې تلل کېدی او ا رزول کېدی شي، دې کې شك نه شته چې کره کتونکی دليکوال استاد دی، يانې په دې مانا چې دکره کتونکي علمي کچه بايد تر ليکوال لوړه وي، چې هغه ته سمه لاره وښيي او که چېرې کره کتونکي سره دعلمي استدلال او منطق توره نه وي او بيا هم سپوره انتقادي ليکنو ته دوام ورکوي، نو دګټې پرځای به يې تاوان زيات وي. کره کتونکی بايد د ا ټکی هم په پام کې ونيسي، چې د وينا او عمل تر منځ واټن وي، هغه څه چې موږ يې له نورو د عملي کولو هيله لرو، ښه به دا وي چې موږ خپله اول ځان دهغه کار دعملي کولو په دايره کې انځور کړو، چې که چېرې هغه کار راته شونی ښکاره شو، نو بيا به يې بل ته هم دعملي کولو لارښوونه وکړو او که نه خو د شاعر دهغې خبرې مخ به خپله موږ ته راواوړي چې ويلي يې دي:

دا وينا دي وکړه ځان ته زمرياليه
عمل ګران ګفتار اسان دی که پوهېږې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مونوګراف لیکنې ګټې او اړتیاوې

> دا لیکنه د کابل پوهنتون د علمي مجلې د ۱۳۷۸ل کال په (۲-۳) ګڼه کې خپره شوې ده.

د پوهنتوني او پوهنيزو آرونو (اصولو) لـه مخې د نړۍ په ګڼ شمېر پوهنتونو کې د بېلابېلو څانګو فارغان پر دې مکلف دي، چې د فراغت پر وخت دخپلې تحصيل کړې څانګې د يوې موضوع په باب، يو څېړنيز او تحليلي اثر وليکي. دا کار دنړۍ په زياترو پوهنتونونو کې دود دی، خو ځينې پوهنتونونه په ځينو ځانګړو څانګو کې د مونوګراف يا د ليکنې پر ځای (دولتي ازموينه) اخلي. دولتي ازموينه داسې بڼه لري چې د همغې څانګې واکمن استادان او د اړوندې اکاډيميکې موسسې نور مخور چارواکي، په يو ځای (علمي کنفرانس خونه او يا کوم بل ځای) کې سره راټولېږي، فارغ التحصيل ته وخت ورکوي، چې د يوې ټاکلې موضوع په باب لکچر ورکړي، نور استادان له ده څخه د همدې ټاکلې موضوع او هم د تحصيل په بهير کې د نورو موضوعګانو په باب پوښتنې کوي، هر ښوونکی د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې پوښتنې د ځواب په باب نومرې ورکوي، په پای کې دا ټولې نومرې راټولوي، که د بریالیتوب نومره یې ګټلې وه، نو بریالی ګڼل کېږي. دولتي ازموینه کله کله لیکنۍ بڼه هم لري او فارغان ټاکلو پوښتنو ته یوه ټاکلې ورځ او پر ټاکلي وخت لیکلي ځوابونه ورکوي. کابل پوهنتون هم دنړۍ د نورو پوهنتونونو په شان د پوهنیزو اصولو له مخې له ځینو ځانګړو ځانګو پرته، خپل فارغان پر دې مکلف کړي، چې د فراغت پر وخت خپل پایلیک (مونوګراف) ولیکي.

د مونوګراف لیکلو اصول دادي، چې کله یو محصل د خپل فراغت وروستي سمستر ته داخل شي او یا تر هغه دمخه نو د خپلې ځانګې یو استاد سره د یوې موضوع په باب مشوره کوي. لارښود استاد محصل ته داسې یوه موضوع ټاکي، چې د څېړنې وړ وي او د اخځونو پیداکېدل او د څېړنې کار یې شونی وي. کله چې د لارښود استاد له خولې محصل ته موضوع وټاکل شوه، نو هغه پر عملي څېړنه او پلټنه پیل کوي، هر کله چې د مونوګراف کومه برخه بشپړه وي، نو لارښود استاد سره مشوره کوي، لارښود استاد د سمون، زیاتون او صیقل تر لارښوونې وروسته بېرته هغه برخه محصل ته سپاري او هغه په کې هغه سمون راوړي، همداسې د پایلیک نورې برخې هم لیکي، پایله دا شي، چې د څو میاشتو په بهیر کې د محصل مونوګراف بشپړ شي.

د یادونې وړ ده چې د موګراف موضوع تر ټاکلو دمخه لا محصل د مونوګراف لیکنې له اصولو سره اشنا ځکه وي، چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولګي کې د تدریس په بهیر کې د یو تدریسي مضمون په توګه تشریح شوي او د مونوګراف لیکنې اصول په ګوته شوي وي.

په مونوګراف لیکنه کې د موضوع ارزښت او د لیکنې کمیت ضرور په پام کې نیول کېږي. یو پایلیک باید لږ تر لږه له ۳۰-۳۵ مخونو څخه کم نه وي، یانې کم حد یې همدغه دی، نور که تر دې زیات وي هغه نو خپله د لیکوال په کار او زغم پورې اړه لري، چې ټاکلې موضوع څومره په ښه ډول شنلای او څېړلای شي.

کابل پوهنتون تقریباً د اوو لسیزو فعالیت په بهیر کې تر شلو ښت زرو نه زیات فارغان ټولنې ته وړاندې کړي دي. په دې کې ګڼ شمېرو یې خپل مونوګرافونه لیکلي دي. تر ۱۳۷۱ل کال دمخه د کابل پوهنتون په کتابتون کې تر (۲۰۰۰) ټوکو زیات مونوګرافونه خوندي وو. د پوهنتون د محصلینو د ټولو لیکلو پایلیکونو شمېر کېدی شي، تر دې زیات ځکه وي چې د مونوګراف یو ټوک (کاپي) په خپله څانګه کې خوندي کېږي او دویمه کاپي یې د یو مکتوب په واسطه مرکزي کتابتون ته لېږل کېږي، څومره چې په څانګه کې د مونوګراف خوندي کېدل حتمي وو، په مرکزي کتابتون کې نه وو. اداري بیروکراسي هم کېدی شي بل عامل وي، چې مرکزي کتابتون ته یې د مونوګرافونو د لېږلو منظمه لړۍ ټکنۍ کړې وي، خو په هر ډول همدا شپږ زره عنوانه پایلیکونه هم د دې ښکارندویي، کوي چې زموږ په هېواد کې یوازې د کابل پوهنتون (محصلینو- فارغانو)

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ زره بېلابېل علمي، تاريخي، هنري او کلتوري موضوعګانې څېړلي او کوچ يې ترې راکښلي دي. دا په خپله د يو هېواد د ټولیز فرهنګ د غنا لپاره يو ستر ګام دی.

د مونوګراف ليکنې له کبله يو محصل د ليکوالۍ پر فن پوهېدی شي او هغه کولای شي چې د همدې فن په واسطه په راتلونکي کې په خپله څانګه کې نورې ليکنې او پلټنې وکړي او په ټولنه کې د خپلې څانګې د يو مسلکي غړي په توګه ځان زبات کړي.

د پايليک بله ګټه داده؛ تر هغه پورې چې د پوهنتون يو فارغ خپل پايليک نه وي ليکلی او ارزونې ته يې نه وي وړاندې کړی، نو که دی په هر دولتي مقام کې مقرر شوی وي، ده ته د تحصيل امتيازي معاش نه ورکول کېږي. دغه راز د ديپلوم له سند نه محرومېږي. نو که يو څوک غواړي له خپلو بشپړ تحصيلي حقوقو څخه برخمن شي، بايد د خپل پايليک بشپړاوي ته ډېر زيات پام وکړي او هغه وليکي.

د کابل پوهنتون په مونوګرافونو کې ځينې داسې هم وو، چې د ځانګړو او مستقلو اثارو په توګه چاپ شوي، خير يې نه يوازې ليکوال، بلکې ټولې ټولنې ته هم رسېدلی دی. يو لړ مونوګرافونو د همغو څانګو د مضمونونو د مرستندويو توکو په توګه هم کار کړی دی. په ګانده (اينده) کې هم د دې اټکل شته چې داسې نور ښه ښه پايليکونه وليکل شي، چې نه يوازې يوه څېړنيزه موضوع وي او د فارغ التحصيل د پايليک کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړي، بلکې دا مرستندویو درسي موادو په توګه هم وکارول شي او تر چاپ وروسته یې ګټه عامه شي.

د کابل پوهنتون په پښتو څانګه کې همدا اوس (۲۰۰) عنوانه پایلیکونه خوندي دي، چې ۲۰۰ بېلابېلې کلتوري موضوعګانې یې څېړلې دي. دا په خپله په کلتوري برخه کې یو ډېر لوی بری دی او زموږ د ټولنې د کلتوري څېړنې په برخه کې یو بې ساری او د ستاینې وړ ګام دی. ددې مونوګرافونو نوملیک خپور شوی، نو که په راتلونکي کې د پښتو څانګې کوم محصل ته موضوع ورکول کېږي هغه باید له دې موضوعګانو بېله وي او باید نوې موضوع وي. د پښتو څانګې له مونوګرافونو څخه د ګوتو په شمېر مونوګرافونه چاپ شوي ، خو ځینې داسې مونوګرافونه په یاد شوي شمېر کې شته چې چاپ یې ډېر اړین برېښي.

د مونوګراف لیکنې بله ګټه داده، چې دلته له فارغ التحصیل څخه یو لاسته راوړنه (یو اثر) پاتې کېږي او بل محصل دې ته اړ کېږي، چې په علمي څېړنه او پلټنه کې برخه واخلي. لارښود او مرستندوی استاد هم د درسي مکلفیت له مخې ورسره مرسته کوي. دلته چې څوک عملي څېړنه او پلټنه ونه کړي نو بیا به یې څه وخت کوي؟ تر دې وروسته خو د شخص ټولنیز او رسمي مکلفیتونه زیاتېږي او نه ورته بیا داسې یو لارښود استاد پیدا کېږي، چې هم دې وخت ولري او هم دې وړیا ورسره کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په لنډ ډول خپل نظر راټول کړو، د پورتنیو دلایلو له مخې ویلای شو چې مونوګراف لیکنه هم د محصل د عملي تجربې د پخولو لپاره یو ښه کار دی او هم د علمي ګټې له امله، ځکه نه یوازې ځانګړې ځانګې، بلکې ټولې ټولنې ته یې ګټه رسېږي. د دولتي ازموینې په اړه ول یې ګټه داده چې ازموینه تېره او هېره شي، خو مونوګراف لیکنه لږ تر لږه د یو اثر په توګه اړونده ځانګې او ټولنې ته وړاندې کېږي او پاتې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکوال، کتونکی او لوستونکی

دا لیکنه ما هغه وخت وکړه، چې له یو عملي مشکل سره مخامخ شوم او یو لیکوال له ما څخه ډېر زیات خواشینی شو، ځکه چې ما یې په لیکنه کې ژبنی او انشایي سمون راوستی و. دا لیکنه هم همغه وخت په هیله مجله کې چاپ شوې ده.

اوس اوس دلوی خدای(ج) په فضل او د افغانانو په همت ګڼ شمېر مجلې او کتابونه چاپېږي. ددې مجلو او کتابونو مانیزڅرنګوالی چې هر ډول وي پر هغو دلته بحث نه کوو. خوغواړو ددې خپرونو پر لیکنې څرنګوالي، سمون (ایډیټ) او چاپچارو وغږېږو او بیا پر هغو مسایلو بحث وکړو، چې د لیکوال، کتونکي (ایډیټر) او د لوستونکي تر منځ شته او کله کله د ناوړه پوهاوي،خوابدیو، او د یوې خوا (ایډیټر ) دذهني ځواک د قربانۍ سببېږي، لیکوال هم پرې یوڅه نارضایتي څرګندوي اولوستونکي هم دنورو غوښتنو هیله کوي.

**۱ - لیکوال:** لیکوال هغه شخص دی چې لیک کوي او یوې چاپي یابلې خپرونې ته خپله لیکنه د خپرېدو لپاره ورلېږي. څرنګه چې لیکنه دلیکوال د خپل فکر وخیال، کاراو زیار زېږنده وي ، د ستر کړاو په نتیجه کې یې رامنځته کړې وي او هغه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخپل اولاد په شان خوږه وي، نو هغه هیله لري چې لیکنه یې کټ مټ او له لاسوهنې پر ته خپره شي. لیکوال کله کله د خپل روحي او فکري فشار په خولو کې دومره ډوب وي، چې د خپلې لیکنې یو شمېر نیمګړتیاوو ته یې پام نه کېږي،د مانیزې نیمګړتیا تر څنګ په لیکنۍ برخه کې هم یو شمېر څرګندې تېروتنې لري او که چېرې دالیکنه د یو واکمن ایډیټر له ژورلیده تېره نه شي، نو هم د لیکوال شخصیت او علمي حیثیت ته زیان رسوي او هم د خپرونې باور او حیثیت ته! ددې تر څنګ لیکوال هیله لري چې لیکنه یې له چاپي تېروتنو پرته په پوره سمون سره چاپ او خپره شي.

د یاد وړ بله خبره داده چې له لیکوال او دخپرونې له چلوونکې سره د لیکنې معیار په باب یو ډول فکر نه وي . یانې داچې لیکوال خپله لیکنه له مانیز او لیکنې پلوه پوره او کره ګڼي، او که کره یې ونه ګڼي، نو بیا خو یې ګرد سره خپرونې ته رالېږي نه.

د دې خبرې نچوړ دادی چې لیکوال دخپلې لیکنې پر کره والي، درستوالي او سموالي باوري دی او پر همغه ډول یې د چاپ او خپرېدو غوښتنه کوي.

***۲- کتونکی (ایډیټر) یاد خپرونې چلوونکی:*** چاپي خپرونو کې تر ټولو ستونزمن، چینجن او سخت کار د همدې کتونکي پر غاړه دی.کتونکی یا ایډیټر هغه قرباني شوی او قرباني کېدونکی شخص یا لیکوال دی، چې د لیکنې د کره والي ټول امتیاز یې لیکوال ته ځي خو د چاپي تېروتنو یاپه اصلي بڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د راغلیو املایي او انشایي تېروتنو ټول مسولیت او تر یوه حده د لیکنې مانیز څرنګوالی د کتونکي غاړې ته لوېږي، دلیکوالو دکمزورو لیکنو د خپرېدو له امله د خپرونو دکیفیت راټیټېدل، بله هغه ستونزه ده چې دخپرونې ژوند او حیثیت ورپورې تړلی دی. د هېواد د یونامتو لیکوال حبیب الله رفیع په وینا: ((دکتنې او ایډیټرۍ کار د اشپزۍ مثال لري، که یو اشپز له وریجو څخه په سلګونو شګې اونورې بلاوې ټولې کړي او کومه یوه شګه که د هغه له ذره بین څخه پاتې شوه او هغه بیا د خوراك پر وخت د خوړونکي تر غاښ لاندې شوه، نو د اشپز ټوله خواري په اوبو لاهو شوه."

دیوې لیکنې په خپرولو کې هم دکتونکي مثال همداشان دی. که یو کتونکی په سلګونو ځایه دلیکوال املایي، انشایي او نورې ژبنۍ تېروتنې اصلاح کړي، خوکه تصادفاً کوم ځای انشایي، املایي او یا طباعتي تېروتنه پاتې شوه، نوبیا خو ژرترژره دکتونکي پر وړاندې د لوستونکي او په خپله د لیکوال تریخ غبرګون څرګندېږي.

**۳ـ لوستونکی:** لوستونکی هغه پاړکی دی چې هغه دلیکوال له ذهن او د کتونکي له پالونکو ګوتو راوتلي ثمر ته ناست دی. هغه د لیکنې له لیکنې زحمت او بیادکتونکي له خوا د هغې د بیابیاکتنې له دوراني حرکت نه خبرنه دی، دهغه کار له تیارې او خوندورې مړۍ سره دی او باید وي هم، ځکه چې هغه دوه تېرې دندې خو اصلاً په دوی پورې هېڅ اړه نه لري ، نو که

(c) ketabton.com: The Digital Library

چېرې یوه مېوه په ډېر زحمت هم لاس ته راغلې وي، خو چې دده د ذایقې احساس پوره خړوب نه کړي یا لږ شان تروه او پیکه وي د لیکوال تر څنګ یې کتونکی هم تر ملامتۍ لاندې راولي، چې ولې یې دومره نیمګړې، پیکه او کمزورې لیکنه خپره کړې ده؟ ولې په کې دا او دا تېروتنه شوې ده؟ خوکه چېرې همدا لیکنه د لوستونکي ذهن او ذوق په ښه ډول خړوب کړي، بیا نو د لیکنې کتونکي اوسموونکي ته چې د لیکنې په سموالي کې څرګند اغېز لري هېڅ ډول امتیاز او شاباسی نه شته، لوستونکی نېغ په نېغه له لیکوال سره خپل ذهني، روحي او قلمي اړیکي ټینګوي او د امتیاز ثمر لیکوال ته لېږي . ښه به وي چې دلته یو ځل بیا د پورتنیو درې ډولواشخاصوچې په یوه موضوع کې سره راټاله دي، پر ستونزو او نیمګړتیاوو وغږېږو:

### ۱ ـ د لیکوال ستونزې او نیمګړتیاوې:

زموږ په ژبه کې زموږ دملت داړتیاوو اوشمېرپه اندول فني اومسلکي لیکوال کم دي . دژبني معیاراولیکنې په برخه کې هم یولړستونزې شته یاپه بله وینا دکره لیکنې پښتو بهیرلاپوره واکمن شوی نه دی. دبېلابېلومسلکونولیکوال هم په پوره ډول له پښتوژبني اولیکنې معیار سره بلدنه دي اویوشمېرلیکوال لاداسې هم دي، چې په شعوري اوناشعوري ډول کره لیکنې پښتو دغه یا هغه ژبپوهاند ته منسوبوي اوله هغه سره بیادخپلې سلیقې له مخې ځان دهغې پرمنلو مکلف نه بولي ، دهمدغولاملونوله کبله زیات شمېر لیکوال له املایي اوانشایي پلوه یوله بله

(c) ketabton.com: The Digital Library

متفاوته ليکنه کوي . يوازې ډېرکم شمېر ليکوال دي چې پر پښتو ليکنې معيارپوهېږي اودهمدغو اصولوله مخې له ليکنې پلوه ښې اوکره ليکنې کوي.

اوس که موږ ديوې خپرونې، دبېلګې په توګه ديوې مجلې ديوې ګڼې دليکوالوشمېرسل تنه اټکل کړو، نوپه دې سلو تنوکې به ايله شلوتنو د املايي ،انشايي اوليکنې معيارله مخې مجلې ته کره ليکنې رالېږلې وي ، دپاتې اتياوو تنو د ليکنوپه واحده کلمه، واحدترکيب يا عبارت کې به له املايي اوانشايي پلوه توپيرونه اوتېروتنې وي ، يوواحدليکنې معيارته ددې (۸۰) تنوليکوالو د ليکنو برابرول، هغه زړه چاودونی کار دی چې دمجلې کتونکي ته ورترغاړه دی اوکه چېرې هغه، داليکنې يو واحد معيار ته داخلې نه کړي، نو بيا خو يوه سخته ليکنۍ انارشي رامنځته کېږي اودوخت په تېرېدو سره به يوه ژبه په سلو بڼو وليکل شي. دازړه چاودون هغه وخت لاپسې سختېږي چې د ټولې مجلې کتونکی يوتن وي. په اوسنۍ کره ليکنۍ پښتوکې د زياترو ليکوالو نيمګړتياوې په دې برخه کې دي .

## الف – د (ی) ګانو په استعمال کې:

په پښتوکې (ی) ګانې دشکل له مخې پر پنځه اوداوازونوله پلوه پرڅلورډوله دي . که هره (ی) دبلې پرځای وکارو، دکلمې اوجملې ماناته بدلون ورکوي ، نوځکه يې دقيق استعمال ضروري دی . که چېرې دمجلوکتونکی هم دليکوال دا(ی) ګانې سمې نه کړي، نود مجلې په سلوکې (۲۵) برخې به ناسمې ولوستل شي اوديوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

متن دویم ځل لوستلوته به اړتیاپېښنه شي.لیکوال بایدد(کړی، کړې ، کړي، کړئ، کړې) ترمنځ توپیر وکړي.

۱ـ ده داکارکړی
۲ـ ته داکارکړې
۳ـ هغه داکارکړي
۴ـ تاسوداکارکړئ؟
۵ـ هغه کړې (حلقه) ده. دزیاتومعلوماتولپاره د هیلې مجلې په پرله پسې (۴) ګڼه کې [دپښتو(ی) ګانوداستعمال ځایونه] لیکنه ولولئ.

*ب ـ دسربلواواوستربلونوناسمه کارونه :* سربلونه او اوستربلونه هغه وییکي یا ادوات دي، چې خپله کومه خپلواکه مانا نه لري، خوپه جمله کې یې ماناڅرګندېږي اوهم دجملې دماناادترېښت اورامنځته کېدوسبب‌ېږي. وییکي داسې مثال لري لکه دګېدې لپاره پړی، چې پرته له هغه ګېډی نه تړل کېږي اونه اوډل کېږي . زیاتره لیکوال دا وییکي پرخپل ځای نه کاروي، ځکه نو د جملې د مانادبدلون لامل ګرځي، دلته به یې ځینې بېلګې وړاندې کړو:

*ج ـ (د) او(له ) ناسمه کارونه :* (د) دملکیت او(له) دبېلتون اوپیوستون لپاره راځي، خوځینې لیکوال یې یودبل پرځای کاروي.

لکه . په یوه مجله کې یې لیکلي دي:
۱ـ درفیع صاحب سره مرکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ دیون صاحب سره مرکه:

دلته دلیکوال موخه داده چې (له رفیع صاحب سره یې مرکه کړې ده) خو دده د لیکلې جملې داوسنۍ بڼې ماناداسې ده چې دوی له رفیع صاحب سره مرکه نه ده کړې، بلکې درفیع یایون له (صاحب) سره یې مرکه کړې. د (یون صاحب، یا د رفیع صاحب) په ترکیب کې (د) د یون او صاحب تر منځ دملکیت اړیکې ټینګوي . لکه دکورصاحب ، دښځې خاونداونور.. خوکه دوی داجمله داسې لیکلې وای : (له رفیع صاحب سره مرکه) نوبیابه یې هغه ماناورکړې وای چې ددوی په کار وه.

*د: په ــ پر ـ :* دوه مختلفې کلمې دي، چې هم دمانالـه مخې توپیرلري اوهم دبڼې او تلفظ له پلوه. ځینې خلك داسې فکرکوي چې دادواړه یوه مانالري، خوداسې نه ده.(په) د فاعلي حالت او (پر) دمفعولي حالت څرګندونه کوي ، که یو د بل پر ځای وکارول شي دجملې مانا بدلوي. په لاندې جملو کې یې مانا وګورئ!

په پښتو ژبه مقاله لیکم، مانا زما د مقالې ژبه پښتو ده. پرپښتو ژبه مقاله لیکم.مانا دا چې دپښتو ژبې د جوړښت په باب لیکنه کوم.

په بېل کارکوم، پر بېل کارکوم. لومړی دا مانا ورکوي چې بېل د یوفاعلي او وسیله ییز شي حالت څرګندوي او دویمه دا مانا لري چې دبېل لاستی او یاکوم بل ځای خراب دی، هغه جوړوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هـ- لـه ـ تـر:** (لـه ) دبېلـون او پيوسـتون لپـاره کارېـږي او(تـر) يوقيدي اوشرطي حالت څرګندوي، بايد يو دبل پرځای ونه کـارول شي .

له هېواده بهر_ له هېواده دننه (غلط)

ترهېوادبهر_ ترهېواددننه (درست)

له کوره بهر_ له کوره دننه( غلط)

ترکوره بهر_ ترکوره دننه ( درست)

له دې وړاندې _ له دې وروسته (غلط)

تردې وړاندې _ تردې وروسته (درست) اوهمداسې نور...

دغـه راز نـور سـربلونه او لـه هغـو سـره داړونـدو اوسـتربلونو نادرسته کارونـه هم زياتـه، دود ده. د يوشـمېرنوروکلموپه کارونـه کـې هـم زياتـه تېروتنـه ترسـترګوکېږي ،لکـه سـربېره او برسـېره ترمنځ، د(منځ) (ترمنځ ) په استعمال اوهمدارنګه په يو شمېر نـورو کلموکې. سربېره د(علاوه) په مانا او برسېره د (برسېرن يابنکـاره ) په ماناراځي، اکثره ليکوال دادواړه يوبل سره مغالطه کوي، پـه احمـد برسـېره محمـود هـم راغـی، مانـا يـې داسـې ده چـې احمـد ښکاره او محمود هم راغی، چې مطلوبه مانا نه ورکوي.

خو اصلي هدف يې دادی، پر احمد سربېره محمـود هـم راغـی، ياني له احمد نه علاوه محمود هم راغی.

(منځ) او (تر مـنځ) هم کله کله د يـو بـل پر ځـای کـاروي. مـنځ د واحد مکان داخل يا منځنۍ برخې تـه ويـل کېـږي، لکـه دکـور پـه مـنځ کـې، د سـيند پـه مـنځ کـې، او(تـرمنځ) بيـا د دوومکـانونو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وختونو يا نورو څيزونو ترمنځ د بېلتون واټن اوحالت ښيي. كه دا دواړه يو دبل پر ځاى وكارول شي، مانا يې بدلېږي، وګورئ دامقاله چې له موږ څخه هم په يوه ګڼه كې سهواً چاپ شوې ده:

((سياست د ايډياليزم او رياليزم په منځ كې)) د ليكوال مقصد داو چې (سياست د ايډياليزم او رياليزم ترمنځ) په يوه منځنۍ لار تعقيبوي او څېړي يې، خو پورته عنوان داسې مانا وركوي چې دى سياست يو ځل په ايډياليزم، او بيا په رياليزم، كې څېړي او بيايې دهغو له نظره مطالعه كوي.

كله چې ددې عنوان نيمګړتيا ته متوجه شو، نووروسته مو دمتن له اصلي ماناسره داسې سم كړ: (سياست د ايډياليزم او رياليزم ترمنځ). د (منځ) او (ترمنځ ) مانيز تفاوت دومره دى لكه يو څوك چې د سيندونو (سيند) په منځ كې ولاړ وي او يو بل سړى بيا دسيندونو ترمنځ، نوپه دې وجه لومړى شخص ډوبېږي او دويم ته به هېڅ زيان نه اوړي او يا هم يو څوك داورونو په منځ كې ولاړ دى او بل داورونو ترمنځ. يو بل مولانا صاحب بياليكلي وو: "اسلام د افراط او تفريط په منځ كې" اصلي مقصديې دا و چې (اسلام دافراط او تفريط تر منځ) يانې اسلام يو معتدل دين دى، نه په كې افراط شته نه په كې تفريط، خو پورتنى تركيب دمولانا د اصلي مقصد معكوسه مانا وركوي.

همداشان د تركيبي او يو شمېر بېلو كلمو په ليكلو كې هم يو شمېر ليكوال ستونزې لري. عمومي قاعده داده، كه دوه كلمې د يو واحد مقصد او مانا لپاره استعمالېږي او دپيوستون قابليت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولري، باید یو ځل ولیکل شي. لکه کلیوال، سمونپال او داسې نور ... دا داسې نه لیکل کېږي لکه کلي وال، سمون پال، ښاغلی ډاکټر ګل جان ورور بیا نو نوښتګر ــ نوښت ګر لیکي، که موږ تر (نوښت) وروسته (ګر) تر لږې فاصلې وروسته و وایو خبره به بلې خواته لاړه شي.

همدا رازځینې لیکوال بیا هغه کلمې چې له مانیز پلوه دپیوستون وړ نه وي، سره یوځای کوي، لکه (له) او (په) چې کله کله یې بې ځایه نورو کلمو سره نښلوي.

لکه (له) چې له (خوا) سره نښلوي = (لخوا)، خواد(لوري) په مانا دی خوکه ( له ) لوري سره وصل کړو (للوري) ورڅخه جوړېږي او هېڅ مانا نه ورکوي.

یا (په) له (کار) سره (پکار) ، نوکه دا قاعده مراعت کړو بیا باید به (تا)، (ما) او (ځان) هم داسې ولیکو: (پما، پتا، پځان) خو اصلي خبره داده چې (له) او (په) سربلونه یا و بیکي دي او له ځینو (استثنايي) حالاتو پرته له نورو خپلواکوکلمو سره دپیوستون قابلیت ځکه نه لري چې مانا یې بدلوي.

د هممخرجه کلمو په لیکلوکې هم یو شمېر لیکوال ستونزې لري لکه د ګ او ږ ، ښ ، ش او خ او نورو ترمنځ لکه نادرسته بڼه (ګیره ، تیګه) درسته بڼه(ږیره او تیږه) لکه پختو ، پښتو. هوش ، هوښ او ځینې نور.ګړدودیز ( لهجوي) توپیرونه بله هغه ربړه ده چې زموږ یوشمېر لیکوال ورسره لاس او ګرېوان دي لکه د (وو) جمع حالت پر ځای (ول) کارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی راغلي وو= هغوی راغلي ول، څرنګه چې (ول) له (ول) (غوتې ـ حلقې) سره هم شکلي ټکر خوري، يوازې د کم شمېر وګړو په لهجوکې شته، نوبايد دماضي جمع حالت لپاره د مرستندوی فعل په توګه (وو) وکارول شي نه (ول).

يوشمېر ليکوال د سپوره او کليشه يي عنوانو داسانۍ او ژر پيداکولو له کبله له هغو سره روږدي شوي دي، ددې لپاره چې ځان ارامه کړي بس خپلې ليکنې ته يو نوم وټاکي اوځينې يې ان بې نومه هم راولېږي، د مجلې يا خپرونې کتونکي د مجلې دخوږلنۍ اورنګارنګۍ لپاره اړ دي، چې عنوانونه اهنګين، خواږه، صيقل، لنډ، اونوي کړي ، د يوې بېلګې راوړل يې دلته پر ځای بولم. هيلي مجلې ته يو ليکوال دهېواد ديوې ليکوالې (خدای بښلې مېرمن مستورې شال) د مړينې په باب يوه ليکنه رالېږلې وه، د ليکنې سرليك و : ((دمستورې شال غمجنه مړينه)) څرنګه چې داعنوان ډېر سولېدلی، تکراری او کليشه يي و، د مجلې کتونکي هغه په دې ډول واړوه: ((مستوره دمرګ په شال کې)) داعنوان تر هغه اول هم د مانا او هم د اهنګ له پلوه ښه دی او هم د(مستورې شال) له نامه او تخلص سره ښه مانيز ترکيب جوړوي،خو لوستونکي ته داکارونه د ليکوال د خپل ذهن محصول ښکاري. داسې په سلګونو نورې بېلګې هم شته.

يوشمېر ليکوال په خپله ليکنه کې دفاعلي او مفعولي حالت، مبتدا او خبر خيال نه ساتي.

دپښتو ژبې ګرامري جوړښت له مخې په هره جمله کې فاعل لومړی او بيا وروسته مفعول او فعل راځي، همدارنګه مبتدا اول او خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته راځي، خوځيني ليکوال بيا په دې کې تېروزي . زموږ په ملايي نثرونوکي داتېروتنې زياتې پيداکېږي لکه : ((انسان نه دی پيداشوی ، مګرپيداشوی دی، لپاره دعبادت دپروردګارخپل)) ماناداچې ( انسان دخپل پروردګاردعبادت لپاره پيداشوی دی ) چې دجملې دپيل برخه مبتدااووروستۍ برخه يې خبرشو. ځينې ليکوال دوخت اومهال تسلسل ته هم سم پام نه کوي او وړاندې وروسته يې ليکي: (يکشنبه (۵) داسدماسپښين ) موخه يې ( دزمري ۵ نېټه ديکشنبې ماسپښين) ياپه لنډډول (دزمري ۵ ماسپښين دی) يا ( شپږمه دجدي دکال ۱۳۵۸ ) مقصديې دادی د (۱۳۵۸ کال دجدي مياشتې شپږمه نېټه) ده. کله بياپه جمله کې مفعول ترفاعل وړاندې کوي اودجملې ټوله مانا سرچپه کوي، په ځينوحساسومتنونوخصوصاً په ديني متنونوکې که دژبې طبيعي جوړښت ته پام ونه شي، نوسړی کفرته رسوي. زموږ يوښاغلی نوميالي ليکوال ليکلي:( انسان خدای(ج) پيداکړی دی) (نعوذباالله) دليکوال مقصد دادی (چې خدای(ج) انسان پيداکړی دی) دلته به خدای(ج) خالق اوانسان مخلوق شي، خولومړۍ جمله بيادامانانه ورکوي.

۲ _ *دکتونکي ستونزې اونيمګړتياوې:* دکتونکي يا ايډيټر غټې ستونزې همدادي، چې د مختلفو ليکوالو املايي، انشايي سمون، ليکنيز يووالي او معيارته ځان ورسوي، که يو کتونکی پوخ ليکوال وي او د ښه هنري خلاقيت، څېړنې او پنځونې استعداد او واك ولري، نو بيا به يې هم ټوله انرژي ددې ډول ليکنو پر سمون او رغون ولګول شي، ذهني ځواك به يې تت شي، خپلې ليکنې ته به وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیدا نه کړي او دخپلې لیکوالۍ دبلهارۍ په بیه به دنورو لیکوالو لیکنې کره او دچاپ جوګه کړي، خو که کتونکی یوازې پروف ګوري، نورې لیکوالۍ نبوغ او استعداد ونه لري، نو بیا خو بې له دې هم دالیکنې سمې نه شي اصلاح کولای اوپه نتیجه کې به یوه کمزورې مجله یا خپرونه ټولنې ته وړاندې کوي، چې هم ټولنه پرې بې باوره کېږي او هم به یې دله منځه تلو شونتیا زیاتېږي. که یو کتونکی هر څومره تکړه هم وي، خو چې خپرنیز کارته یوازې شي، بیا به ترې ددومره درانه کار په سرته رسولو کې نیمګړتیاوې رامنځته کېږي، ټولې لیکنې به په سم او معیاري ډول ایډیټ نه شي کړای، طباعتي تېروتنې به یې زیاتې شي او دلوستونکي دنارضایتۍ سبب به شي.

**۳- دلوستونکي ستونزې اونیمګړتیاوې:** لکه څنګه چې دمخه مو وویل لوستونکي ته داسې صفا ، پاکه او خوندوره مړۍ په کار ده چې هغه له هره پلوه خوندوره وي، خویو شی چې ډېرد پام وړ دی هغه دادی چې کله لوستونکی یو چاپي متن لولي نو تر هرڅه لومړی یې چاپي تېروتنو ته پام کېږي او دطباعتي تېروتنو ټول مسئولیت دکتونکي پرغاړه اچوي، خو که کتونکي په لسګونو او سلګونو ځایه دلیکوال په آر متن کې سمون راوړی وي هغه دلوستونکي له ذهنه پټ پاتې کېږي، ځکه چې هغه فکر کوي دلیکنې ټوله درسته بنه دلیکوال دزیار او فکر زېږنده ده او طباعتي او ځینې نورې تېروتنې یې دکتونکي له نا ځیرتیا نه پیدا شوي دي، لکه څنګه چې مو پورته یادونه وکړه ددې بېلابېلو لیکوالو داملایي یووالي لپاره طبعاً په لیکنوکې سمون ته اړتیا شته، نو کله چې لیکوال خپله چاپي مقاله له آر لیکنې سره پرتله

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي، نو بیا سخت غبرګون ښیي او وایي چې زما په لیکنه کې خو لاس وهل شوی دی. ان خبره له خپروني سره دپرېکون تر بریده ورسوي. خو که چېرې داسې سمون په کې شوی وي چې لیکوال په زړه کې پرې اعتراف وکړي، نو بیا هم داسې ډېر کم پېښ شوي چې دخپروني له چلوونکي څخه دمنني حق ادا کړي،که موږ ددې ټولو خبرو نچوړ را غونډ کړو، نو دومره ویلای شو چې که په یوه خپرونه کې دري کسان، لیکوال،کتونکی اولوستونکی شامل وګڼو، نو لومړی د شهرت او د خپل فکردانتقال، درېیم دنوي فکري پانګې د خپلولو او نویو معلوماتو د زیاتولو له پلوه ډېره ګټه کړې اودویم (کتونکی ) دخپلې منځنۍ اوبې نومه ښېګڼې اود نه څرګندېدونکي راز له کبله بلهاري شوی اوانرژي یې زبېښل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کلتوري اخلاق

دا لیکنه د هیلې مجلې د ۱۳۸۰ل کال په (۵) ګڼه کې خپره شوې ده

لکه څنګه چې انساني ټولنې پر بېلابېلو ټولګیو وېشل شوي، همداسې یې کلتورونه او د هغو په رڼا کې اخلاقي معیارونه هم بېلابېل او رنګارنګ دي. بېلابېلو ادیانو، مذهبونو او د هغو څانګو ټولو، د نېکو اخلاقو د کړنې او دودونې لارښوونه کړې، د اسلام مبارك دین خو تر ټولو زیات د نېکو او غوره اخلاقو یادونه او سپارښتنه کړې او د بشریت ستر لارښود حضرت محمد (ص) خو د غوره مسلمان تر ټولو ښه ځانګړنه همدا نېك خوی خصلت او کړنه ګڼي او وایي، "تر ټولو غوره مسلمان هغه دی چې له لاس او خولې نه یې خلك په امن کې وي." خو که ادیان، مذهبونه او نور بېلابېل کلتورونه هرڅومره د اخلاقو پر ترویج، تبلیغ او دودونې ټینګار کوي، ځینې فلسفیان بیا له پخوا څخه تر اوسه پورې د اخلاقو په دودونې او یادونې پسې چندان نه ګرځي او نه یې دومره په کیسه کې دي، ځینې خو یې ان مخالف هم دي. د ساینسي پرمختیاوو په زیاتېدو سره په هره ټولنه کې یو شمېر پخواني اخلاقي نورمونه متضرر شوي او یا یې هم خپل ځای نورو اخلاقي معیارونو ته پرې ایښي، ځینې فلسفیان وایي چې اخلاقو ته اصلاً

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅ اړتيا نه شته ، زور او قوت د بشر ژوند تضمينولای شي، اخلاق د کمزورو خلکو له خوا د خپل ځان د ژغورنې او تسکين لپاره يو لړ معيارونه دي، چې غواړي د هغو په واسطه له زورورو څخه خپل ځان خلاص کړي. يو هندي فيلسوف چې تر ميلاد څو پېړۍ د مخه يې ژوند کاوه، هم په دې نظر دی چې ((اخلاق دځان د تسکين يوه وسيله ده.))

همداسې ځينې نور هم په دې نظر دي، چې اخلاق کوم فزيکي موجود نه دی چې د انسان پر وجود دې فزيکي اغېز وکړي، مانا دا چې ددې پرځای چې څوك اخلاقو ته پناه ور وړي، د ژوند پر عملي وسايلو او امکاناتو دې ډېره ولګوي. دا خو د اخلاقو په باب د بېلابېلو نظرونو يوه يادونه وه، دا چې څوك اخلاق مني که يې نه مني دا خو بېله خبره ده، خو د اخلاقو له شتوالي نه انکار نه شي کېدی او هره ټولنه د ځينو خاصو اخلاقي نورمونو تابع ده او اکثريت وګړي يې د همغو ټاکلو نورمونو خيال ساتي، په دې وجه خو ځينې کسان اخلاق يو ټولنيز قرارداد هم بولي، چې ديوې مشخصې ټولنې د وګړو ترمنځ په نا ليکلي بڼه پرې موافقه شوې وي او عمر يې له کلونو تر پېړيو غزېدلی وي. کلتوري او اخلاقي نورمونه نه يوازې له يوې ټولنې څخه بلې ته توپير کوي، بلکې په خپله د يوې ځانګړې ټولنې يا هېواد په بېلابېلو جغرافيايي سيمو کې هم يو له بل سره توپير کوي، په اکثرو کليوالو سيمو کې يو ډول کلتور او اخلاقي معيارونه واکمن شوي، خو د همغې ټولنې په ښاري سيمو کې بيا بل ډول اخلاقي معيارونه د تائيد وړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو له دې ټولو توپيرونو او تضادونو سره سره بيا هم ځينې داسې ستر انساني او اخلاقي معيارونه شته، چې هغه د قوم، ژبې، کلتور، ګروهې او جغرافيايې پولو تر بريدونو اوړي او پر ټول انساني ذهن واکمني کوي. د نړۍ يو شمېر ستر ليکوال پردې بريالي شوي چې د لوړو اخلاقي ارزښتونو لرونکي اثار انساني ټولنې ته وړاندې کړي، همدغو معيارونو هغوی له خپل فردي، سيمه ييز او هېوادني چاپېريال څخه نړيوال کچ ته اوچت کړي دي.
خو اوس راځو دې ته چې زموږ په اوسني چاپېريال کې هم ليکوال د اخلاقي ايډيالونو د موندلو، دودونې، تائيد او درناوي په لټه کې دي او که نه؟ که اوس هم د خپلې ځانغوښتنې له اغزنې دايرې څخه راوتلي نه دي، ارمان لري که نه؟ ايډيال لري که نه؟ دکومو اخلاقي او کلتوري معيارونو تابع دي او که نه؟ کله چې دا او دې ته ورته پوښتنې په ذهن کې مطرح کوو او هغه بيا د رښتيانې د ارزښت تر پولو تېروو، نو په خواشينۍ سره پردې ترخه واقعيت اعتراف کوو، چې زموږ يو شمېر ليکوال نه کوم ټاکلي او سپېڅلي ارمان لري او نه يې په لټه کې دي، دا داسې لار ورکې دي چې نه يوازې خپله ترې لار ورکه ده، بلکې د نورو په لارو کې هم اغزي شيندي او غواړي د ځان په شان يې کړي.
زموږ په ليکوالو کې يو شمېر داسې کسان هم شته، چې د پوهې او کلتوري اخلاقو په پرتله يې د ليکوالۍ د شهرت تله درنه ده او په ټولنه کې يې د کار په انډول د شفاهي تبليغ له لارې ځانته د ليکوالۍ زيات نوم ګټلی، ددې ډول کسانو انرژي به پخوا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانښودلو او ځان ستايلو پر لارو چارو لګېدله، کله چې دا چاره پايته ورسېدله او نوره دا سکه نه چلېدله، نو بيا يې د نورو د سپکاوي لپاره لکه د تبليغيانو په شان ګړني تبليغ ته ملا وتړله، چېرته چې ټولنه کې دکار سړی وي، ددوی دفکر دايره ترې راتاوه شي او په لسګونو ډوله (خو) ګانې په کې پيدا کړي، د نورو دشخصيت توهين، سپکاوی او د حيثيت ترور دخپل ځان د تثبيت يوه وسيله ګڼي اوپه دې ډول لا هم په ټولنه کې د يو مغشوشوونکي عنصر په توګه خپل رول ترسره کوي.

دا ډول منفي عناصر د عامو خلکو په نظر نه راځي ځکه چې هغوی ته په بله جامه او بل رنګ کې ځرګندېږي، زموږ عام پاك زړي ليکوال چې ډېر لا په عملي فرهنګي کار کې راټاله شوي نه دي او يوازې د فردي ليکوالۍ تر بريده خپل انساني مسئوليت ترسره کوي، هم ددې ډول نا ځرګند خو ضرري عنصر له هڅو خبرېږي نه، خو هغه څوك چې د عملي فرهنګي کار لپاره يوه ستراتيژي او پلان لري، هغوی پوهېږي چې په لاره کې څومره محسوس او نامحسوس خنډونه او خطرونه شته، ان دا چې د خپل ځاني شخصيت دداغولو تر بريده بايد ورسره مبارزې ته تياروي، که نه نو هېڅ ډول فرهنګي کار ته به ترې اوړه ورنه کړي، ددې ډول پرازيټ او مکروبونو د خپراوي يو علت دادی، چې زموږ په ټولنه کې لا د کلتوري کار او کلتوري اخلاقو معيارونه مشخص نه دي. ددې پولې لا ټاکل شوي نه دي، چې يو سړی دې څنګه، څومره، څه ډول او په کوم کيفيت فرهنګي کارونه وکړي، چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

(خو) څخه ځان خلاص کړي؟ دغه معیارونه دلته مطلوب نه دي، نو ځکه خو چې هرڅومره د زړه وینې خوري او هرڅومره کار کوي همغومره د (خو) ګانو داغونه ورپورې کېږي.

ددې ټول علت دادی چې موږ لا په ټولنه کې د کلتوري کار لپاره مشخص اخلاقي علمي او عملي معیارونه نه دي مشخص کړي او ان په ذهن کې مو نه دي تصور کړي، نو ځکه خو هغه اشخاصو ته چې د خپل شخصیت د تثبیت لپاره په نورو پسې د دروغو پرازیت خپروي، دا زمینه برابرېږي، چې د لنډ وخت لپاره د هوا څپې اخلال کړي، زموږ په نظر کېدی شي د یو فرهنګي شخص لپاره لږ تر لږه د اخلاقو او فرهنګي کار څو ځانګړنې وړاندې کړو، که له همدغو معیارونو او ځانګړنو سره ځینې نور هم زیات شي او همداسې ورو ورو په ټولنه کې د فرهنګي او علمي اخلاقو بریدونه مشخص شي، نو تصنعي، تکلفي او کاذب شخصیتونه به خپله له هغو څخه ووځي او رښتیني اشخاص به هم خپل کار ته وزګار شي، ددې معیارونو ځینې کېدی شي په دې ډول وي:

## ۱_ اخلاقي معیارونه:

۱. یو فرهنګي شخص باید لږ ترلږه دټولنې د عامو کلتوري قوانینو خیال وساتي، هغه کارونه چې په ټولنه کې د عامو خاصو د کرکې وړ ګرځي له هغو څخه که مطلق نه وي، نو تر ډېره زیاته بریده دې ځان ترې وساتي، مانا دا چې چرسي نه وي، بنګي نه وي، شرابي، جوارګر او نور نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. که د خلکو له سپېڅلو عقایدو سره سل په سلو کې موازي نه وي، نو مخالف خو دې هم نه وي، مانا دا چې له خپل دین او عقیدې څخه دې نه اوړي، ملحد ، مرتد او منافق دې نه وي.

## ۲_ مسلکي او علمي معیارونه:

۱. یو فرهنګي شخص باید لږ تر لږه دکلتور په یوه مشخصه څانګه کې د تخصص او پوهې خاوند وي، ددې لپاره چې خبره یې وزن پیدا کړي او کره وي او نورو ته هم یوه سمه لار وښيي، یانې لږ ترلږه هغه څوک چې د یو ادیب او لیکوال اطلاق پرې کېږي، یا یې باید د ژبو او ادبیاتو پوهنځی لوستی وي، یا یې باید خصوصي زده کړې کړې وي او یا یې هم دومره عملي کار او لیکوالي کړې وي چې څوك ورته د (خو) ګوته ونه نیسي.

## ۳ _ عملي معیارونه:

۱. عملي معیارونه دا دي چې څوك د فرهنګي کار او شخصیت دعوه کوي او یا د نورو په چارو کې لاسوهنه کوي، نو لږ تر لږه یې باید ټولنې ته د خپل عملي کار بېلګې وړاندې کړې وي، مانا دا چې خپل اثار یې خپاره کړې وي، مجلې، رسالې، ورځپاڼې او جریدې یې خپرې کړې وي، په یوه علمي او فرهنګي مرکز کې یې عملي کار کړی وي او خلکو ته یې خپل ثمر وړاندې کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو که پورتني او ځينې نور معيارونه موږ د يو فرهنګي شخصيت د تثبيت لپاره په پام کې ونيسو، بيا به نو موږ ته له تصنعي شخصيتونو څخه د اصلي شخصيتونو د تفکيك مسئله ډېره اسانه شي. زموږ په اوسنی فرهنګي جريان کې ځينې داسې کسان شته چې له پورتنيو ځانګړنو څخه يو هم نه لري، خو بيا هم په ټولنه کې ځان د يوه ګړني ليکوال په توګه معرفي کوي او کاري ليکوالو ته تر خپله وسه ستونزې راولاړوي او دا غواړي چې نور هم په دې ببولالو کې ځان سره مصروف کړي او له اساسي کاره يې وباسي.

که چېرې په ټولنه کې دا ډول اشخاص نه وای، نو موږ به دې ليکنې ته نه اړ وتلو او ددې پرځای به مو يوه بله ليکنه کړې وای، خو د ځينو دې ډول ليکنو ضرورت ځکه وي، چې ګران لوستونکي پردې پوه شي، هغه ثمر چې تر اوسه ورته رسېږي، هغوی ته د ورسېدو په لاره کې د وربشکاره ستونزو ترڅنګ نورې ستونزې هم لري، چې تر اوسه يې لا هغو ته څرك نه دی لګېدلای او يوازې هغه څوك پرې پوهېږي چې عملاً فرهنګي کار کوي. خو تنګنظرانو ته دې دا خبره هم سپينه وي، هغه څوك چې په بحراني، سختو ستونزمنو او اغزنو شرايطو کې د سترو فرهنګي کارونو د سرته رسونې وس لري، ددې کار وس هم لري، چې دلويو اغزيو او خنډونو ترڅنګ داسې واړه اغزي هم له لارې ټول کړي او که څو يې پر لمن ونښلي هم، نو په يو دوه ټکانونو به يې لرې ګوزار کړي او خپل مزله ته به دوام ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مثبت کلتوري بدلون، اوښتون او پر مختلب ته اړتیا ده

دا لیکنه هم د هیلې مجلې د ۱۳۷۷ل کال په (۵) ګڼه کې چاپ شوې وه

په تېرو شلو کلونو کې ډول ډول افکارو زموږ ټولنه لړزولې او بې ثباته کړې ده. په دې موده کې د ټولنې دلاربښوونې لپاره د بېلابېلو ((انقلابونو)) ازمېښت وشو. ((خلقي انقلاب، ملي ډیموکراتیک انقلاب او ان د اسلامي انقلاب)) په نامه فکري او ایډیالوژیکو تګلارو، هرې یوې د خپل ځواک او ظرفیت په اندازه د ټولنې د ثبات او نورمال پرمختګ مزې وشلول. کله چې به دغو دهر یو ((بشپړتیایې پړاوونه)) پیل شول، نو زموږ د ولس د ژوند حالات به لا ترینګلي شول او خبره به تر بدو بتره شوه. د دې مصنوعي او ناغوښتل شویو انقلابونو په وجه نه یوازې زموږ ملت او هېواد درانه زیانونه وزغمل، بلکې په خپله ((انقلابیانو)) ته هم د ژوند د قربانۍ په بیه تمام شول. ډېرو پکې خپل سرونه وخوړل، ډېرو پکې دخپل ژوند شته داو کړل او د ((یوه انقلابي)) دا خبره چې ((انقلاب خپل بچیان خوري)) پر واقعیت بدله شوله. اکثره ((انقلابیانو)) د محکومیت پر وخت دومره بلهاري (قرباني) نه وه ورکړې، لکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاکمیت پر وخت. د محکومیت پرمهال دوی د واکمنۍ د لاسته راوړلو لپاره څه نا څه یوه مفکوره او رواني ځواک هم درلود او انرژي یې ددې لپاره مصرفېدله چې واک تر لاسه کړي. کله چې یې واک ترلاسه کړ، نو بیا یې ځواک، فکري او رواني قوت پر دې لوري مصرفېده چې څنګه هغه وساتي. «انقلابیان» اکثره دخپلو واکمنیو پر وخت دومره ذلیل او پیکه شول چې تر واک وروسته یې بیا په ټول هېواد کې د پښې اینښودلو ځای نه درلود. د دې پیکه والي یو لامل دا هم و چې «اکثره انقلابیان» پر خپلو سیاسي تګلارو او ایډیالوژیو ثابت پاتې نه شول او د پورته کړیو شعارونو پر ضد یې عمل وکړ. ځکه یې په ولس کې خپل سیاسي، فکري او ان اخلاقي شخصیت بایلود. یو وخت داسې راغی چې سیاسي لوبغالي هماغه و، خو لوبغاړي سره تېر و بېر شول، په اصطلاح سروېس تبدیل شو. هغه ځوک چې د امپریالیزم، لویدیځ، پاکستان او لویدیزې اروپا مخالفین وو، هغوی ته یې پناه وروړه او هغوی چې د شوروي او کمونیزم ضد شعارونه یې پورته کول، د هغوی اکثرو د روسیې او پخواني شوروي دکورنۍ له هېوادونو سره راپورته کړل. لنډه دا چې اکثره سیاسي ګروپونه له خپلو مخالفو سرچینو سره یوځای شول. په پایله کې دا کار په هر اړخیز ډول د دوی دخپل شخصیت او فکري لوري د سپکاوي سبب شو او ولس او هېواد په سوونو کلونه دنړیوال تمدن له کاروانه شاته پاتې شو.

د نورو لاملونو ترڅنګ ددې کار یو اساسي لامل زموږ په ټولنه کې د نالوستۍ شتوالی او د چټک فرهنګي بهیر نشتوالی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاستوالو په روا او ناروا ډول په ډېره ارزانه بیه د ولس د برخې برخې ذهنونه راونیول او دخپلې موخې لپاره یې وګومارل. له (۱۳۵۷- ۱۳۷۱) کلونو پورې هېواد په ټولیز ډول پر دوو سترو متضادو فکري لورو وېشل شوی و او بیا په خپل منځ کې پر نورو متضادو اندونو. تر ۱۳۷۱ل کال وروسته پخوانیو فکري او عقیده یي لیکو بله بڼه ونیوله، چې تراوسه یې څو ځله خپل شکل ته بدلون ورکړی دی. په دې ټوله موده کې هېڅ ډلې هم د ټولنې ((انساني)) کولو او د کلتوري انقلاب لپاره شعار پورته نه کړ او نه یې هم کومه هڅه وکړه، بلکې اکثرو یې د ټولنې همدې شتمنۍ ته درانه زیانونه واړول. که چېرې زموږ ولس ټول لوستوال او زده کړی وای، نو هر افغان به هم په ځاني ډول او هم په ډله ییز ډول فکر کولای شو، چې کومه یوه د ورانۍ او کومه د ودانۍ لاره ده؟

ښکېلاکګرو ځواکونو تر هرڅه لومړی زموږ ټولنه له ذهني پلوه ناروغه او مصروفه کړه، چې د ازاد فکر او خپلواک تفکر ځواک یې کمزوری کړي، لومړی ګوزار پر کلتوري مرکزونو وشو، دجګړې په بهیر کې تر (۳۵۰۰) څخه زیات ښوونځي له منځه لاړل، چې په میلیونو افغانان د زده کړې له نعمت نه بې برخې شول. له دې کار څخه د هغوی موخه دا وه، چې د جګړې لپاره بشري ځواک پیدا کړي. کله چې ټولنه نالوستې شي، نو بیا خو د بېلابېلو سیاسي، عقیده یي او نورو شعارونو ترنامه لاندې د نالوستو کسانو له صداقته ښه ګټه پورته کېدلای شي او په ښه ډول یې ولولې او احساس راپارېدلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نالوستو کسانو له عقیده یي او کلتوري صداقت او ساده ګۍ نه عاجله او فزیکي ګټه اخلي او خپلې موخې ترسره کوي، خو په اوږده واټن کې هغوی ته هم سردرد پیدا کوي. د کړکېچنو شرایطو په بهیر کې د دې ډول اشخاصو کنټرول خورا ګرانېږي، دوی د واکنمو له واکه وځي او د بغاوت لاره خپلوي. داسې کړنې سرته رسوي، چې له آره له خپل هغه هدفه سره ټکر خوري، چې دوی دهغه د برې لپاره فزیکي او سیاسي عمل ته لاس اچولی دی. ددغه نا کنټرولـه حالت په پایله کې نه یوازې د هغې ډلې دمشر سیاستوال حیثیت او سیاسي دریځ ته زیان رسېږي، بلکې د هغه فکري او سیاسي تګلوری هم په عامه ذهنیت کې پیکه کېږي. د افغانستان د تېرو دوو لسیزو د تنظیمي او سیاسي ډلو د مشرانو سیاسي څرنګوالی او پیکه والی په همدغه ټکي کې څرګند او طاعون لاپسې اوږد شو.

دهمدې خونړي ناتار په بهیر کې زموږ د ټولنې مانیزه او مادي شتمني تباه شوه. اوس زموږ ټولنه له یوه ستر ناورین سره مخ ده. ولس هم ستړی او ستومان دی، هیله لري چې ځان ته دخلاصون یوه لار پیدا کړي. ایا داسې کومه لاره چاره شته؟

په بشري تاریخ کې د ځینو نورو داسې ټولنو بېلګې هم شته چې پر ټاټوبي یې پر تېر شوي توپان وروسته بیا دهوسا او سوکاله ژوند جوګه شوي دي. له داسې یو ناورین نه د وتلو یوه لاره دا هم ده چې د ټولنې د «انساني» کولو لپاره هڅې وشي. د ټولنې د «انساني» کولو یوه بېلګه به وړاندې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د دویمې نړیوالې جګړې پر وروستیو وختو د امریکا متحده ایالاتونو پر جاپان اتومي بمونه وغورځول او د جګړې برخلیک یې چورلټ بدل کړ، جاپان تسلیمۍ او د جګړې د تاوان ورکړې ته حاضر شو، نو پر دې وخت جاپان او دهغه ولس له سختو ستونزو سره مخ و. ویل کېږي چې د هغه هېواد مخورو یوه واکمنه جرګه جوړه کړه، چې څه باید وشي؟ چې ټولنه له دې کړکېچ څخه راووځي؟ هم پرمختګ وکړو؟ هم دجګړې تاوان ورکړو؟ او هم د سوکاله ژوند څښتنان شو؟ چا ویل جاپان باید صنعتي شي، چا ویل باید زراعتي شي، چا ویل دواړه شي او هر یوه ددې لپاره دلایل وړاندې کول، خو یو تن وویل: نه باید صنعتي شي، نه زراعتي، بلکې ((انساني شي)). د هغه دې نومونې ته ټول حیران شول، چې ((انساني)) یانې څه؟ هغه وویل چې انساني په دې مانا چې ټول جاپان کې باید هېڅوک هم نالوستی پاتې نه شي. تر هر څه لومړی باید موږ ښوونې او روزنې ته ژوره پاملرنه وکړو. ده ویل کله چې ټولنه لوستواله شي، نو هغه پخپله فکر کولای شي، چې باید څه وکړي، جاپان همدا خبره عملي کړه، تر هر څه زیات یې د ټولنې ښوونیزې، روزنیزې او کلتوري برخې ته پاملرنه وکړه. د اتیایمو عیسوي کلونو په لسیزه کې جاپان هر کال (شپېته میلیارده) ډالر یوازې په روزنیز برخه او د ټکنالوژۍ د نورو پرمختګونو لپاره لګولې. پر همدې وخت امریکایانو هر کال (سل میلیارده ډالره) په تعلیمي، کلتوري او علمي برخو کې لګول، چې امریکا په نړۍ کې لومړی او جاپان دویم مقام درلود. د جاپان دا لګښت د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغه مهال د دولتي بوديجې په انډول د افغانستان د دوه سوه کالو بوديجه جوړوي او د امريکا لګښت زموږ د هېواد د درې سوه د ېرش کالو دولتي بوديجې په انډول دی.

جاپان اوس په نړۍ کې هغه هېواد دی چې نه يوازې د جګړې زيان يې جبران کړی، بلکې اوس د نړۍ له ډېرو سترو پانګوالو او پرمختللو هېوادونو څخه ګڼل کېږي. په نړۍ کې ځانګړی مقام او حيثيت لري او په خپل ټول هېواد کې يې د نالوستۍ د تيارو کمپله ټوله کړې ده.

نو اوس که زموږ د هېواد خواخوږي غواړي، چې خپل هېواد له دې روان ذهني، فکري، اقتصادي، سياسي او ټولنيز ناورين نه راوباسي، نو ښه لار دا ده چې د ټولنې د «انساني» کولو لپاره هڅې پيل کړي. د ټولنې د انساني کولو لار په ټول هېواد کې د ښوونې او روزنې عامول دي. کله چې ټولنه ټوله لوستواله شي، نو هر څوک ځانته د ځانګړې او ټولنيز ژوند د ښېرازۍ او سوکالۍ لارې پيدا کولای شي، په ټولنه کې د وګړو تر منځ زغم، اوسېله، د يو بل زغمل او فکري ثبات رامنځته کېږي، هر څوک د خپل واک او صلاحيت پولې پېژني او د ژوند پر خوند پوهېدلای شي. سياستوال او واکوال هم ددې پرځای چې يو بل د تورې او برچې په زور تسليم کړي، د تورو په نځولو ځانونه ستړي کړي او يو بل ووژني، دخبرو لاره خپلوي؛ د متمدنو انسانانو او بشپړو عاطفي وګړو په څېر د ژوند ستونزې له منځه وړي. عمومي ښوونه او روزنه او د ټولنيز کلتور پرمختيا د ټولنيز ژوند بقا او هوساينه تضمينوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او انسان کې د مینې او عاطفې ځواک پیاوړی کوي. زموږ په هېواد کې باید هم مثبت ښوونیز، روزنیز او کلتوري اوښتون راوستل شي.

کلتوري پرمختیا او مثبت بدلون هغه درمل دی، چې ټولنه د ناروغۍ تر خورېدو د مخه وقایه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زموږ د ليکوالو عمومي او ځپلمنځې ستونزې

دا ليکنه د طالبانو د واکمنۍ پر دويم کال ليکل شوې او هماغه مهال په هيله مجله کې چاپ شوې ده.

دا څرګنده خبره ده چې د بېلابېلو لاملونو له کبله زموږ ټولنه شاته پاتې ساتل شوې او لا ساتل کېږي. دې وروسته پاتېوالي د ټولنې د هوسا کېدنې او د ولس د ښېرازۍ او سوکالۍ په لاره کې ستر خنډونه راپيدا کړي. دا داسې ستونزې دي، چې زموږ د ټولنې د ژوند پر هره خوا يې خپل سيوري خپاره کړي، کلتور يې له ستوني نيولی، ځلا او زرغونېدو ته يې نه پرېږدي، خو دې سره سره تر ننه دوه لسيزې وړاندې زموږ په هېواد کې بيا هم ژوند ورو ورو د ښېرازۍ پر لور روان و او د يو شمېر کلتوري هڅو او برياوو ځراغونه لګېدلي وو، خو کله چې دې تېرې شل کلنې غميزې د هېواد په ګوټ ګوټ کې خپل زهرجن لوګي خپاره کړل، نو هر څه د خارو او ايرو ځلي شول.

په ځانګړې ډول په تېرو اوو کلونو کې کلتور ته نور زيانونه هم واړول شول او زموږ د ليکوالو ستونزې لا پسې زياتې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هغه زماني واټن دی، چې د ټولنیز، سیاسي او کلتوري نظام مزي وشلېدل او ټولنیز انډول له منځه لاړ. کلتور چې د ټولنیز نظام یو اساسي توکی دی، تر ځېونکو ګوزارونو لاند ې راغی. فرهنګیان د کلتور د پرمختګ د عاملینو او زېږوونکو په توګه په خپله د مرګ او وېرې ترګواښ لاندې راغلل. هغه فرهنګیان چې پخوا یې د کلتور په یوه څانګه کې کار کاوه، د مسلکي کا رله منځه تلو سره سم یې له مسلکي لارې د ژوند د خړوب امکان هم ختم شو.

هغه لیکوال چې تر هېواده بهر مهاجر شوي وو، د هغوی ستونزې بیا بل ډول وې، هغوی د یو بې باوره ژوند په ستونزو کې راګیر وو. کله چې د هېواد په داخل کې له فرهنګي کار څخه د خړوب امکان ختم شو، نو لیکوال د دویم کار په لټه کې شول، ددې کا رپایله ډېره منفي وه، د لیکوال او فرهنګي کار تر منځ واټن ورځ پر ورځ زیاتېده. په نتیجه کې لیکوال لکه د نورو کسبګرو په شان پر عادي اشخاصو واوښتل او د ټولنې ددې متفکر مغز ټول ځواک یوازې د ژوندي پاتې کېدو لپاره په مبارزه کې اوبه شو. تجربو په ډاګه کړې ده چې لیکوال، شاعر او یا هر هغه څوک چې ذهني کار کوي که چېرې پر فزیکي کار او چارو اخته شي، نو ذهني کار ته یې سخت زیان رسېږي. دلیکوال ذهن هغه نرمه کرونده ده، چې ده په کې د مینې او عشق د کلمو بزغلي کرلي او له هغه څخه یو رنګین او ښکلی حاصل لاسته راوړي. د فزیکي کار په کولو سره په داسې شاړه او کرخته ځمکه اوړي چې بیا ډېر ځنډ د هنر د مینه ناک حاصل لپاره نه تیارېږي. ددې خبرې یوه بېلګه به هم وړاندې کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کابل کې د افغانستان د علومو د اکاډمۍ یو تن غړی چې د سرمحقق علمي رتبې ته رسېدلی، یو وخت یې ډېر ښه تحقیق کاوه او دومره خوږه ژبه او خوږ نثر یې درلودل چې د زړه راکښونو ځواک یې ډېر پیاوړی و. کله چې په هېواد کې علمي کار خپل مادي امکان له لاسه ورکړ، نو دی مجبور شو، چې فزیکي کار ته ملا وتړي. له یوې موسسې سره چې د ښار د ویالو د جوړولو او پخولو چارې یې سرته رسولې، پر کار بوخت شو. ددې سرمحقق دنده دا وه چې د تېږو منځ کې سمنټ واچوي او تېږو ته انګاف ورکړي، ده څو میاشتې پرله پسې دې دندې ته دوام ورکړ، په همدې بهیر کې یوې علمې غونډې ته د لیکنې بلنه ورکړای شوه، کله چې ده خپله لیکنه واوروله، نو دده د پخوانیو لیکنو په انډول ډېره کمزورې، پیکه او سپوره وه، داسې ښکارېده، چې په وچ زور او تر یوه سخت فشار لاندې یې لیکلې ده، وروسته یې خپله اعتراف وکړ، چې د ذهن کرونده مې سخته شوې او کېدی شي نور حاصل ور نه کړي.

د هېواد دننه اکثرو لیکوال پر همدې برخلیک اخته شول، هغه څوک چې تر هېواده وتل- هغو اکثرو خپل مسلک پرېښود او ځینو چې په یو شمېر بهرایو موسسو او ادارو کې کارونه ومیندل، نو د هغو پر احساس، عاطفې او فرهنګي مینې د یو بل کلتور او د ژوند د بې باورۍ د تورو وربځو لړۍ خورې شوې، یا په ډله ییز، یا په انفرادي ډول مسخه شول او یا د مسخه کېدو په حال کې دي.

زموږ د لیکوالو ستره او عمومي ستونزه دا ده چې دلته د لیکوال لاسته راوړنه د مالي ارزښت له پلوه کوم دوراني حرکت نه لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د هغه په نتیجه کې دې لیکوال مادي ثمر ترلاسه کړي، دلته زیات وخت لیکوالو د دولت پر مادي امکاناتو او نورو مرستو ډډه لګوله.

د ساري په توګه په پښتو کې داسې کتابونه ډېر کم لیدل شوي چې هغو دې د خرڅلاو له لارې خپل لګښت پوره کړی وي او یا دې له دې درکه لیکوال ته د یاد وړ مادي ګټه تر لاسه شوې وي، په پرمختللیو هېوادونو او ان مخ پر ودې هېوادو کې بیا خبره داسې نه ده، هلته یو اثر نه یوازې د لیکوال علمي پانګه ګڼل کېږي، بلکې د هغه د ژوند لپاره ستره مالي شتمني هم جوړوي. ((اریک فرام)) یو غربي لیکوال دی، د ((ښکلا)) په باب یې یوه کوچنۍ رساله لیکلې، دا رساله تر لسو ځلو زیاته چاپ شوې او هر ځل یې د چاپ تېراژ میلونونو ټوکو ته رسېدلی او دا کتاب ټول پلورل شوی دی، نو هغه اثر چې درې میلونه ټوکه وپلورل شي، نو ایا لیکوال به یې بیا هم له اقتصادي پلوه له فقر سره مخامخ شي؟

زموږ ټولنه لکه څنګه چې د ژوند په نورو برخو کې د نورو پرمختللو او مخ پر ودې ټولنو سره د پرتلې وړ نه ده، همداسې په فرهنګي برخه کې هم د پرتلې وړ نه ده. په پښتو ژبه تراوسه پورې د چاپ شویو اثارو شمېر تر لس زره عنوانونو نه زیاتېږي. د بي بي سي راډیو د یو خبر له مخې یوازې پر یو کال په لندن کې (شپېته زره) عنوانه کتابونه چاپېږي، د دې هر عنوان کتاب تېراژ میلونونو ټوکو ته رسېږي، زموږ په هېواد کې له ځینو تعلیمي، مذهبي او سیاسي کتابونو پرته د هر کتاب شمېر له (۵۰۰-۵۰۰۰) ټوکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترمنځ دی. د تېرو پنځه لسو میاشتو په ترڅ کې افغانستان کې د ټول هېواد په کچه (دوه عنوانه) ادبي کتابونه او پنځه عنوانه مجلې یوه – دوه درې ګڼې چې د ټولو عمومي تېراژ ایله شل زره ټوکو ته رسېږي، چاپ شوي دي. دا هغه ټیټ ګراف دی چې په افغانستان کې د چاپ او خپرونو تر دود وروسته لیدل کېږي. د هېوا په داخل کې د چاپ له دې کمیت نه زموږ د لیکوالو او د هېواد د فرهنګي کار څرنګوالی معلومېږي، خو دې سره سره په پېښور کې زموږ یو شمېر لیکوال پر سختو هلو ځلو بوخت دي؛ ګڼ شمېر کتابونه چاپوي، چې د هېواد دا اړتیا تر یوه بریده پوره کړي، هېواد ته ددې کتابونو د لېږد په برخه کې هم یو لړ ستونزې شته، ځکه چې ددې کتابونو ډېره برخه د هېواد داخل ته ورل کېږي.

دا هغه عمومي ستونزې دي، چې زموږ هېواد او لیکوال ورسره مخ دي، خو د دې تر څنګ په خپله زموږ د لیکوالو تر منځ هم یو لړ ستونزې شته، چې هغه زموږ د لیکوالو ځواک ته سخت زیان رسوي او له اصلي کار نه یې پام بلې خوا ته اړوي، دا تضادونه د هېواد په داخل کې هم محسوس دي، په پېښور کې هم، کېدی شي په نورو هېوادونو کې هم وي، اوس په کابل او جلال اباد کې یو شمېر شته چې هغوی غواړي د هغو ګوتو په شمېر لیکوالو تر منځ چې هلته پاتې دي، تر هر څه لومړی د توپیر یو عقیده یي اوسیاسي لیکه راکاږي، په ځانګړي ډول هغه لیکوال دې کار ته ډېره لمن وهي چې هغوی په فرهنګي کار کې د زیات تشبث او هلو ځلو ځواک او اوسېله نه لري، دوی غواړي خپله فرهنګي تنبلي او بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کفایتي د عقیدې او سیاسي ګروهې تر چتر لاندې پته کړي، دوی د ملت په کچه فکر نه شي کولای، اند یې یوازې د تنظیم تر حده محدود دی، دوی په هېڅ وجه ددې وس نه لري، چې هغه لیکوال هم وزغمي چې له دولتي امکاناتو پرته په خپلو شخصي هلو ځلو فرهنګي فعالیتونه کوي، هغوی حکومت ته لاس تر زنې ناست نه دي او نه دې ته منتظر دي چې ټول کارونه باید حکومت وکړي.

مثبت لیکوال پر دې هم پوهېږي چې د فرهنګ ساحې ته د حکومتونو پوره پام را اړول ډېر وخت غواړي، لکه څنګه چې اشاره وشوه په تېرو پنځه لسو میاشتو کې حکومت یوازې (دوه عنوانه) کتابونه چاپ کړي دي، خو زموږ ځینو لیکوالو په همدې موده کې یوازې په پېښور کې تر سلو عنوانو زیات اثار چاپ کړي دي، نو که دوی حکومت ته منتظر وای، ډېر کلونه به پرې تېر شوي وای، بله خبره دا ده چې فرهنګي کار یوازې د دولت مسئولیت نه دی، بلکې د ټول ولس ګډ کار دی.

په پېښور کې د افغان لیکوالو په شخصي هلو ځلو او په لویدیځ کې د مېشتو افغانانو په مالي مرستو یو شمېر اثار چاپېږي، خو دلته په داخل کې بیا د یو شمېر لیکوالو تر منځ یو ډول محسوس او نامحسوس منفي رقابت موجود دی. زموږ د یو شمېر لیکوالو زیات وخت او انرژي یوازې پر دې مصرفېږي چې په نورو پسې خپل وخت په منفي ګړني تبلیغ تېر کړي. که خپله یې کار له واکه نه کېږي، نو منفي تبلیغ ته شین شرک ولاړ دي، د دوی په ځینو کې بیا دا کینه او حسادت دومره پیاوړې وي، چې د رواني عقدې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بریده رسېږي، ځیني لیکوال په پېښور کې هم تنظیمې، سیاسي او عقیده یي مسایلو ته لمن وهي او غواړي پر فرهنګي چارو او مسایلو باندې هم سیاسي سیوری خپور کړي. دلته هم دا کینه هغو کسانو سره مطرح ده، چې په فرهنګي کار کې کوم ځانګړی تشبث او نوښت نه شي کولای، دلته هم خپله فرهنګي نیمګړتیا د سیاست او سیاسي جغرافیې تر پردې لاندې پټوي. اوس زموږ ځینو لیکوالو تر منځ دا کشمکشونه روان دي، داسې ښکاري چې د سوچه ملي فرهنګ د ښېرازې، خدمت او پرمختګ لپاره ډېر کم لیکوال پاتې کېږي، چې له دې ډول ډول پاټکونو څخه تېرېږي او خپل فرهنګي کار ته دوام ورکوي، تجربو ښودلې ده چې افغاني فرهنګ ته کار کول خورا لویه اوسپله غواړي؛ هر څوک چې غواړي له دې اغزنو او ستونزمنو لارو تېر شي، نو دې مغولیزو ذهنونو ته باید خپل هوډ خوشالخانی کړي او هغه کسان چې غواړي زموږ د ربښتینو فرهنګیانو مخ ته ذهني او سیاسي پاټکونه واچوي، اخر به له خپل دې عمله ستړي شي، تر پایه خو دوی هم دا کار نه شي کولای، چې د بل چا د فرهنګي کار په مخ کې خنډ اچولو ته خپل کار ووایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الفت د زړونو الفت

## (د استاد الفت د نثر ځینې مانیز اړخونه)

| |
|---|
| دا لیکنه په کابل کې د استاد الفت د یوې تلینغونډې لپاره لیکل شوې وه او وروسته بیا په هیله مجله کې چاپ شوه. |

استاد ګل پاچا الفت لکه څنګه چې د هغه له نامه څخه څرګندېږي د مینې او الفت پاچا دی، هغه د خپل قلم په روح کې داسې انساني مینه پو کړې، چې کلونه به زموږ د زړه په پردو کې ګرځي، راګرځي او د زړونو او ذهنونو په دې لایتناهي فضا کې به بې برچې، بې عسکره او بې لښکره پاچاهي کوي.

الفت د انساني ټولنې د یو ذهني معمار او رنځپوه په توګه لومړی د ټولنې نیمګړتیاوې او رنځونه راپه ګوته کړي او بیا یې د رغونې او درملونې لپاره د قلم او لیکوالۍ کیمیا بوټي کارولي دي.

الفت چې په خپله د مینې په خم کې یو لوبېدلی او ټوکېدلی روح دی، د ډېرو انساني رنځونو د علاج اساسي نسخه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا (مینه) ګڼلې ده. هغه مینه او عاطفه د انساني ژوند د پاینښت، سمون او ښېرازۍ اساسي وسیله بولي. بې مینې ژوند یو بې مانا څیز ګڼي، چې انساني ژوند لوښی له خونده تشوي، مینه د الفت په نظر هغه ستر ځواک او واک دی، چې ډېر زورور او زبرځواکي هغې ته خپل سرونه ټیټوي او کاڼي زړونه هم د موم په شان نرمولای شي، استاد الفت وایي: (( د دنیا دود او دستور خو دادی چې زورور به کمزوري وهي او ضعیف به د قوي له لاسه په عذاب وي، مګر په کورونو کې د مینې او محبت تقاضا بل راز ده. هلته یو کوچنی ماشوم خپل مشر ورور په څپېړه ووهي او هغه ورته خاندي، له ټولو نه کمزوری په ټولو زورور دی. که دمینې او عاطفې ماشوم هر څنګه لوی سړي ګرېوان ته لاس واچوي یا یې لمن ټینګه ونیسي څوک ترېنه ځان نه شي خلاصولی، ځکه چې دا قوت په ټولو قوتونو زورور دی.)) استاد وایي عشق او مینه دهمدې دوه بېلابېلو طبقو ( زورورو او کمزورو) اند او ژوند د پیوستون او بقا په تار تړي: (( که عشق او مینه په مینځ کې نه وي نو د دیو او ښاپېرۍ زور هېڅکله برابر نه دی)).

استاد الفت د فاتح په نامه یوه نثر کې د مینې قوت داسې څرګندوي چې ان ډېر زورور، ظالم، او لوی فاتحین یې هم قوت ته ټینګېدی نه شي. وایي: (( سکندر له ډېر قوت او ډېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لښکرو سره ښار ته راغی، د ښار له خلکو سره يې څو ځله زورور جنګونه وکړه، له دواړو خواوو نه ډېر خلک ووژل شول، ډېرې وينې توې شوې، ډېرې ککرۍ تر پښو لاندې شوې، وروسته له ډېرو جګړو هغه د مړو په سرونو پښې کېښودې او د لوی فاتح په حيث ښار ته ننوت.

دی ډېر په قهر و، غوښتل يې چې ښار لوټ کړي او قتل عام جوړ کړي، مګر دا کار ده ونه شو کړای، ځکه چې په ښار کې يو پټ قوت موجود و چې ده ورسره مقابله نه شوه کولای.

دی چې ښار ته ننوت په يوې ډېرې ښکلې پېغلې يې سترګې ونښتې او په يو ځل ليدو يې زړه بايلود.

څوک چې بې زړه شي هغه بيا جنګ او جګړه نه شي کولای، ځکه ده هم له خپل ټول قوت او قدرت سره ځان دغې پېغلې ته وسپاره.))

د مينې ترڅنګ دويم څيز چې د انسان په ژوندانه کې تر ټولو ستر روحي ځواک جوړوي، هغه عقيده ده، د الفت په نظر عقيده د انسان هغه ستر روحي ځواک دی چې انسان پرې د مرګ له ستر ناورين سره ډغره وهلای شي. يو انسان د عقيدې په زور کولای شي ډېر بې عقيدې ځواکونه راونړوي. له پخواني شوروي سره د جګړې په ترڅ کې د افغانانو سرښندنه او اتلولي هم د يوې لويې عقيدې پايله وه، له يو انګريز سياستپوه نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړې د لومړیو کلونو پر مهال چا پوښتنه وکړه، چې افغانان د شورویانو په اندول له اقتصادي، بشري، پوځي او ان ارضي پلوه خورا کمزوري دي، ایا دوی به له شوروي زبرځواک سره د مقابلې توان ولري؟ هغه په ځواب کې وویل: «هلته افغانان جګړه نه کوي، بلکې عقیده جنګېږي.»

د همدغې عقیدې په رواني ځواک دښمن مات شو، خو کله چې همغو ګروهمونو اشخاصو د عقیدې لمن خوشې کړه، بیا یې نو نه هغه د تورې تاب و او نه هغه اتلولي، ان خبره تر دې هم راورسېده چې دهېواد د سیاسي ډګر یو منفي سیاسي لوبغاړي خپلو بې عقیدې همځنګو ملګرو ته وویل: «اوس د عقایدو دوران تېر شوی او د قومیت بازار ګرم دی». د همدغو بې عقیدې لښکرو پر ضد بیا یو بل عقیده یي لښکر په تش لاس د مبارزې ډګر ته را ودانګل او دا بې عقیدې شوی شخص یې له خپل تخت و بخت سره د کومیډۍ په سیند لاهو کړ.

ارواپوهان او د طب ډاکتران عقیده، د انسان روحي ناروغیو، نفسي غوښتنو د کنټرول او رواني ډاډ او تسکین ستره وسیله ګڼي. استاد الفت د یو عقیده من شخص په توګه، عقیده تر ټولو ستر ځواک بولي او د روحي تسکین او اخروي نړۍ پانګه یې ګڼي، هغه د یو عقیده من رانده مثال ورکوي چې: «په سترګو یې څه نه لیدل، مګر د خدای کتاب یې تر څنګه و او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسجد ته راغی، ده هغه اسماني کتاب په تاخچه کې کېښود او په لمانځه ودرېد. کله چې له عبادت نه فارغ شو او له مسجد نه روانېده هغه کتاب پاتې شو او يو بل کتاب لاسته ورغی، دی ړوند و کتاب يې نه ليده او په کتاب نه پوهېده مګر ټينګ يې په غېږ کې نيولی و.

ده ته دا نه وه معلومه چې په کتاب کې څه دي او د چا کتاب دی؟ له ده سره ټينګه عقيده وه، مګر پوهه او بينايي ورسره نه وه.

ده د خدای(ج) لپاره دغه کتاب ښکلاوه او لکه تعويذ لـه ځان سره يې ګرزاوه.))

د عقيـدې تـر څنـګ انـد يـا فکـر او د فکـر ازادي د فـردي او ټـولنيز نظـام د ثبـات، پرمختـګ او ټـولنيزې ښـېرازۍ اساسـي توک دی. د الفت په نظر په هغو ټولنو کې چې فکري اختناق موجود وي، انتقاد تړلی او فکر په زندان کې وي؛ هغه ټولنه لـه سـترو نـاروغيو سـره مخـامخېږي. سـره لـه دې چـې يـو شـمېر ليکـوال د ساري په توګه تولستوی په دې اند دی چې پـه يـوه ټولنـه کـې اختنـاق د زيـاتو ادبـي اثـارو او ان ادبـي شـهکارانو د رامنځته کېدو سبب کېږي، خو که په ځينو ټولنو کې اختناق د ادبـي اثـارو د رامنځتـه کېـدو سبب شوی هم وي، خـو پـه ځينـو نورو ټولنو کې بيـا د ډېرې تبـاهۍ لامـل ګرځېدلی دی، استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

الفت تر ټولو زيات فکري اختناق او سانسور د ټولني د سوکالۍ او هوساينې د مخنيوۍ عامل بولي، دی د ټولنيزې ښېرازۍ او نورو ډول ډول ستونزو د حل لاره همدا فکري ازادي بولي، وايي: «... که دی خلاص شو، ستاسو انتظام به په ډېر ښه شان وکړي، ستاسې ورې به ماړه کړي، ستاسې بربنډ به پټ کاندي، ستاسې دغه ښکلی موجود په تورو ځاګانو کې مه غورځوئ! په زندانونو کې يې مه اچوئ! پرېږدئ! دا بې ګناه بندي پرېږدئ! دی به ستاسې د ګډو وډو او پرېشانه خوبونو صحيح تعبيرونه وکړي. ډېرې سختې مبهمې او مجملې غوټې به پرانيزي. دی د راتلونکي حال پېشبيني کولای شي. د جوي او فلکي اوضاعو اقتضات ورته معلوم دي. پرېږدئ دا بې ګناه بندي پرېږدئ، د ده په ازادولو باندې علم او پوهه زياتېږي. وطن رڼا کېږي او ړانده بينا کېږي. دی له خپلو جفا کارو ورونو سره هم ښه سلوک کوي. دی ډېر پېچومي اوارولی شي. دی ډېرې کړې لارې سمولی او ډېر مشکلات حل کولای شي. ما خوب ليدلای چې دا بې ګناه بندي خلاصېږي او د سلطنت په کرسۍ کېني، ښه فکر وکړئ دا بې ګناه بندي څوک دئ؟ پس له ډېره فکره وايم فکر دی فکر.»

په يوه ټولنه کې د فکري ازادۍ تر څنګ سالم مشرتوب او ليډرشيپ په کار دی، خوشال بابا د يو ټولنيز مشر او دستار د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړي لپاره شل هنرونه او شل خصلتونه لازم بولي، د لوی خان په عقیده که چېرې دا شل هنرونه او شل خصلتونه په یوه شخص کې متبارز وي، نو بیا خو د دستار د تړلو (مشرۍ) لایق ګڼل کېدی شي او که نه هسې چې دستار تړي، هغه هزار دي. استاد الفت هم د مشرتوب لپاره کوټلي قوانین په ګوته کوي، د استاد په نظر هر هغه شخص چې د ځومره والي او ځرنګوالي له پلوه تر بل غوره وي، هغه باید د ټولنې مشرتوب پر غاړه واخلي.

استاد وایي: ((که موږ دوه مساوي عددونه لکه (۱=۱)، (۲=۲)، (۳=۳) او ... هر یو له بل نه وړاندې وروسته کړو، نتیجه یې یوه ده، مګر په دوو متضادو عددونو کې تقدیم او تاخیر ډېر فاحش فرق راولي او په مقدار کې ډېر تفاوت راځي.

که موږ ((یو)) او ((نه)) یوځای کوو او داسې یې لیکو (۱۹) نولس کېږي، مګر شل کېږي نه، که همدغه دوه عددونه داسې ولیکل شي (۹۱) خبر سلو ته نږدې کېږي او ډېر زیادت په کې راځي. همدغه سبب دی چې په پوهو جوامعو کې هغه ځوک دمخه کېږي چې قدر او مقدار یې له هغه بل نه زیات وي او د ده په مخکې توب باندې د جامعې قدر او قیادت ډېر لوړېږي. موږ باید په دې سُر پوه شو او د هر چا استعداد، معیار، مبلغ او مقدار ته وګورو.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد الفت چې زموږ د ټولنې ذهني معمار دی، د ټولنې د ویجاړې او د هغې د درملونې هرې خوا ته یې د فکر وړانګې رسېدلي. افراط او تفریط چې یو ستر مرض ګڼل کېږي، که د ژوند په هره برخه کې منځته راغی، نو هغه برخه له بې ثباتۍ او په پایله کې له نابودۍ سره مخامخوي. استاد د خپلې ټولنې د یو رنځپوه او طبیب په توګه په ټولنیز ژوند کې منځنۍ حد ډېر ګټور بولي. د اسلام د سپېڅلي دین د لارښوونو له مخې هم اوسط حد احسن دی. استاد الفت په دې عقیده دی که چېرې په یوه ټولنه کې افراط او تفریط واکمن شو، نو د یوه پر ځای به دوه تلفات زغمي، دی دا مرض په یوه نثر «دوه جنازې»، که واضح کوي. «په یوه ورځ په یوه ساعت کې له یوې شفاخانې نه دوه جنازې راووتلې، هغه یو د کم خونۍ په وجه او دا بل د فشار خون په سبب مړ شوی و. هغه یوه وینه نه درلوده ځکه مړ شو. د دغه بل وینه زیاته شوې او تیزه شوې وه، ځکه یې ژوند ونه شو کړای. دوی دواړه یو بادار او بل مزدور و، یو د افراط او بل د تفریط له لاسه مړ شو.» د استاد په نظر: «د یو کمزوري کول او د بل قوي کول د دواړو په مړینه تمامېږي او د ظالم او مظلوم عاقبت همدغه شان دی.»

د افراط او تفریط تر څنګ بله ستره ناروغي چې هم ځاني او هم ټولنیز خطرونه راولاړولای شي، هغه مضر احتیاط دی، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد الفت په نظر د یوه انسان د ځاني او ټولنیز ژوند د پرمختګ او هوساینې لپاره انساني جرئت هم په کار دی. تدبیر، هڅه، له حالاتو او نادودو سره مبارزه، د انساني ژوند بشپړونکي توکي دي. ډېر احتیاط د سړي اخلاقي جرئت سلبوي او فکر اوهامو ته سپاري، استاد هغه احتیاط غندي چې تر ګټې یې زیان زیات وي او د مضر احتیاط تر پولې رسېږي.

دا احتیاط څه په فردي ژوند کې وي که په ټولنیز کې د دواړو ضرر زیات دی. په ځانګړي ډول هغه (مشران) چې د ټولنې د لارښوونې دنده لري، که چېرې پر دې ناروغۍ اخته شي، نو ټولنه د تباهۍ کندې ته رسوي، استاد الفت په خپل یو نثر کې دا موضوع واضح کوي: ((شمی اکا زموږ په کور او کلي کې په ډېرې هوښیارۍ مشهور و او هر چا به چې کومه مشوره غوښتله ده ته به راتلل.

د ده د هوښیارۍ او احتیاط یوه نښه دا وه چې تر اخره پورې یې خپل کور ته برق رانه ووست او ویل به یې که کله برق شارټ شي نو حریق به واقع شي او کور به مې وسوزي.

د ده دا عادت و په موټر کې به نه سورېده او ډېر لرې ځای ته به هم پیاده روان و، ځکه چې د موټر له چپه کېدو ویرېده او

(c) ketabton.com: The Digital Library

احتیاط یې کاوه. هو! دی له ډېره عقله پیاده ګرځېده او کور کې به یې رڼا هم ډېره لږه وه.))

استاد الفت د انسان نفس د لایتناهي هوسونو مجموعه ګڼي چې عقیده یې برجونو ته له تکیې پرته د هغو مهار کول او کنټرول ناشونی کار دی. هر کله که د انسان یوه هیله پوره شوه، نو ورپسې به د بلې د پوره کېدو هیله لري، غم او خوشالي هم په همدغو هیلو پورې تړلي او یو له بله نه جلاکېدونکي بولي. د یونان یو نامتو ډرامه لیکونکی اشایلوس هم په همدې نظر و او ویل به یې: ((په هر غم پسې باید یوه خوښي او په هرې خوښۍ پسې باید یو غم راشي، چې د ژوند پاڼو ته رنګ ورکړي)) استاد الفت هم غم او خوشالي دواړه شپه او ورځ بولي چې یوه په بلې پسې رادرومي. خو استاد د خپلې ټولنې د وګړو د اندروني ناروغیو پر خواو خورا ښه بلد دی، د ده په نظر د انسان هیلې نه پوره کېدونکي دي. غم او خوشالي هم دواړه انډولیز یا نسبتي دي. مثلاً که چېرې یو څوک په ټولنه کې یو تن تر ځانه ډېر خوار و زار وګوري، نو بیا دی خوشاله وي او که چېرې تر ځانه پورته شخص وګوري، چې خوله یې له خندا ډکه وي، نو بیا دی خفه وي، ځکه چې تر ځانه پورته شخص نه شي زغملای، نو ځکه خو استاد وایي چې زموږ غم او خوشالي په خپله زموږ نه دي، بلکې هغه د بل چا په غم او خوشالۍ پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تړلـي دي. کـه هغـوی خفـه وو مـوږ خوشـاله يـو او کـه هغـوی خوشحاله وو نو موږ بيا خفه يو. د دې خبرې د اثبات لپاره د خپل يو دوست مثال ورکوي او وايي چې زما دوست په خپل کور کې هر څه لري، د ډېرو شتو خاوند دی، لنډه دا چې د ژوند ټول خواړه نعمتونه ورته رسېږي او له هېڅ ډول ستونزې سره مخامخ نه دی، خو دی هم کله کله خفه وي، خفه په دې وي چې زما يو بل دوست دی هغه تر ده لږ شان زيات شيان او شته لري.

د دې ډول غم او خوشالۍ تر څنګ په ټولنيز او ځاني ژوند کې استثنايي حالات هم د غور وړ دي. د استاد په فکر زموږ د قضاوت شعور بايد پر يوې مسالې مطلق حکم ونه کړي او وخت ته منتظر شي. ځينې چارې په ځاني تدبير ترسره کېدلای شي. دی په دې برخه کې د دوو بزګرانو يادونه کوي: «چې دواړو خپل فکرونه جنګول. يوه دهقان فکر وکړ چې په منې کې به خپل غوايي خرڅ کړم، ځکه تر پسرلي پورې ډېر وخت دی، وابنه به يې هم راته په ګټه کې پاتې شي او دويمي وويل چې په منې کې غوايي ارزانه وي اوس به يې واخلم او تر پسرلي به يې وساتم، دوی دواړه په دې معامله کې جوړ راغلل. يوه دهقان په بل غوايي خرڅ کړل، څو موده وروسته کلي ته د غويو تاکو (مرض) راغی او د دهقان دواړه غوايان په تېره چوړکۍ حلال شول. لومړي دهقان په خپلې هوښيارۍ شکر ايسته چې ښه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غـوايي يـې خـرڅ كـړي وو او كـور و كلـي هـم د ده پـه هوښـيارۍ افـرين وايـه، څـو ورځـې وروسـته د همـدې دهقـان پـه كـور د غلـو غدۍ پرېوتـه، دى كـم بخـت ووژل شـو او پيسـې يـې غلـو يـوړې، بيا به خلكو ويل چې نغدې پيسې څوك په كور كې ساتي همدا به يې حال وي. تـر ده خـو هغـه بـل ډېـر هوښـيار و كـه غـوايـان يـې لاړل نو سر خو يې روغ دى.))

استاد الفت چې له يوې خوا پر مينې مين دى، نو له بلې خوا د ظالمانو پر وروستي برخليک هم ښه خبر دى، د استاد پـه نظر د ظلم كاسـه نسـكوره وي او پـه وروسـتۍ پـايلـه كـې ظـالم د خپلـو اعمالو سزا ويني او د خلكو تر پښـو لاندې كېـږي. هغـه دا سـتره موضوع پـه ډېرو ظريفانه الفاظو كې ((د شـاعر تحفـه)) تـر عنـوان لاندې نثر كې بيانوي، وايي: (( كله چې هغه سر راپورته كړ او پـه مـا يـې نظـر ولېـده مـا خپلـه تحفـه يـو د پړانـګ پوسـتكى او يـو غزنيچى پوستين د هغه په مخ كې كېښوده.

هغه وويل: دا يو د ظالم پوټكى دى، څكه تر پښو لاندې لوېږي، دا بل د ضعيفانو له پوستكو نه جوړ دى او پـه غـاړې پـورې تعلق نيسي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زموږ د اوسنیو ادبیاتو فکري لوری

دا لیکنه د هیلې مجلې د ۱۳۷۸ل کال په (۱) گڼه کې خپره شوې ده.

په تېرو دوو لسیزو کې چې زموږ ادبیاتو ته د ((رسالت))، ((مسئولیت)) او ((خدمت)) په نامه، د مختلفو گروهو او سیاسي تګلورو د غوښتنو او موخو د بار وړلو دنده سپارل شوې وه، د هغو له کبله زموږ ادبیات ښه ډېر ستړي شول او دهغو ډېرې څانګې تر دې درانه بار لاندې زیانمنې شوې، زموږ په ټولنه کې سیاستوالو خپل سیاسي ارزښتونه ډېر لوړ وګڼل او ان د سیاسي موخو لپاره یې ګروهیز ارزښتونه وګومارل او وکارول، خو بیا هم سیاسي تګلارو خپل ارزښت بایلود. هغه ((ادبیات)) چې د مشخصو فکري او سیاسي لوریو ته ځانګړي شوي وو، د هغو لیکوالو هم خپل ځانونه او قلمونه ستړي کړي وو او ګڼ شمېر(( ادبي اثار یې)) یې چاپ کړي وو، پر ژوند یې د خپلو اثارو بې ارزښتي او مړینه ولیدله. د لیکوال لپاره تر دې بله بده پېښه نه شته چې دده تر مړینې دمخه دې، دده اثر ومري او ژوند دې ونه کړای شي. زموږ په تېر شل کلن ادبي بهیر کې ګڼ لیکوال او شاعران او ډېر مطرح لیکوال او شاعران لیدل شوي، چې اوس خپل اثار د شرم له کبله چاته نه ښکاره کوي. د ځینو د خلاصون لاره دا وي چې (( والله نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت دا شیان وو نو...)) په ((انقلابي شرایطو)) کې زموږ ډېرو کمو لیکوالو خپل ځاني شخصیت او د قلم عفت وساتلای شو. سیاسي یا شعاري ادب د ټولنې په ځانګړو کړکېچنو پړاوونو کې را منځته کېږي او د بل پړاو په راتګ سره خپل پخوانی رنګ او ارزښت بایلي او نوی رنګ اخلي، خو په بشري ټولنه کې ځینې تلپاتي ارزښتونه وي، که هغه د شاعر یا لیکوال د اثر مانیز جوهر شي او د ښکلا په نرم وربښمین شال کې یې تاو کړي، نو بیا کېدی شي د یو ادبي اثر د ژوند دوام تضمین شي. د حمزه بابا په اند (قومي او عقیده یي) ارزښتونه ددې ارزښتونو له جملې څخه دي.

د حمزه بابا د خبرې مانا دا ده چې عقیده او ملتپالنه د انسان د فطرت غوښتنې دي، چې یوه یې د روح او بله یې په وینه کې چلېږي. ژوند هم له دغو څیزونو جوړ دی، نو هغه لیکوال چې دا ارښتونه یې د خپل اثر مانیز ملاتړ ګرځولي وي، اثر به یې هم مقاوم او د ژوند له پلوه به تلپاتې وي. البته دا په دې مانا نه ده چې یوازې مانا او ښه فکر دې د یو ادبي اثر روح ښېرازه او ژوندی وساتلای شي، بلکې د لیکوال نوره روحي سپېڅلتیا، د ښکلا خوښونې او ځلونې احساس، د ژبې خوږلني، رنګینې ولولې او نور توکي هم په کې رول لري. که لیکوال یوازې د اثر پر مانیزه خوا زور راوړي، نو خبره خو بیا هماغه شعار ته رسېږي. شعاري ادب په غنایي برخه کې هم ځان ښکاره کوي. لنډه دا چې د هرې مسالې بربنډ بیان او د ادبي ښکلاوو په پام کې نه لرل، یو ادبي اثر د شعار کچې ته راټیټوي. په تېرو وختونو کې موږ ددې ډول شعاري ادب

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې زياتې بېلګې لرو. په ادبياتو کې د دغو ګرمو شعارونو پرله پسې غبرګون او تکرار انساني ذهن له يو ډول محسوسې او نامحسوسې ستړيا سره مخامخ کړ، ځکه خو د فطري غوښتنې له مخې انساني ذهن يو ډول ښکلاييزې ارامتيا ته اړ شو. دا ارامتيا د پوره ادب د ښاپېرۍ په وربښمينه غېږ کې د خپل روح د غوړولو له لارې امکان پيدا کولای شي، نه د سپوره، کليشه يي او سولېدلي شعاري ادب په لمن کې.

د دغه پخواني شاليد او تجربې په رڼا کې اوس زموږ ګڼ شمېر ليکوال د ادب د رباب په نازکو تارونو اغزنې سندرې نه وايي، بلکې هڅه کوي، چې ادب د خپل اصلي هدف (ښکلا ټوکونې) پر لور وخوځوي. اوس د ګرمو شعارو نو او نړه فکري شعرونو بازار سوړ شوی، نه مينه وال لري، نه لېوال او نه هم لوستونکي. هغه ليکوال چې د ښکلا ټوکونې ځواک يې کمزوری و، د فکري عقيده يي ارزښت تر سيوري لاندې يې ځانونه په ادبياتو کې په يو ډول ځرګند او ناځرګند فشار مطرح کول، اوس ورو ورو له متن نه حاشيې ته روان دي. په مقابل کې يې هغه ليکوال او شاعران راټوکېدلي او د ودې په حال کې دي، چې ټول ښکلي عقيده يي، ملي، هېوادني ارزښتونه او د انساني فطرت او غريزې غوښتنې په خپلو اثارو کې ځايوي. يوه ليکوال ته نه ښايي چې دومره مانيز بار يې پر خپل اثر ايښی وي، چې د هغه وزرونه دې تر لاندې وړپېږي، مړاوې دې شي او د هغه د لېږد ځواک دې ونه لري او يا يې هم د خپل اثر ښاپېرۍ دومره سينګار کړې وي، چې د مصنوعي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلا رنګ دې ورځخه راڅرګند شي. اوس څوک نه غواړي چې خپل ادبي اثر د یو ځانګړي ګوند ، ډلې او یا سیاسي ټګلوري د خدمت لپاره وګوماري. په ټولیز ډول ویلای شو ، چې زموږ د اوسني ادب فکري لوری په ادب کې د تلپاتې ارزښتونو د ځلونې او ځایونې پر لور روان دی او دا کار د لیکوال د ځاني شخصیت او ادبي اثر د تلپاتېینې لپاره ګټور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# راډیو په ویر او ټلویزیون په زنځیر کې

ددې لیکنې زیاته برخه د راډیو ټلویزیون د مسولینو د مرکو پر بنسټ او د ځینو نورو اثارو په مټ ترتیب شوې ده. دا لیکنه پر کابل باندې د استاد رباني د تنظیم واکمنۍ تر ختمېدو وروسته، د طالبانو د واکمنۍ پر مهال، د ۱۳۷٦ل کال د تلې- لړم پر میاشت، له پېښوره خپرېدونکې مجلې (تعاون) په خپله (٤) ګڼه کې خپره کړې ده.

په هر هېواد او ټولنه کې راډيو او ټلويزيون دوه داسې سترې خپرنۍ وسيلې دي، چې نه يوازې د يوې ټولنې عامه ذهنونو ته د پېښو ځرنګوالی او څومره والی رسوي، بلکې د يوې ټولنې په ذهني او فکر اعمار او پرمختګ کې هم کارنده رول ترسره کولای شي. راډيو او ټلويزيون د يوې اغېزمنې وسيلې په توګه کولای شي، د يوه ولس ټولنيزې نيمګړتياوې او دردونه را برسېره او د هغو د درملنې لارې چارې په ګوته کړي. ددې ترڅنګ راډيو او ټلويزيون د يوه ولس د روحي او ذهني ارامتيا او خوشالۍ لپاره ستر ستر کارونه ترسره کولای شي.

له هغه وخته راهيسې چې زموږ په ټولنه کې راډيو په خپرونو پيل کړی او بيا تر هغه وخته چې د اکثرو خپرونو مزي وشلول شول، راډيو په خپل وار سره زموږ د ټولنې په ذهني او ذوقي پرمختګ کې خپل اغېزمن رول ترسره کړی دی. په دې کې هم شک نه شته چې وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناوخت به راډیو د واکمنو سیاسي ډلو او اشخاصو د سیاسي او نورو ګټو تر شعاع لاندې راغلې وي، خو تر کومه ځایه چې خبره د راډیو په ټولنیزو، تفریحي او نورو خپرونو پورې اړه نیسي، په دې برخه کې په رښتیا سره ډېر کار ترسره شوی دی. افغانستان ته په داسې وخت کې راډیو راوړل شوې ده، چې هغه وخت لازموږ ځینو ګاونډیانو د راډیو د درلودلو تصور هم نه شو کولای.

تقریباً (۵۰) کاله راډیو ښه په خوند او دبدبې سره خپلو خپرونو ته دوام ورکړ. خو لکه څنګه چې د یو لیکوال په وینا زموږ پر ټولنه هر (۵۰) کاله وروسته یوه بلا نازلېږي، دا ځلې هم په سپین رنګ کې یوه تور رنګې بلا نازله شوه، نه یوازې دا چې د راډیو د ښېراز غړ ستونی یې خپه کړ، بلکې د ټلویزیون ستونی یې هم ومروړه. د افغانستان په خپرنیو وسایلو کې تر راډیو وروسته ټلویزیون دویمه ستره وسیله وه، چې په ډېره اغېزمنې سره یې د ولس په ذهني، فکري، ذوقي او سلیقوي پرمختګ کې یې ښه رول لرلای دی. د هېواد ټلویزیون هم تقریباً (۱۴) کاله له خپلو زیاتو بریو او لږ نیمګړتیا سره خپل کار ته دوام ورکړای شو، خو بیا یې پر مری د جګړې خپسې کېنول شوې او چا یې بیا له خولې رنګین او مترنم اواز وانه ورېد.

موږ به په دې لیکنه کې ددغو دوو سترو فرهنګي وسیلو د جوړېدو فعالیت او هغو ته د وراړول شوي مالي زیانونو جاج واخلو.

((سره له دې چې پر (۱۳۰۲ل) کال یوې دستګاه په راډیویي خپرونو پیل وکړ، خو د یوې نوې راډیویي دستګاه په اخیستلو سره چې د هغې د منتاژ او ترلو کار پر ۱۳۱۸ل کال پیل شو، د (۱۳۱۹ل) کال په نیمایي کې، راډیو ازمېښتي خپرونې پیل کړې او د (۱۳۲۰ل) کال د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وري پـر میاشـت د هغـه وخـت د صـدارت د مرسـتیال مرحـوم سردارمحمد نعیم له خوا رسماً پرانیستل شوه.)) (باز سازی نهادهای فرهنگی افغانستان، پښبور، شباهنگ، ۱۳۱-۱۳۴ مخونه)

پـه وروسـته کلونـو کې راډیـو پـه کمي او کیفي لحاظ وده وکړه، د کابـل پـه ګډون د هېـواد پـه اکثـرو ولایتونـو کې راډیـویي دستګاوې نصب او پر خپرونو یې پیل وکړ.

((د سردارمحمد داودخان د جمهوري ریاست پـه وروستیو وختونو کې له جاپان څخه د ټلویزیون دستګاه او ستوډیوګانې وپېرودل شوې او پر همدې وخت ټلویزیون پر ازمېښتي خپرونو پیل وکړ.))

د راډیو ټلویزیون د مامورینو په وینا:

((پـر دستګاه د خدمتونو او تجهیزاتو لپـاره د جاپـان لـه بلاعوضـې مرستې څخه (۹۵۰) ملیونه ینه چې (۲، ۳) ملیونه ډالره کېږي لګښت شوی و.))

خو ټلویزیون د ۱۳۵۷ل کال په دریو لومړیو میاشتو کې په اساسي ډول خپرونې پیل کړې. په وروسته کلونو کې د راډیو ترڅنګ ټلویزیون هم په ځینو ولایتونو کې نورې دستګاوې جوړې او خپرونې پیل کړې.

پـر ۱۳۶۱ل کـال د افغانسـتان ټلویزیـون د ((شمشـاد)) دستګاه لرونکی شو، چې لـه بهرنـۍ نړۍ سره یې مستقیماً د افغانستان د ټلویزیون اړیکي ټینګ کړل.

د راډیو افغانستان مسوولین وایي چې په افغانستان کې راډیو اصلاً د غازي امان الله خان د سلطنت پر وخت پر کار پیل وکړ او د لومړي ځل لپاره یې پر ۱۳۰۴ل کال د (۲۰۰) واټو په طاقت د راډیو دوې کوچنۍ بروډکاسټنګ دستګاوې هېواد تـه راوړل شوې. لـه دې دوو دستګاوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه یوه د هارتل پله ترڅنګ په یوه دري پوړیزه ودانۍ کې چې په لندني کوټې یاد بېدله، نصب شوه او په پام کې وه چې دویمه دستګاه یې په کندهار کې پر کار واچول شي، خو دا دستګاه مخکې تر دې چې کندهار ته انتقال شي، د سقاویانو له خوا تخریب شوه. د کابل راډیو تر خپرونو دمخه یوازې (۳۰) راډیوګانې چې په بطریو چالانېدلې او غوږونو ته به نژدې کېدلې او بیا اوربدل کېدلې، خلکو ته وېشل شوې وې، خو د یوه کال په بهیر کې دا شمېر (زرو) راډیوګانو ته ورسېده.

پر هغه وخت راډیو یوازې دوه ساعته خپرونې کولې. چې د مازیګر له پنځو بجو پیلېدې او د ماښام تر اوو بجو پورې یې دوام کاوه. په دې دوو ساعتونو کې (۲۰) دقیقې خبرونو، مقالو او تبصرو ته وقف شوې وې او پر نور پاتې وخت موسیقي خپرېدله.

د راډیو پر خپرونو لا یو کال نه و تېر شوی، چې د سقاوي اړو دوړ په نتیجه کې د نورو ملي شتمنیو تر څنګ د راډیو تاسیسات هم له منځه یوړل شول. خو پر ۱۳۲۰ل کال د راډیو خپرونې بیا په رسمي ډول پیل شوې، ددې کار لپاره پر ۱۳۱۵ل کال د راډیو د منځنیو څپو یوه شل کیلو واټه دستګاه، له المان ځخه وپېرودل شوه. پر ۱۳۱۷ل کال په یکه توت کې د بروډکاسټ او د هغه د محلقاتو د ودانۍ او په پل باغ عمومي کې د سټډیو د ودانۍ کار پیل شو. همدارنګه د ښوونځیو (۲۵) تنه زده کوونکي د راډیو د تخنیک په برخه کې پر زده کړه مصروف شول. پر ۱۳۱۸ل کال د استوونکې دستګاه او سټډیو لوازم او سامان کابل ته راوړل شول او د مونتاژ کار یې پیل شو، د مونتاژ تر بشپړېدو وروسته پر (۱۳۱۹ل) کال د راډیو ازمېښتي خپرونې پیل خو اساسي خپرونې یې د ۱۳۲۰ل کال له پیل سره پیل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر پیل شخه بیا تر څو کلونو پورې د راډیو پروګرامونه چې هره ورځ تر پنځو ساعتونو نه زیاتېدل، په ژوندي ډول خپرېدل، د راډیو کارکوونکي لکه ویاند، تخنیکر، سندرغاړي او نور د موسیقۍ غږوونکي د یوه مهالوېش له مخې راډیوته حاضرېدل، د کار تر اجرا وروسته یې خپله حق الزحمه اخیستله او رخصتېدل. د هغه وخت د راډیو په خپرونو کې خبرونه، ادبي ټوټې، ټولنیز، روزنیز، روغتیایي مضامین او موسیقي خپرېدله. پر ۱۳۲۲ او ۱۳۳۱ل کال په اردو او انګلیسي ژبو هم له همغو داخلي چینلونو څخه خپرونې پیل او دوام یې وکړ. بهرنۍ نړۍ ته د افغانستان د پېژندنې په خاطر په ۱۳۳۲-۱۳۳۷ کلونو کې د لنډو څپو یوه لس کیلو واټه او یوه پنځوس کیلو واټه دستګاه نصب شوه، چې پر دې وخت په یوه شپه او ورځ کې د راډیو خپرونې ۱۲ ساعتونو ته رسېدې. پر ۱۳۳۸ل کال د یو ځانګړي چاینل له لارې، د اردو، انګلیسي، الماني، روسي، عربي او وروسته په فرانسوي ژبو د خپرونو زمینه برابره شوه. د ګاونډیو هېوادو د اسیا د جنوب او جنوب ختیځ لپاره پر انګلیسي پروګرام سربېره پر همدې وخت د اروپایي هېوادو لپاره په انګلیسي ژبه یو بل پروګرام هم پر خپرونو پیل وکړ.

پر ۱۳۴۳ل کال په انصاري واټ کې د راډیو د کاپي، نشر او نویو سټډیوګانو جوړېدل او له پل باغ عمومي څخه نوې ودانۍ ته د راډیو د ادارو لېږد، د راډیو خپرونو په نوې او عصري بڼې بدلون ومونده، د موسسې نوم چې مخکې د راډیو کابل په نامه یادېده، پر دې کال د راډیو افغانستان په نوم واړول شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ۱۳۴۲ل کال د راډیو له نورو تجهیزاتو پرته د لنډو څپو یوه سل کیلو واټه دستګاه او د منځنیو څپو یوه سل کیلو واټه دستګاه هم په کار ولوېده او په دې ډول د راډیو افغانستان د خپرونو تولیز طاقت تر (۲۸۰) کیلو واټو زیات شو.

د راډیو د غږ د لاوچتیا لپاره پر ۱۳۵۵ل کال د منځنیو څپو درې ریلي دستګاوې، هره یوه د لسو کیلو واټو په طاقت د یوګوسلاویا له هېواده وپېرودل شوې او د کندهار، بلخ او هرات په ولایتونو کې وکارېدې. پر همدې وخت په منځنۍ کچه په یوه شپه ورځ کې د خپرونو وخت (۲۰) ساعتونو ته ورسېد.

پر ۱۳۶۱ل کال د راډیو د خپرونو حجم (۲۹) ساعته او (۳۰) دقیقې شو، پر ۱۳۶۲ل کال ۳۳ ساعته او ۳۰ دقیقو ته ورسېد او پر ۱۳۶۳ل کال په یوه شپه او ورځ کې په پنځو چینلونو کې د راډیو د خپرونو وخت (۵۱) ساعتونو ته ورسېد. تر ۱۳۵۷ل کال وروسته په یو شمېر ولایتونو کې محلي راډیوګانو پر فعالیت پیل وکړ. وروسته یې شمېر (۱۵) راډیویي مرکزونو ته ورسېد. چې هرې یوې په منځني حد (۳) ساعته خپرونې درلودې، چې مجموعي وخت یې (۴۵) ساعتونو ته ورسېده.

تر ۱۳۷۱ل کال دمخه د مرکز د راډیو د خپرونو حجم (۵۳) ساعتونو ته رسېده، چې (۱۸) ساعته یې په پښتو او دري ژبو چې بېلابېلې خپرونې یې په لمن کې رانغاړلې او نور وخت یې ځینو نورو خپرونو او بهرنیو ژبو ته وقف شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راډیو په اونۍ کې (۹۵) بېلابېلې خپرونې درلودلې چې هرې ادارې په خپله برخه کې خپلې خپرونې سمبالولې. دلته به د ځینو خپرونو نومونه واخلو:

- د قران کریم تلاوت او تفسیر
- دیني موعظې
- خاصه دیني خپرونه
- دهقان
- کارگر
- ترانه ها و سخن خان
- کورنی ژوند
- دنیای جوانان
- زن وزنده گي نو
- کار و زنده گی
- ما و شنونده گان
- اطفال
- ورزش
- از هر چمن سمنی
- جوانه ها
- شهر قصه
- فرهنگ مردم
- دهکده سبز کودکی
- نمایش رادیویی
- جام جم
- تبصره های سیاسی
- مروری به رویدادهای مهم هفته
- در ائینهء مطبوعات
- صدای سرباز
- در فروغ مصالحه
- کلوپ دوستداران قوای مصلح
- د ېرې مجلس
- رادیو دوست شما
- صدای سره میاشت
- جهان ما
- اقتصاد
- علمی
- بسوی اشتی ملی
- ما و کشور ما
- مجله رادیویی
- پیام صبحگاهان
- هفت اورنگ
- زمزمه های شب هنگام
- ترازوی طلایی

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ـ شبچراغ | ـ څارندوی |
| ـ ولولې | ـ سیمای قهرمان |
| ـ شعرونه او بهیرونه | ـ غزل |
| ـ دنیای کتاب | ـ هوجرې مجلس |
| ـ گزارشها و گفتگوها | ـ سهارنۍ نذارنه |
| ـ سرود و سخن ادینه روز | ـ موسیقی کلاسیک |
| ـ راډیو ډرام و راډیو داستان | ـ موسیقی حماسی |
| ـ ملل متحد | ـ موسیقی ولایت |
| ـ سپېدې | او ځینې نورې خپرونې... |
| ـ در پرتو بازسازی | |

پر دې خپرونو سربېره په پشه یي، نورستاني، بلوڅي، ترکمني او ازبکي ژبو هم ځینې خپرونې کېدلې.

هغه اساسي خپرونې چې تر ۱۳۷۱ ل کال دمخه، د افغانستان تلویزیون ترتیب او خپرولې، ټولې (۴۸) خپرونې وې، دلته یې د نومونو یادونه کوو:

| | |
|---|---|
| ـ د قران کریم تلاوت | ـ کلوپ جوانان |
| ـ اسلام و جامعه | ـ جهان ما |
| ـ اطفال | ـ کنسرتهای هنرمندان خارجی |
| ـ زراعت و مالداری | ـ مستند فلمونه |
| ـ سرگرمیهای ورزشی | ـ سریالونه |
| ـ راه زنده گی | ـ اردو |
| ـ زن و جامعه | ـ زنده گی سرباز |
| ـ مسابقه ذهنی | ـ شما و تلویزیون |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ـ هفت شهر هنر | ـ موسيقي رنگارنگ |
| ـ مجله تلويزيونی | ـ جهان حيوانات |
| ـ کتاب دريچه بسوی جهان | ـ نگينه ها |
| ـ پاسخ چيست؟ | ـ سينمايي فلمونه |
| ـ تياتر تلويزيونی | ـ ساعتی با شما |
| ـ مشاعره | ـ څارندوی د خلکو خدمتګار |
| ـ فرهنګ مردم | ـ کلوپ دوستداران قوای مسلح |
| ـ تلويزيوني سفر | او ځينې نورې... |

تر ۱۳۷۱ل کال دمخه د ټول هېواد په کچه (۱۷۴۸) تنو د هېواد په مرکز او ولايتونو کې په راډيو او ټلويزيون کې رسمي دندې سرته رسولې. چې له هغې جملې (۱۲۷۷) تنو په مرکز او (۴۷۱) تنو په ولاياتو کې دندې لرلې. دغه راز (۹۷۲) تنو په مرکز او (۱۹۴) تنو په ولايتونو کې د اجيرانو په توګه کار کاوه، چې د دواړو ټول شمېر (۲۹۱۸) تنو ته رسېده. کله چې د ۱۳۷۱ل کال د ثور پر مياشت په کابل کې خونړي جنګونه پيل شول او څلورنيم کاله يې دوام وکړ، نو د هېواد د نورو فرهنګي مرکزونو ترڅنګ راډيو او ټلويزيون ته هم تر تصوره اوچت درانه زيانونه واړول شول.

د BBC راډيو د يو خبر له مخې، د راډيو ټلويزيون ديو مسئول په وينا، د ۱۳۷۱ل کال په همغو څو لومړيو مياشتو کې راډيو ټلويزيون ته (۱۵) مليونه امريکايي ډالره زيان اړول شوی و.

پر ۱۳۷۳ل کال د راډيو ټلويزيون رئيس (شمس الحق اريانفر) يوې غونډې ته د رپوټ په ترڅ کې وايي: «د مرکز د ټلويزيون د اورېدنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ليدنې يوازينۍ دستګاه تخريب شوې او له منځه ورک شوې ده، چې دا له لسو مليونو ډالرو څخه زيات دی. د راډيو د لېږدونې شپږ دستګاوې کاملاً له منځه ورک شوي دي چې دا تر (۳۰) مليونو ډالرو څخه زيات زيات زيان دی. په شلو ولايتونو او ولسواليو کې عملاً ټلويزيونونه موجود وو، چې دوه ثلثه يې له منځه ورک شوي او چور شوي دي.

په (۱۸) ولايتونو کې محلي راډيوګانې موجودې وې، چې درې په څلورمه برخه يې تخريب شوې او له منځه ورک شوې دي. په ټولو ولايتونو کې د راډيو د اخذې دستګاوې او په (۴۴) سيمو او ولايتونو کې ګرځنده سينمايي دستګاوې موجودې وې، چې نورې وجود نه لري.))

خو پر ۱۳۷۲ل کال د راډيو ټلويزيون مسوولينو د خپلو پاتې او له منځه تلليو وسايلو او وسايطو يوه څېړنه کړې او راډيو ټلويزيون ته رسېدلي زيانونه يې په دې ډول په ګوته کړي دي:

### ۱- په يکه توت کې راډيويي تاسيسات:

دا تاسيسات چې د منځنيو او لنډو څپو راډيويي استوونکې په کې شاملې وې او د جګړو له کبله تخريب شوي دي، د دې تاسيساتو اټکليز زيان د تجهيزاتو په برخه کې (۳۰) مليونه امريکايي ډالره او د ودانيو په برخه کې (۷) مليارده افغانۍ اټکل شوی دی.

### ۲- په څرخي پله کې راډيويي تجهيزات او تاسيسات:

د دې تاسيساتو ټول تجهيزات له منځه ورک شوي او د تاسيساتو اکثرو برخو ته هم زيان اړول شوی. د تجهيزاتو په برخه کې دوه مليونه امريکايي ډالره او د ودانۍ په برخه کې يو مليارد افغانۍ زيان اټکل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۳- په اسمايي غره کې ټلويزيوني لېږدوونکي تاسيسات:

د ټلويزيون لېږدوونکي تاسيسات د جګړو په ترڅ کې په بشپړ ډول تخريب شوي، چې د تاسيساتو د تجهيزاتو په برخه کې څلور مليونه امريکايي ډالره او د ودانيو په برخه کې يو مليارد افغانۍ زيان اټکل شوی دی.

### ۴- د راډيويي او ټلويزيوني ستوډيوګانو په برخه کې:

د راډيو ټلويزيون د ستوډيوګانو د يادونې وړ وسايل لکه مايکونه، راډيو، ټيپ ريکارډونه، امپلی فايرونه، د لايټ وسايل، ويډيو ټيپ ريکارډونه، ويډيو کسټ ريکارډونه، جنراتورونه، له لېږدوونکو سره د ستوډيوګانو د تړلو وسايل، مانيټورونه، د اډيټ او کاپي سيستمونه، اکثره له کاره لوېدلي او يا هم د توغونديو د لګېدو له امله زيانمن شوي او له فعاليته غورځېدلي دي. دغه راز د برېښنا د نشتوالي له کبله د راډيويي او ټلويزيوني وسايلو، کسټو او ټيپونو د مناسبې نه ساتنې له کبله اکثره دا وسايل د ګټې اخيستې وړ نه دي. د دې موادو د بيا پوره کولو او اخيستلو لپاره دوه مليونه ډالره اټکل شوي دي. همدارنګه د راډيو ټلويزيون يو زيات شمېر سامان الات غلا شوي، چې هغه لا په دې شمېر کې شامل نه دي.

### ۵- په ولايتونو کې د راډيو ټلويزيون تاسيسات:

په (۱۸) ولايتونو کې د راډيو ټلويزيون محلي ستوډيوګانې د هغو له کم طاقت لېږدوونکو دستګاوو سره موجودې وې. په اکثرو ولايتونو او سيمو لکه کندهار، فراه، شينډنډ، کندز، پکتيا، خوست، کونړ، غزني، نيمروز، هرات، ننګرهار، پروان، ارزګان، مقر او نورو ځايونو کې د راډيو ټلويزيون مرکزونه او د هغو تخنيکي امکانات يا په بشپړ ډول او يا هم قسماً تخريب شوي او يا چور شوي دي، چې دلته ورته اشاره کوو:

۱- د غزني د راډيو ټلويزيون تاسيسات او هغو ته رسېدلی زيان:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تجهیزاتو په برخه کې (۵۰۰) زره ډالره، د ودانۍ په برخه کې (۵۰۰) ملیونه افغانۍ.

۲- د مقر د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:
تجهیزات یو ملیون ډالره، وداني (۵۰۰) ملیونه افغانۍ.

۳- د خوست د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:
تجهیزات یونیم ملیون ډالره، ودانۍ (۵۰۰) ملیونه افغانۍ.

۴- د ګردېز د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:
تجهیزات یوملیون ډالر، ودانۍ (۵۰۰) ملیونه افغانۍ.

۵- د کلات د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:
تجهیزات یو ملیون ډالر، ودانۍ (۵۰۰) ملیونه افغانۍ.

۶- د کندهار د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:
تجهیزات یو ملیون ډالر، ودانۍ (۵۰۰) ملیونه افغانۍ.

۷- د هلمند د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:
تجهیزات یو نیم ملیون ډالره، ودانۍ (۳۰۰) ملیونه افغانۍ.

۸- د فراه د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:
تجهیزات، (۵۰۰) زره ډالره، ودانۍ (۵۰۰) ملیونه افغانۍ.

۹- دنیمروز د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:
تجهیزات (۵۰۰) زره ډالره، ودانۍ (۴۰۰) ملیونه افغانۍ.

۱۰- د هرات د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:
تجهیزات (۵۰۰) زره ډالره، ودانۍ (۵۰۰) ملیونه افغانۍ.

۱۱- د ننګرهار د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلی زیان:
تجهیزات یوملیون ډالر، ودانۍ دوه سوه ملیونه افغانۍ.

په نورو پاتې ولایتونو کې د راډیو ټلویزیون تاسیساتو ته په مجموعي ډول دوه ملیونه ډالره او درې ملیارده افغانۍ زیان اوښتی دی. په اداري او ټرانسپورټي برخه کې هم راډیو ټلویزیون ته په مجموعي ډول درې ملیارده او (۵۰۰) ملیونه افغانۍ زیان اوښتی دی.

### د راډیو ټلویزیون نا بشپړ کمپلکس ته رسېدلی زیان:

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۱- د راډيو په برخه کې:

د ۱۹۸۰م کال د فبرورۍ مياشتې پر (۹) نېټه د افغانستان او ((ډيموکراتيک المان)) د حکومتونو ترمنځ يو تړون لاسليک شو، چې د ختيځ المان له کريډيټ څخه، د راډيو تلويزيو لپاره نوې ودانۍ او ستوډيوګانې جوړې شي. (۴/۵) مليونه ډالره د المان له کريډيټ او (۲/۵) مليونه ډالره له دولتي کريډيټ څخه ددې کار لپاره بېل شوي وو. ددې پروژې د لاسليک په لړ کې (۸/۵) مليونه ډالره د وسايلو او تجهيزاتو لپاره په پام کې نيول شوي وو. ددې پروژې د بشپړېدو لپاره پنځه نيم کلونه وخت ټاکل شوی و. خو په افغانستان کې د سياسي، پوځي حالاتو د خرابۍ او د المان د دولت د متخصصينو له خوا د خنډونو د رامنځته کولو له کبله د پروژې کار بشپړ نه شو او هغه وسايل او مواد چې د ودانۍ د بشپړونې لپاره راوړل شوي وو، هم د غلو او داړه مارانو له خوا چور او چپاول شول.

### ۲- د ټلويزيون په برخه کې:

د ۱۹۸۳م کال د جون پر دويمه نېټه د افغانستان او په هغه وخت کې د شوروي حکومت ترمنځ له افغانستان سره د تخنيکي مرستو په لړ کې د دريو داسې ستوډيوګانو د جوړولو په باب چې په ستوډيويي تجهيزاتو، ارتباطي مرکزونو، د کنټرول کمپلکس او د اندازه کولو وسايلو سمبال وي، خبرې پېل شوې. ددې درې ستوډيوګانو لپاره (۱۰) مليونه روبله په پام کې ونيول شول.

له دغه کريډيټ څخه (۴۱۸۶۰۰۰) روبله مصرف شول. د افغانستان د دولت له بودجې څخه (۵۳۰) مليونه افغانۍ مصرف شوې. د شوروي د ړنګېدو په وجه دا پروژه هم نابشپړه پاتې شوه او مواد يې هم ټول غلا شول. ددې پروژې زيان (۷) مليونه ډالره اټکل شوی دی.

### ۳- د شمشاد دستګاه ته رسېدلی زيان:

د شمشاد دستګاه چې په (۱۰) مليونه ډالره پېرودل شوې وه او له هغې څخه بهر ته د ټليفون کولو او د ټلويزيوني خپرونو د اخيستلو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېږدولو لپاره کار اخيستل کېده، دوه ځلې د جګړو په ترڅ کې په توغنديو ولګېده. لومړی توغوندی د هغې د ټليفوني او ټلويزيون کاناليزاسيون سيستم فلج کړ، چې له دې درکه (۱۵۰) زره امريکايي ډالره زيان واړول شول، يو کال وروسته د توغنديو ضربو د شمشاد د ټلويزيوني لېږدونو سيستم چې ولايتونو ته يې خپرونې ريلې کولې، له منځه يووړ او د يو توغوندي د لګېدو په وجه د هغې کاسه يا ډېش هم له کاره ولوېد، چې رسېدلی زيان يې لسګونه مليونه ډالره اټکل شوی. په مجموعي ډول (۲۵۲) مليونه ډالره زيان اړول شوی دی. دغه راز په همدې وخت کې د راډيو ټلويزيون د دفترونو وسايل هم لوټ شوي چې له دې درکه هم راډيو ټلويزيون ته د سل زرو ډالرو په شاوخوا کې زيان اوښت دی.

دا هغه زيانونه وو، چې له ۱۳۷۱ل کال څخه د ميزان تر مياشتې پورې راډيو او ټلويزيون ته رسېدلي دي. کله چې د طالبانو اسلامي تحريک د کابل پر ښار واکمن شو، د راډيو په پروګرامونو کې کوم زياتوالی رانغی، اوس په يوه شپه او ورځ کې نهه نيم ساعته خپرونې کوي. د راډيو افغانستان نوم (د شريعت غږ) راډيو په نوم اړول شوی. د رباني حکومت په رنګېدو او د طالبانو د اسلامي خوځون په واکمنۍ سره دومره وشول، چې راډيو او ټلويزيون ته د هر ورځنې زيان مخه ونيول شوه.

د راډيو او ټلويزيون پوره بيا رغونه او جوړونه او په پوره خپرونو سمبالول ډېر زيات مالي لګښت او وخت ته اړتيا لري چې دا دواړه په اوس وخت کې موجود نه دي. خو له دې سره سره بيا هم طالبانو د راډيو ځينې برخې ترميم کړې او په ځينو ولايتونو کې محلي راډيوګانو بيا پر فعاليت پيل کړی. خو ټلويزيون لاتراوسه ګونګ دی، يا به د پخوانۍ ويجاړتيا او مالي ستونزو له کبله غلی وي او يا به يې هم چا پر خوله لاس ايښی وي او د بېلابېلو ګروهو په زنځير به تړل شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنتوني کتابونو د چاپ اړتیا

> دا لیکنه د طالبانو د واکمنۍ پرمهال، په کابل پوهنتون علمي مجله کې چاپ شوې ده او د پوهنتون د همغه وخت او حالاتو څرگندونه کوي.

دا خو ټولو ته څرگنده ده چې جگړه د تباهۍ او بدمرغۍ ستر لامل دی. پر هره ټولنه چې د جگړې توپان تېر شي نو تر ډېره وخته بیا په کې د نوي تمدن او فرهنگ راټوکېدل له ستونزو سره مخ وي. تېر فرهنگ او کلتوري شتمني یې هم لوټ او تالاشي، او د نوي او تېر فرهنگ او کلتوري ارزښتونو ترمنځ یې په ځینو برخو کې د ارتباط مزي هم غوڅ شي.

زموږ پر هېواد هم همداسې یوه خونړۍ جگړه تېره شوه او لا تېرېږي. د همدې جگړې په ترڅ کې د ژوند هره برخه زیانمنه شوه، په تېره بیا فرهنگي شتمنیو او میراثونو درانه زیانونه وزغمل، کتابونه او خپرونې د هېواد د فرهنگ هغه برخه وه، چې په ډېره زیاته کچه ورته زیان واوړول شو. اټکل شل ملیونه ټوکه کتابونه د ټول هېواد په کچه لوټ او له منځه یوړل شول. کابل پوهنتون چې د هېواد ستر روزنیز مرکز دی، د جگړې اورونه یې پر سینې بل شول. د پوهنتون د مرکزي کتابتون له اټکل دوه ملیونو ټولو کتابونو ډېر کم شمېر پاتې شو. د پوهنتون د ټولو پوهنځیو او ټولو څانگو کتابتونونه، درسي او مرستندوی درسي کتابونه هم اکثره له منځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوړل شول د هېواد یو شمېر نورو پوهنتونو ته هم ورته زیانونه واړول شول. تر جګړې له مخه د کابل پوهنتون په چاپخونه کې دومره درسي او مرستندوی درسي کتابونه چاپېدل، چې د پوهنتون د محصلینو درسي اړتیاوې یې تر زیاته حده خړوبولې. د پوهنتون چاپخونې د پوهنتون د استادانو تر (۲۲۰) عنوانو زیات داسې کتابونه خپاره کړي وو، چې د پوهنتون په تحصیلي نصاب کې شامل وو، خو تر جګړې وروسته د دې کتابونو ډېر کم شمېر پاتې شو. تر جګړې وروسته چې کله کابل پوهنتون تر (۱۸) میاشتنې ځنډ وروسته یو ځل بیا پیل شو، نو د نورو ستونزو تر څنګ یوه بنسټیزه ستونزه همدا د درسي کتابونو نشتوالی و. استادانو په اکثرو ټولګیو کې د کتاب پرځای محصلینو ته نوټ ورکاوه. د نوټ ستونزه دا وه او ده چې د محصل او استاد ډېر وخت نیسي، استاد دې ته وخت نه پیدا کوي، چې محصل ته خپل ورکړی نوټ تشریح کړي، که استاد د وخت د سپما لپاره په ګړندي ډول نوټ ورکوي، نو کېدی شي ټول محصلین پر ټاکلي وخت ټول نوټ سم وانه خیستلای شي.

استاد هم د درس د تشریح او شننې لپاره پوره وخت نه شي ترلاسه کولای، مجبور دی پر ډېر لږ وخت محصل ته ډېر څه وړاندې کړي. محصل چې ذهني ځواک یې په لومړي سر کې د نوټ پر اخیستلو کارېدلی وي، د یو ډول ذهني ستړیا احساس کوي او د درس تشریحي برخې ته یې ذهن ښه تازه نه وي. د استاد د ذهن تازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواک په لومړۍ برخه (نوټ) کې کم شي، دويمې برخې ته يې لږ ذهني ځواک پاتې وي.

بلـه بنسـټيزه سـتونزه دا ده چې دا کـار اسـتاد او محصـل تـه د يـو ډول ذهني لټۍ چانس پـه لاس ورکـوي. اسـتاد دې تـه نـه اړوزي چې نوې مطالعه وکړي او زده کوونکي تـه نـوي څـه وړانـدې کـړي، فکـر کـوي چې پرتـه لـه دې هـم درسـي سـاعت پـر نـوټ ورکـولـو بانـدې تېرېږي، نويو موادو ته څه اړتيا ده. په نتيجه کې د زده کـوونکي او اسـتاد تـرمنځ د ښـووني او روزنـې يـو ډول تکـراري او بـې نوښـته درسي سيستم رامنځته کېږي، چې استاد د نوې مطالعې اړتيـا تـه نـه اړوزي او محصـل د زيـاتو معلومـاتو د جـذب ځـواک لـه لاسـه ورکوي.

کابل پوهنتون له څو کلونو راهيسې لـه دې سـتونزې سـره مخـامخ دی. د نړۍ په اکثرو او ان ټولو پوهنتونونو کې اوس د نوټ سيسـتم له منځه تللای دی، ځکه چې هلته د درسي مـوادو پـه ځـانګړي ډول د چاپي درسي موادو هېڅ کمی نه شته. هر استاد په خپله تخصصي څانګه کې د خپل نصاب، وخت او د زده کوونکو لـه اړتيـا سـره سـم کتاب ليکلی او چاپ کړی دی. زده کـوونکي ( محصـلين) لـه همغـه چاپي کتاب نه ګټه اخلي. اسـتاد پـه کتـاب کـې راغلـي موضـوعات تشـريح کـوي او د اړتيـا پـر وخـت محصـلينو تـه نـور کتابونـه ور پـه ګوته کوي، چې د خپلو ستونزو د حل لپاره هغـو تـه مراجعـه وکـړي. په ځينو برخو کې لکچرنوټ يـوازې د دې لپـاره ورکـول کېـږي چې استاد کومه داسې موضوع څېړلې او شنلې وي، چې پـه کتـاب کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغې یادونه یا نه وي راغلي او یا یې سرسري یادونه شوې وي. د کتاب تر چاپ وروسته زماني واټن کې نوې پرمختیاوې او لاسته راوړنې هم د لکچر نوټ په بڼه ورکول کېږي، د کتاب په بیا چاپ کې دا نوې لاسته راوړنې هم په کتاب کې زیاتېږي. په همدې ډول دا لړۍ دوام مومي. د پوهنتونونو د درسي سیستم کمپیوټرایز کول خو لا په ځینو پوهنتونو کې د کتاب د نشتوالي اړتیا هم له منځه وړې ده.

خو زموږ په پوهنتونونو کې پخوا هم د درسي ساعت یوه یا دویمه برخه نوټ نیوله او اوس خو بېخي زیات وخت پر نوټ ورکولو تېرېږي. ښه نو چې داسې ده د حل کومه لاره هم شته او که نه؟

د حل څو لارې شته: یوه لاره داده چې د پوهنتون چارواکي د پوهنتوني کتابونو د چاپ لپاره ځانګړې پانګه پیدا کړي، چاپخونه له سره جوړه او ټول پوهنتوني درسي کتابونه له سره چاپ کړي.

که چېرې پوهنتون او یا پوهنتونونه په خپله ددې وس نه لري او یا حکومت ددې کار لپاره پوره پانګه ونه لري او یا یې نه ورکوي، نو ښه به دا وي چې یونیسکو، د ملګرو ملتونو ځینو نورو اړوندو ادارو او خیریه موسسو سره خبرې وشي، چې د پوهنتوني کتابونو په چاپ کې لاس وکړي.

درېیمه لاره داده چې د ناچاپه پوهنتوني کتابونو یو لست برابر شي، د هر کتاب عنوان، موضوع، مخونه او اټکلیز لګښت ولیکل شي، بیا دا لست یو شمېر هغو فرهنګیانو، فرهنګپالو، ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوداګرو او هېواد پالو افغانانو ته ولېږل شي، چې هر څوک د هر کتاب د چاپولو وس لري، همغه کتاب دې انتخاب او چاپ کړي.
په دې ډول کېدی شي ګڼ شمېر کتابونو ته د چاپ لاره اواره شي.
بله لاره داده، هغه نشراتي موسسې چې د خپلې ځانې ګټې او هېوادني فرهنګ د خدمت لپاره کتابونه چاپوي، هغو سره اړيکې ټينګ شي او د يوه ګډ پلان او تفاهم له مخې د کتابونو د چاپ مساله وڅېړل شي، کېدی شي مثبته نتيجه ترلاسه شي.
که پورتنيو ټولو لارو هېڅ نتيجه ور نه کړه، بله لاره داده چې خپله استادان دې دا کتابونه په شخصي لګښت چاپ کړي او پر محصلينو دې په تمام شوي قيمت او يا له هغه څخه (۵- ۱۰) فيصده لوړه بيه وپلوري. محصلين ددې ډول کتابونو د اخيستلو وس ځکه لري، چې هغوی خو پرته له دې هم د نوټ لپاره ځانګړې کتابچه اخلي، که د ورځني نرخ له مخې د سپين کاغذ يوې سل مخيزې کتابچې او د اخباري کاغذ يو سل مخيزه کتاب قيمت سره محاسبه کړو نو اندول يې تقريباً برابر خېږي او که د محصل د قلم او وخت لګښت پرې ور زيات کړو، نو کېدی شي کتاب لاارزانه او ګټور پرېوزي.
ځينو کسانو سره کېدی شي دا پوښتنه پيدا شي چې استادان خو ځانته حيران دي، دوی ځانته ډوډۍ نه شي پيدا کولای پاتې لا د کتاب چاپ، دا خو ډېر لګښت غواړي او يو استاد هېڅکله دومره نقدي پانګه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې برخه کې باید وویل شي چې ډېرې داسې چاپخونې شته چې په مناسب قیمت کتاب چاپوي او هم د یو ټاکلي وخت لپاره پیسو ته صبر کوي. که یو استاد له چاپخونې سره د یو تړون له مخې په ټاکلې موده کې د پیسو ورکړه ومني نو غټه ستونزه به پیدا نه شي. دلته اسانتیا داده چې که هر استاد د خپل مضمون د نوټ پر ځای محصل ته کتاب ورکړي، نو محصل د اړتیا له مخې مجبور دی کتاب واخلي، هغه پیسې چې د نوټ لپاره یې پر کتابچې ورکولې اوس به یې پر کتاب ورکوي. د کتابونو وېشل او د پیسو لاس ته راوړل په ډېر لږ وخت کې ترسره کېدی شي، مثلاً د سمستر پیل کې محصل مجبور دی، د نوي مضمون کتاب راونیسي او دا لړۍ په پنځه ورځو کې ترسره کېدی شي.

د پوهنتوني کتابونو د چاپ په اړه پر پورتنیو څرګندو لارو چارو سربېره کېدی شي، ځینې نورې لارې چارې هم وي، چې استادان کولای شي په خپل فکر او سوچ هغه پیدا کړي، خو موږ دلته د ځینو څرګندو لارو چارو یادونه وکړه. که چېرې کابل پوهنتون او یا د هېواد نورو پوهنتونونو لپاره پوهنتوني کتابونه چاپ شي، نو د محصلینو پورتنۍ یادې شوې ستونزې به له منځه لاړې شي. دواړه، هم استاد او هم محصل به د وخت د سپما له کبله زیات تفکر او کار ته وخت پیدا کړي. علمي او فرهنګي پرمختیا به رامنځته شي.

اوس یو شمېر خپلواکو فرهنګي ټولنو پتېیلې چې د خپلو فرهنګي خدمتونو په ترڅ کې د تحصیلي کتابونو چاپ ته د لومړیتوب حق ورکړي. دا ډول فرهنګي ټولنې چې یوازې فرهنګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او علمي موخې تعقیبوي، کېدی شي په خپل کار کې زیاتې بریمنې شي، ځکه چې دوی د وخت اړتیا احساسوي او سپېڅلی هدف تعقیبوي.

(د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه) چې په جرمني کې د یو شمېر افغان لیکوالو او فرهنګیانو له خوا جوړه شوې ده او د خپل دوه کلن عمر په بهیر کې یې تر اوسه ګڼ شمېر علمي او تاریخي اثار افغاني ټولنې ته وړاندې کړي دي، د نوبت دا ډیوه په لاس کې نیولې او غواړي د هېواد د پوهنتونو لپاره په لومړي ګام کې هغه کتابونه چاپ کړي، چې په تحصیلي نصاب کې شامل دي. ددې ټولنې له خوا اوس د طب پوهنځي په تحصیلي نصاب کې شامل څو کتابونه تر کار لاندې دي، کېدی شي په نږدې وختونو کې چاپ شي. که دغه کار او چار د نورو فرهنګي ټولنو، فرهنګپالو، ملي سوداګرو، حکومت او یا نورو اشخاصو له خوا ګام پر ګام عملي شي، نو پوره باور دی چې په ډېر لږ وخت کې به د پوهنتونونو د محصلینو ټولې هغې ربړې له منځه لاړې شي، چې د کتابونو د نشتوالي له امله ورته پیدا شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان په ختيځ کې ژورنالستيکي هڅې

دا ليکنه په هغه يو ورځني علمي ورکشاپ کې اورول شوې وه، چې په ختيزو ولايتونو کې د ژورناليزم د پراختيا او ځوانو ژورناليستانو د استعدادونو د غوړېدو لپاره په ننګرهار کې د ميديوټيک دفتر له خوا، جوړ شوی و. وروسته بيا د سپوږمۍ جريدې د ۱۳۸۳ ل کال په لومړۍ او دويمه ګڼه کې چې د نوموړي کال له ورې- غبرګولې سره سمون خوي، خپره شوې ده.

د شمس النهار او سراج الاخبار جريدو تر خپراوي وروسته، چې په افغانستان کې د معاصرو ژورنالستيکي هڅو پيلامه ګڼل کېږي، په ولايتي کچه په ختيځ کې (اتحاد مشرقي) خپرونه له لومړيو ژورنالستيکي فعاليتونو څخه يو غوره فعاليت ګڼل کېږي، (د کور غم) چې د وزير محمد ګل خان مومند په لارښوونه خپرېده، (اتحاد مشرقي)، ننګرهار مجله، ننګرهار ورځپاڼه او جريده، زيتون مجله، لغمان جريده او په ختيځ کې په کونړ او ننګرهار کې د راډيويي او ټلويزيوني خپرونو تر پيله پورې ټول بهير له ګڼو ستونزو او يو څه برياليتوبونو ډک و.

په عمومي ډول دې بهير په ختيځ کې د جهادي تنظيمونو د واکمنۍ تر پايه پورې د ډېرو سختو اغزنو پړاوونو په وهلو ځان راورساوه. د طالبانو په واکمنۍ کې ژورنالستيکي هڅو چې تر ډېره حده په خپرنۍ برخه کې افاده کېده، بله بڼه خپله کړه، پر ټلويزيوني خپرونو بنديز، په مطبوعاتو کې د ژيروح انځورونو نه خپراوی او يو اړخيز مطبوعات د دې وخت د ژورنالستيکو فعاليتونو او خپرندويو وسايلو غټه ځانګړنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژورنالستیکي چارو د پوهانو په اند انځور یا تصویر د خبر د پراخوالي او پېښې د بیان یوه مهمه برخه ده، ان تر دې چې انځور د خبر روح ګڼي او بې انځوره خپرونې اصلاً بې روحه خپرونې بولي، نو که د طالبانو د واکمنۍ خپرونې څه په ختیځ کې دي او که په نور افغانستان کې، په دې معیار او محک وتلل شي، نو د دې وخت خپرونو ته به بې روحه خپرونې وویل شي، خو کله چې د طالبانو واکمني وپرځول شوه، نو په ټول افغانستان او همدارنګه په ختیځ کې مطبوعاتو، خپرونو او ټولو ژورنالستیکو فعالیتونو، نوی رنګ، نوې ساه، نوی قوت او نوی تحرک په برخه شول، بې شمېره ژورنالیستان او ګڼې خپرونې راوټوکېدلې او یو زیات شمېر ژورنالیستیکي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته شول او نور هم د منځته راتلو په حال کې دي، دا دوره په ختیزو ولایتونو کې د ژورنالستیکو هڅو یو غوره او بریمن پړاو ګڼل کېږي، خو دا دوره له خپلو ګڼو بریاوو سره، سره یو شمېر نیمګړتیاوې هم لري، چې بحث کول پرې په کار دي.

په مجموعي ډول په ختیځ کې ژورنالستیک فعالیتونه په همدې درې پړاوونو؛ تر طالبانو دمخه، د طالبانو له واکمنۍ او د طالبانو تر سقوط وروسته پېر کې مطالعه کېدی شي؛ د طالبانو د واکمنۍ او تر هغه دمخه مهال باندې دلته اوس ځکه زیاتې خبرې نه کوو، چې پخوا پرې هم زیاتې لیکنې شوي او دا پړاوونه اوس د تاریخ یوه برخه ده، خو غواړم تر طالبانو وروسته پړاو باندې لنډه رڼا واچوو:

## لومړی- په ختیځ کې خپرونې:

### الف- مجلې:

۱- مینه
۲- ډالۍ
۳- مشرق
۴- رڼا

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- سیلۍ
۶- کاروان
۷- پوهه
۸- زیتون
۹- غوښتنه
۱۰- خوځښت
۱۱- کونړ
۱۲- انځور
۱۳- الینګار
۱۴- څرک
۱۵- ننداره
۱۶- ننګرهار (سقوط)
۱۷- کمپیوټر او ټیکنالوجي

ب- جریدې:

۱- څپه
۲- ولس غږ
۳- سپوږمۍ
۴- ښاخې
۵- اوښکه
۶- تلوسه
۷- خلا
۸- شایق
۹- نن
۱۰- سپین غر
۱۱- ختیځ
۱۲- افغان یووالی
۱۳- د لایټ (The light)
۱۴- مهترلام
۱۵- کاوون
۱۶- لغمان
۱۷- ځوان
۱۸- ځوانانو غږ
۱۹- ننګرهار
۲۰- قلموال
۲۱- نورستان
۲۲- ژوند
۲۳- اواز (کونړ)

ج- راډیویي او ټلویزیوني خپرونې:

۱- ننګرهار راډیو
۲- شرق راډیو
۳- کونړ راډیو
۴- لغمان راډیو
۵- ننګرهار ټلویزیون
۶- افغان کېبل
۷- شایق کېبل

د- د بهرنیو خپرونو استازیتوب:

۱- بي بي سي راډیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- ازادي راډيو
۳- امریکا غږ راډيو
۴- ايران راډيو
۵- ماښام په خير افغانستان راډيو
۶- چين راډيو
۷- الجزيره ټلويزيون
۸- باختر اژانس
۹- IWPR اژانس
۱۰- د کليد ، پخلاينې، مرسل او نورو خپرونو استازيتوب.

په مجموعي ډول په ختيزو ولايتونو کې د خپرندويه وسيلو ټول شمېر تر دې دمه تر (۵۵) خپرونو اوړي او دا د افغانستان په تاريخ کې په دې سيمه کې يو بې ساری ريکارډ دی. په طباعتي خپرونو کې يوه د يادولو وړ خبره داده، چې دا ټولې خپرونې د بېلابېلو عواملو له امله پر خپل وخت نه خپرېږي او اکثره يې ټکنی، ټکنی خپرېږي، خو په راډيويي خپرونو کې څنډ ډېر کم ليدل کېږي، په ټوليزه توګه په ختيزو ولايتونو کې ژورناليستيک فعاليتونه پر دريو برخو وېشل کېدی او مطالعه کېدی شي:

## دولتي ژورنالستيکي فعاليتونه:

په ختيزو ولايتونو کې په مجموعي ډول ټولې پنځه دولتي خپرندويه وسيلې فعاليت لري. په لغمان کې يوه راډيويي خپرونه او يوه جريده، په کونړ کې يوه راډيويي خپرونه او يوه مجله، په ننګرهار کې يوه راډيويي، يوه ټلويزيوني خپرونه او يوه ورځپاڼه د دولت له خوا خپرېږي. دا خپرونې يو زيات شمېر تخنيکي ستونزې لري. د خپرېدو ساحه يې هم تنګه ده، ازاد فکر او ذوقي مطالب هم په پوره ډول نه شي خپرولای، نو ځکه يې د ليدونکو او اورېدونکو شمېر هم ډېر زيات نه دی. دولتي خپرونې اکثره وخت د اداري بيروکراسۍ او سياسي اختناق له امله وده نه شي کولای او دا عمليه او قاعده په ختيزو ولايتونو کې هم تکرار شوې ده، خو دې سره ننګرهار ورځپاڼه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان په ټولو ولايتي دولتي خپرونو کې د اوچت معيار او ښه صحافت لرونکې ده.

## ازاد ژورنالستيکي فعاليتونه:

ازاد ژورنالستيکي فعاليتونه اکثره ازادو، خپلواکو کلتوري ټولنو او اشخاصو له خوا ترسره کېږي، دا ډول فعاليتونه له مالي پلوه يا خپله د اشخاصو له خوا ترسره کېږي يا هم د ځينو خيريه موسسو او ملي پانګوالو له خوا تمويلېږي. دا ډول خپرونې وخت پر وخت د مالي پانګې له کمښت سره لاس و ګرېوان وي او په همدې وجه زياتره وخت له ځنډ او خنډ سره مخامخ وي.

په نادولتي خپرونو کې شرق راډيو يو ډېر غوره مثال دی، چې په ډېر کم وخت کې يې ډېر زيات اورېدونکي، مينه وال او لېوال پيدا کړل، شرق راډيو اوس د دولتي راډيو په پرتله څو ځله زيات اورېدونکي لري، دغه راز افغان کېبل او شايق کېبل ټلويزيوني خپرونو ليدونکي د دولتي ټلويزيون په انډول څو ځله زيات دي. په طباعتي خپرونو کې مينه مجله په ښه معيار چاپېږي او زيات لوستونکي لري، دغه راز ښاخې جريده، په طنزي برخه کې په ټول ختيځ او ان د افغانستان په کچه يوه ډېره غوره بېلګه ده، که چېرې د ښاخې صحافت ته زياته پاملرنه وشي، نو د همداسې مطالبو په خپراوي سره کولای شي د ټول افغانستان په کچه په طنزيه خپرونو کې ريکارډ ټينګ کړي، خو اوس فکر کوم د مالي تنګسيا له امله د صحافت له پلوه خواره او ډنګره برېښي. په ازادو خپرونو کې يوه بله نيمګړتيا داده، چې پر ځينو خپرونو د هغو د چلوونکو شخصي ذوق او سليقې تحميل له ورايه څرګند يږي، د دې خپرونو ځينې چلوونکي پر دې نه دي بريالي شوي، چې د خپل ذوق او فکر له دايرې څخه بهر شي. يو کم شمېر خپرونې کېدی شي يوازې د شهرت لپاره پيل شوې وي او ډېر ژور هدف او مرام ونه لري، له ژبني پلوه په ختيزو ولايتونو کې د اکثرو خپرونو يوه ښه بريا داده، چې په يوه ژبني او ليکني

(c) ketabton.com: The Digital Library

معیار خپرېږي او دا کار د وخت په تېرېدو د ملت جوړوني له بهیر سره مرسته کوي، قبیله یي ذهنیت او سیمه ییزه لېوالتیا له منځه وړي. په ازادو خپرونو کې نه یوازې ګڼ شمېر ژورنالیستان او لیکوال پر کار بوخت دي، خپلې تجربې پخوي او زیاتوي او ښه کدرونه ترې جوړېږي، بلکې یو زیات شمېر نوي ژورنالیستان او لیکوال هم روزي او په دې ډول په ټولنه کې د لیکوالو او ژورنالیستانو شمېر زیاتېږي. د خپرندویو وسیلو ترڅنګ ځینې فرهنګي ټولنو او اشخاصو هم د ځوانو لیکوالو او ژورنالیستانو په روزنه او پالنه کې برخه اخیستې، ښاغلي صدیق منصور انصاري، ښاغلي لعل پاچا ازمون، میډیوتیک، ایینې دفتر او د IWPR اژانس هم د لیکوالو او ژورنالستانو په روزنه او پالنه کې یاد وړ ونډه اخیستې ده.

بهرنۍ خپرندویه وسیلې:

د افغاني خپرونو ترڅنګ یو شمېر نورې بهرنۍ خپرونې چې د افغانانو لپاره د افغانستان په اړه خپرونې کوي، هم د ټول افغانستان په تېره بیا په ختیزو ولایتونو کې زیاتې مطرح دي. دا خپرونې د خپلو زیاتو مالي او تخنیکي امکاناتو په لرلو سره پر ازادو او دولتي راډیويي خپرونو دواړه غښتلي دي.

د پام وړ شمېر ژورنالیستان یا لیکوال په دې خپرونو کې بوخت دي، دې خپرونو د لیکوالو او ژورنالیستانو د اقتصادي ژوند د ښېرازۍ ترڅنګ د هغوی په روزنه، پالنه او د تجربو په زیاتونه کې کارنده رول لوبولی دی.

خبریالانو یې هم وخت پر وخت ددې سیمې د سیاسي، ټولنیزو، کلتوري او پوځي حالاتو په باب تازه راپورونه ورکړي دي. خلک اوس د افغانستان لپاره له بهرنیو راډیوګانو سره دومره روږدي شوي، چې هر تازه خبر له همغو راډیوګانو اوري، دولتي راډیوګانو نه د دې وس لري، چې تازه خبرونه په تازه ډول نشر کړي او نه هم دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

اورېدونکي، لنډه دا چې بهرنۍ راډيويي خپروني او د هغوی خبريالان ډېرې زياتې برياوې او لاسته راوړنې لري، خو د دې ګڼو برياوو ترڅنګ څه ناڅه نيمګړتياوې هم شته او که نه هر څه شفاف دي؟ او شپه تياره ده منې په شمار خبره عملي ده؟ فکر کوم بهرنۍ خپرونې او د هغوی سيمه ييز خبريالان هم يو لړ نيمګړتياوې لري، چې دلته به په لنډ ډول ورته اشاره وکړو:

۱- بهرنيو راډيوګانو يو شمېر کاري ليکوال، چې زياته کاري تومنه يې لرله، د زيات اقتصادي امتياز په ورکړې سره له خپل آر مسلک څخه لرې کړل، ليکوالي ترې پاتې شوه او اوس يوازې پر ژورناليستيکي ليکنو بوخت دي او د ماشين د يوې پرزې په شان کار کوي.

۲- کورنۍ خپرونې يې تر سيوري لاندې راوستې او د هغوی اغېز يې کم کړی.

۳- يو شمېر ليکوال او ژورناليستان د بهرنيو خپرونو له امکاناتو نه په ګټه اخيستنې خپلې شخصي کينې او عقدې راسپړي او د پېښو انعکاس، لکه څنګه چې دی هغسې نه ښيي.

۴- يو شمېر خبريالان پر دې نه دي بريالي شوي، چې له خپلې شخصي عقدې، کينې، ذوق او سليقې څخه راووځي او د ټولنې مثبتې خبرې او پېښې په مثبت او منفي کرکټرونه او پېښې په منفي ډول انعکاس کړي. د حق السکوت او د پېښې په باره کې افراط او تفريط د ځينو خبريالانو په رپوټونو کې ليدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- د یو شمېر خبریالانو په رپوټونو کې بلیکیشن یا غبرګون لیدل کېږي، د دوه بېلابېلو راډیوګانو له خبریالانو څخه پر یو وخت یو ډول رپوټ اورېدل شوی، چې د خبر الفاظ هم تر زیاته حده یو شان و او سرچینې یې هم هماغه محدود اشخاص، دا سې ښکاري چې خبریالان د پېښې صحنې ته نه دي تللي، یو خبر جوړ کړی او بل ته یې ورکړی، هغه د وخت د کمي او یا هم د ذهني کسالت له وجې په ټول خبر کې یوازې یو څو الفاظ بدل کړي دي.

۶- ځینې فریلانس خبریالان له سیمې او د پېښې له ځایه لرې رپوټونه برابروي، ځان ته تکلیف نه ورکوي، دا ډول خبریالان د خبر اصل حالت تر خپلې ځاني اقتصادي ګټې او فزیکي ارامتیا قربانوي او برسېرن رپوټونه برابروي او داسې یو لړ نورې نیمګړتیاوې، خو د نیمګړتیاوو په اړوند د بهرنیو خپرندویو وسیلو ګټې زیاتې دي او د هغو د کار کوونکو کار د ستاینې وړ دی.

اوس راځو د خپلو ټولو خبرو نچوړ ته!

په اوسني وخت کې په ختیځو ولایتونو کې خپرنی بهیر تر بل هر وخت ډېر ښه روان دی، که دا بهیر همداسې دوام ومومي، نو د خبریالانو او لیکوالو شمېر به زیات شي، خپرونې به هم زیاتې او غوښنې شي او د لیکوالو او ژورنالیستانو کاري تجربه به لاهم زیاته او پخه شي او دا ټول کارونه به پای کې په دې سیمې کې د یو غوړېدلي ژورنالیزم ورېښمین شال خپور کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کلتوري يون او د فرهنګي تجربو تبادله

دا ليکنه په ننګرهار، لغمان او کابل کې د ځوانو ليکوالو او فرهنګيانو په علمي غونډو او ورکشاپونو کې اورول شوې او وروسته بيا له کونړه خپرېدونکې غونچې مجلې د ۱۳۸٦ل کال په (۱) ګڼه کې خپره شوې ده.

## د فرهنګي تجربو د تبادلې اړتيا:

په افغانستان کې د يو شمېر لويو محروميتونو ترڅنګ يو هم فرهنګي محروميت او فرهنګي فقر دی، چې ټول افغانان په تېره بيا دهېواد اکثريت ځوروي او کړوي.

د فرهنګي فقر د له منځه وړلو لپاره د سياسي، اقتصادي، مذهبي او علمي لارو چارو ترڅنګ يوه لاره هم په خپله دفرهنګيانو او ليکوالو ځاني هڅې،دهغوی ګډ کار او د تجربو تبادله ده. د فرهنګي تجربو تبادله داسې يوه موضوع نه ده، چې له بهر څخه کټ مټ کاپي شي، بلکې فرهنګ او فرهنګي تجربه ديوه ولس د ټول ژوند دمادي او معنوي شتمنيو مجموعه ده. دا شتمني اکثره د يوه ولس د خپل ذهن او فکر زېږنده ده. البته هر ولس دخپل ژوندانه په اوږدو کې د فرهنګي شتمنيو دتبادلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبډاینې خپل تاریخ لري. دهمدغو تجربو او شتمنیو د تبادلې په نتیجه کې نړیوال کلتور رامنځته شوی او رامنځته کېږي.

اوس چې موږ دخپل فرهنګ د تاریخ په یوه حساسه مرحله کې یو، ملي فرهنګ او ملي هویت مو له یو لړ بهرنیو او کورنیو ګواښونو سره مخ دی، نو ددې ګواښونو دمخنیوي، رفعې او دفعې لپاره په کار ده، چې دهېواد ملتپال فرهنګیان دخپل ژوند ټولې فرهنګي تجربې یو بل سره شریکې کړي او د همدې تجربو په رڼا کې د خپل فرهنګ راتلونکې لید لوری او تګلوری وټاکي. دا لیکنه یا څرګندونې همدغو پوښتنو ته له سلګونو ځوابونو څخه یو ځواب او یو نوی پیل دی، چې که چېرې دا لړۍ وغځول شي او بډایه شي نو پوره باور دی چې ګټورې او مثبتې کلتوري پایلې به ولري. ددې لکچر په بهیر کې به ځینو هغو لویو موضوعاتو ته اشاره وکړو چې زموږ فرهنګي بهیر ورسره مخ دی او یا هم زموږ په کلتوري چاپېریال کې په یوه نه یو ډول مطرح کېږي؟

**۱ - څوک فرهنګي شخص یا فرهنګیال دی؟ او دفرهنګي شخصیت معیار څه دی؟:**

ترڅو پورې چې په یوه ټولنه کې د یوې موضوع یا شخصیت دتعریف او معیارونو په باب توافق موجود نه دی، ډېره سخته ده چې پر شخص توافق وشي، پر معیارونو توافق هم ساده خبره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده، دا هم د ټولنې په علمي پرمختګ او دخلکو د ذهني کچې په اوچتوالي پورې اړه لري، د استاد محمدصديق روهي په وينا: «په وروسته پاتې ټولنه کې د شخصيت معيار معلوم نه دی» نو ځکه په کې د ټولنې خدمتګار خلك وده نه شي کولای، د استاد الفت په نظر هم په وروسته پاتې ټولنه کې «تر خدمتګاره بادار ښه پېژندل کېږي» او ددې غټ علت همدا دی چې د ټولنې د ذهن دتفکيك قوه کمزورې ده او يا هم دعقده يي، سياسي، کلتوري، قومي او نورو ارزښتونو تلنه او اندازه سمه نه کېږي او يو تر بله قرباني کېږي، خو اوس موږ د معيارونو او تخصص په نړۍ کې ژوند کوو، ترڅو چې د يو چا، شخص او شيز لپاره معيار او تعريف مشخص نه کړو او پر هغو توافق ونه کړو، نو ډېره سخته ده چې موږ د فرهنګي انارشۍ او د فرهنګي شخصيت دترور مخنيوی وکړو، دلته کېدی شي څو هغو معيارونو ته اشاره وکړو چې يو فرهنګي شخصيت له نافرهنګي هغو څخه بېلوي، چې دا څو ځانګړتياوې او معيارونه دادي:

## د فرهنګي شخصيت معيارونه:

الف- رسمي زده کړې

ب- نارسمي زده کړې

ج- کړی کار

د- دعقيده يي ارزښتونو درناوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ح- دملي او وطني ارزښتونو پالنه
هـ- دکلتوري ارزښتونو درناوی او پالنه
او ځينې نور....

په دې ټولو معيارونو کې غوره معيار چې حساب پرې کېږي هغه کړی کار دی. که يو شخص نور ټول معيارونه پوره کړي، خو چې هېڅ فرهنګي کار ونه کړي، بيا هم فرهنګي شخصيت نه شي بلل کېدی. د يو چا فرهنګي شخصيت په حقيقت کې د هغه د فرهنګي کار محصول دی، که فرهنګي کار نه وي فرهنګي شخصيت عملاً نه شته. نور معيارونه البته د فرهنګي شخصيت رغنده توکو نه دي، خو دکار په شان محوري ځکه نه دي که هر يو ترې حذف کړو، فرهنګي شخصيت به څه ناڅه دا غمن شي، خو بې هويته به نه شي. خو که (کار) نه وي دفرهنګي شخصيت هويت له منځه ځي.

## ۲- فرهنګي ټولنې ولې رامنځته کېږي؟:

فرهنګي ټولنې د فرهنګي شخصيتونو يوه مجموعه ده. هغه کار چې په ځاني ډول يې سرته رسېدنه ناشونې وي، په ډله ييز ډول ترسره کېږي، دفرهنګي ټولنو لوی هدفونه دهمغې ټولنې د کلتوري کچې اوچتوالی، فرهنګي پرمختګ او ښېرازي ده. دفرهنګي ټولنو دجوړېدو فکر په پيل کې ديوه فرهنګي د ذهن

(c) ketabton.com: The Digital Library

زېږنده وي، وروسته همځنګو ملګرو فرهنګیانو او بیا نورو فرهنګیانو ته غځېږي. پر ټولنه واکمن سیاسي اختناق یا ولسواکي، قومي، فرهنګي، سیمه ییز او شخصي رقابتونه هم د فرهنګي ټولنو دجوړېدو سبب کېږي. هر څومره چې په یوه ټولنه کې فرهنګي ټولنې یا کلتوري مرکزونه زیات وي، همغومره دفرهنګ او استعدادونو د غوړېدو لاره اوارېږي، دمشروع او نامشروع شهرت غریزه هم دفرهنګي ټولنو په جوړېدو کې خپل رول لري. د اقتصادي امکاناتو ترلاسه کول یې هم یو علت دی خو زموږ په ټولنه کې دا علت لږ کمزوری دی.

### ۳- فرهنګي ټولنې ولې له منځه ځي.:

اکثره هغه عوامل چې د فرهنګي ټولنو د رامنځته کېدو سبب کېږي، که له هغو څخه انحراف وشي او یا هم هدفونه په ښه ډول تعقیب نه شي، نو دفرهنګي ټولنو د له منځه تللو لپاره لاره اوارېږي.

دلته به یې ځینو غټو ټکو ته اشاره وکړو:

الف- که سیاسي اختناق تر حده زیات شي.

ب- قانوني ستونزې راولاړې شي.

ج- له ټولنې څخه نامشروع اقتصادي ګټه پورته شي.

د- ټولنه د شخصي رقابتونو ډګر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هـ- په ټولنه کې یو شخص تر نورو زیات په مشروع او نامشروع ډول مطرح شي.

و- ټولنه له تخنیکي او مالي پلوه کمزورې شي.

ز- د ټولنې مکاني چاپېریال بدل شي.

ح- په ټولنه کې د فرهنګي فعالیت په انډول سیاسي فعالیت زیات شي.

ط- فرهنګي ټولنې له ځینو مذهبي او نورو ارزښتونو سره په ټکر کې شي او ځینې نور مسایل.

## رسنۍ ولې رامنځته کېږي او ولې له منځه ځي؟:

د ډله ییزو رسنیو د رامنځته کېدو عوامل او علتونه هم د فرهنګي ټولنو هغو ته نږدې دي، خو څه ناڅه توپیرونه هم سره لري. رسنۍ کېدی شي د یوه شخص، اشخاصو او یا هم یوه مشخص دولتي او نادولتي ارګان له خوا رامنځته شي او د چلولو اصلي عنصر یې همغه اشخاص وي، په رسنیو کې د آمریت او مادونیت، مرکزیت ، دسپلین اوانتفاع مسایل ډېر مطرح دي، خو په فرهنګي ټولنو کې د انتفاع پر ځای د تاوان احتمال هم شته، البته په افغاني ټولنه کې رسنۍ په تېره بیا چاپي رسنۍ هم نږدې په همدې کټه ګورۍ کې راځي، خو ټولې رسنۍ بیا دا شان نه دي. دلته به د رسنیو په ډولونو او دهغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکنترول پر محورونو هم لنډه رڼا واچوو. اوس موږ په خپله ټولنه او په تېره بیا په نړۍ کې له څو ډول رسنیو سره سروکار لرو:

الف- اورېدنۍ: لکه راډیویي خپروني (کورنۍ او بهرنۍ) چې شمېر يې لسګونو ته رسېږي.

ب- لیدنۍ: تلویزیونونه (کورني او بهرني).....

دلته له هغو بهرنیو رسنیو څخه هدف دی چې د افغانستان لپاره خپروني لري.

ج- چاپي: کورنۍ او بهرنۍ مهالنۍ او نا مهالنۍ چاپي خپروني.

د- کتنۍ (بریښنایيزې): چې د انټرنیټ او نورو مخابراتي شبکو له لارې کتل کېږي.

ددې ټولو رسنیو دکنترول سرچینې او محورونه په دې ډول دي:

الف- دولتونه (حکومتونه) (کورني او بهرني)

ب- تنظیمونه یا ګوندونه

ج- انجیو ګانې

د- فرهنګي ټولنې

هـ- اشخاص

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محتوا له پلوه دا ټولې خپرونې مختلف مسایل خپروي، چې ځینې یې په دې ډول دي:

الف- دبهرنیو حکومتونو پالیسي

ب- د افغانستان دحکومت پالیسي

ج- هېواد پال، ملتپال او اسلامپال مسایل:

د- انجیویز اهداف

هـ- ژبنی، قومي، سیمه اوسیاسي اختلافات.

و- مختلف علمي، ادبي، ټولنیز، تفریحي، هنري، ذوقي او نور مسایل.

دخپرونو په دې ډولونو کې ځینې رسنۍ دتعرض، ځینې د دفاع او ځینې د نصیحت او منځګړیتوب په حالت کې دي. دا چې دا رسنۍ ولې له منځه ځي؟ دلته یې څو لوی علتونه په ګوته کوو:

الف- ځینې هدفمنې خپرونې دهدف په بری یا نابري سره پایته رسېږي.

ب- دمالي امکاناتو دبندېدو له امله له فعالیته غورځي.

د- دشخصي غریزو دخړوب او د شهرت دغریزې پوره کېدو له امله له منځه ځي.

هـ- دخپرونو په کاري ټیمونو کې د اختلاف له امله له فعالیته غورځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د- د مسوول چلوونکو دسترپا ، دکار او دندې د چاپېريال دبدلون له کبله سقوطېږي.
او ځينې نور عوامل.

### فرهنګي شخصيتونه ولې پر سياسي شخصيتونو بدلېږي؟:

هره ټولنه چې وروسته پاتې وي، يا هم وروسته پاتې ساتل شوې وې، هلته دژوند په هر اړخ کې يو تن د څو تنو کار کوي او يا هم يو تن د څو تنو لپاره کار کوي. تخصص او مهارتونه کم وي او تيت وپرك کارونه ډېر. له يو ټاکلي مسلك څخه د ژوند دخړوب امکان هم کم وي، نو ځکه خو په هېڅ برخه کې دقيق او سالم پرمختګ نه رامنځته کېږي. افغاني ټولنه کې هم دفرهنګي ښوونځي زده کوونکي او ښوونکيددې جوګه نه دي چې دمسلك او فرهنګي کار له لارې خپل ژوند خړوب کړي، نو دوی هم اړ دي چې فرهنګي کارونه يوازې دخپل ځاني، وطني او ملي درد او احساس له مخې ترسره کړي او دخپل فزيکي ژوند دخړوب لپاره دويم يا درېيم ډول کار ته لاس واچوي. په دې ډول کارونو کې يو هم سياسي فعاليت او کار دی، چې زموږ د افغاني ټولنې يو شمېر ليکوال پر همدې برخليك اخته کېږي، يانې خپلې ټولنيزې هڅې له فرهنګي کاروزيارہ پيلوي او پر سياسي مبارزو يې پای ته رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې کار ځینې لوی علتونه کېدی شي، دلته په ګوته کړو:

الف- په افغاني ټولنه کې د فرهنګي او سیاسي مبارزې دامتراج یو اوږد تاریخ او دود موجود دی. امیر کروړ، روښان، خوشال خان، میرویس نیکه، احمدشاه بابا، وزیر محمدګل خان مومند او ځینې نور یې غوره بېلګې دي، چې هم فرهنګیان او لیکوال وو او هم سیاستوال، نو دا دود تر اوسه هم روان دی.

ب- لیکوال او فرهنګیان دژور سیاسي او اجتماعي شعور او حساس ذهن څښتنان دي، دوی له سیاسي پېښو څخه زیات متاثره کېږي، نو ځکه خو یو شمېر لیکوالو خپل قلم هم دسیاسي افکارو د انعکاس لپاره استخدام کړی دی.

ج- دسیاسي او فرهنګي کار د اقتصادي امتیاز اندول هم سره برابر نه دی، د دواړو په وزن کې د پښ (اهنګر) او زرګر دګوزارونو مثال پروت دی. د استاد خادم په وینا په یوه ټولنه کې عالم د یوه ګروندګر مثال لري، چې تخم کري، لیکوال او شاعر دیوه پالونکي چې هغه ته اوبه ورکوي او سیاستوال بیا هغه څوك دی چې ددې کروندې وږی یا ثمر اخلي. د یو پښتون سیاستوال شېرعلي پاچا په قول، «سیاستوال په ټولنه کې دیوه قومندان حیثیت لري، چې امر کوي او امتیاز اخلي» دسیاست ددغه امتیاز له کبله د یو شمېر لیکوالو سیاسي لوری درنېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د- ځینې لیکوال غواړي سیاست د فرهنګي کار د بري لپاره د یوې وسیلې په توګه وکاروي، دا ډله په دې نظر دي تر هغه چې سیاسي واك و ځواك ورسره نه وي، خپل فرهنګ او ژبې ته په اساسي ډول کار نه شي کولای، نو سیاست چې د قدرت اساسي کیلي ده، باید لومړی دا کیلي ترلاسه شي. دوی په دې نظر دي چې فرهنګ د قدرت په وسیله او اخلاق د عبادت په وسیله تقویه کېدلای شي.

## فرهنګي شخصیتونه ولې مسخه کېږي؟:

په یوه ټولنه کې چې د شخصیت پر تعریف توافق موجود نه وي، یوه شخصیت په تېره بیا یو فرهنګي شخصیت زیات متاثره کېدلای شي. زموږ په ټولنه کې د فرهنګي شخصیت مسخه کېدنې عوامل زیات دي، غټ یې هغه دي چې خپله دلیکوالو او فرهنګیانو له خوا یو د بل پر ضد کارول کېږي، موږ به دلته د یوه فرهنګي شخصیت دزیانمنولو او ځینو هغو عواملو ته اشاره وکړو چې اوس اوس زموږ په ټولنه کې موجود دي:

۱- یوه عامه او دودیزه قاعده خو همدا ده چې دلته مړي پالل کېږي او ژوندي غندل کېږي (( یانې په مړو کې بد او په ژوندیو کې ښه نه شته.)) که څه هم په وروستۍ لسیزه کې د ژوندیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنګیانو ستاینه او نمانځنه هم پیل شوې، خو بیاهم دژوند یو او مړو ترمنځ انډول برابر نه دی.

۲- دلیکوالو ترمنځ نامشروع رقابت ددې سبب کېږي، چې یو د بل شخصیت تخریب او کمزوری کړي او دفرهنګي کار پر ځای خپله انرژي شخصي رقابت ته واړوي. دیوه فرهنګي له خوا د بل فرهنګي دتخریب بهیر څو پړاوونه لري:

الف- په زړه او ذهن کې یو د بل پرضد دحسادت دعقدې ټوکېدل.

ب- یو د بل پرضد دخصوصي او شفاهي تبلیغ پیل.

ج- یو د بل پرضد دعلني تبلیغ پیل.

ح- یو د بل پرضد په خپل او بدل نامه د لیکنو او چاپي او نورو خپرونو پیل.

د- له رسمي او نارسمي لارو چارو یو د بل د ودې مخنیوی.

د لیکوالو ترمنځ دا بحران ددې سبب کېږي، چې زیاته انرژي یې په دې کشمکش کې مصرف شي او فرهنګي کار ته یې لږه انرژي پاتې شي، دا بحران هغسې یوه خپلمنځي جګړه ده، چې کله کله ورسره د یوه هېواد وګړي او یا هم ځینې سیاسي تنظیمونه لاس و ګرېوان شي او په نتیجه کې دهغه هېواد د ویجاړۍ او دهمغو ګوندونو دړنګېدو او پیکه کېدو سبب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلیکوالو ترمنځ دا ډول بحران هم په پای کې د لیکوالو دخپل شخصیت دسپکاوي سبب ګرځي او د یوې ساري ناروغۍ په څېر تر هغو کشر نسل ته هم انتقالېږي.

**د فرهنګي ټولنو او فرهنګي شخصیتونو د خوندیتوب لارې:**

څرنګه چې په هره ټولنه کې هر ډول ناروغي وي، نو د هر مرض لپاره یو علاج هم وي، که هر څوك پر خپل وخت او پرخپل ځای د ناروغۍ له تشخیص سره سمه نسخه وکاروي، نو کېدی شي دناروغۍ مخنیوی وشي او مخکې تر دې چې ټوله ټولنه پرې ککړه شي، ناروغي وقایه شي، طبیعي خبره ده چې دفرهنګي ناروغیو او ستونزو متخصصین خپله فرهنګیان دي، نو دوی باید دعلاج غوره لارې چارې په ګوته کړي. دلته به په لنډیز سره ځینو لارو چارو ته ګوته ونیسو:

**۱- د فرهنګي ټولنو دخوندیتوب او بریاوو لپاره:**

الف- که دیوې ټولنې مسولین او غړي غواړي، ټولنه یې ښه وځلېږي او ښه پرمختګ وکړي، باید ټول مالي حسابونه یې شفاف وي. د اختلافاتو یو غټ عامل هم مالي مسایل دي، چې د ټولنې دغړو ترمنځ ناسم پوهاوی او کله کله ((سوء تبسم)) پیداکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب- په پښتنو کې پر مشرتابه د توافق بحران له همغه پيله پر خپل ځای پاتې دی، ددې لپاره چې دمشرتابه بحران ټوله ټولنه له ګواښ سره مخامخوي، نو ښه به دا وي چې د فرهنګي ټولنو مشرتابه دوراني بڼه خپله کړي او هغه اشخاص چې دمشرتابه لېوال وي، هغوی ته به هم په نورمال ډول نوبت ورسېږي او دمشرتوب لېوالتيا به دعقدې پر بحران بدله نه شي.

ج- هغه څوك چې په ټولنه کې ډېر زيات فعاليت لري او يا زيات باسواده وي، کوښښ کوي، چې ټولنه کې زيات کارونه ترسره کړي، خو هڅه دې وکړي، چې ځان ډېر مشهور او مطرح نه کړي، ځکه دده دامطرح کېدنه دټولنې دنورو تنبلو او کم استعداده غړو دکينې سبب ګرځي او دا کينه وروسته پر کشمکش بدلېږي او ټولنه ړنګېږي.

د- ټولنه بايد ددې ظرفيت پيدا کړي، چې دخپل ژوند د بقا لپاره دوراني مالي پانګه ترلاسه کړي او دنزولي حرکت پرځای لوړ حرکت وکړي.

هـ- د ټولنې د اثارو په چاپ کې دې د ټولنې دغړو او نورو اشخاصو او د اثارو دمحتوا په باب دتوازن او تناسب دواړه اصلونه په پام کې ونيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

و- ټولنه دې له اقتصادي او فکري پلوه د یو یا څو تنو اشخاصو له انحصاره ووځي، ځکه که انحصار زیات او قوي وي، دهغو په حذف سره د ټولنې د ړنګېدو خطر زیاتېږي.

ز- فرهنګي ټولنې یوه له بلې سره دهمکارۍ او ګډ تفاهم له لارې هم کولای شي یو شمېر ګواښونه او خطرونه له منځه یوسي.

**د فرهنګي شخصیتونو دخوندیتوب او برياوو څو لارې چارې:**

د فرهنګي شخصیتونو خوندیتوب لارې چارې هم زیاتې دي، چې ځینې دولتي ادارو او فرهنګي ټولنو پورې اړه لري، خو موږ دلته یوازې هغو لارو چارو ته اشاره کوو، چې خپله دلیکوالو په لاس کې دي او د یوې دقیقې ارزونې له مخې کولای شي، هغه په سمه توګه وکاروي:

الف- کله چې یو لیکوال پوه شو، بل لیکوال ورسره دمشروع او نامشروع رقابت له امله کینه کوي، دی دې ورسره د ورته عمل پرځای ښه وکړي، دا کار ددې سبب ګرځي چې دهغه کینه دویم پړاو ته داخله نه شي.

ب- که یو لیکوال دلیکنې ترمرحلې دمخه دشفاهي تبلیغ په پړاو کې وي، نو مقابل لیکوال دې هڅه وکړي خپل عکس العمل دیوې ګیلې په توګه ورته مطرح کړي او هېڅکله دې ورته عمل نه ترسره کوي، که ګیلې هم کار ونه کړ ځان دې بېخي غلی کړي، دهغه کینه دشفاهي تبلیغ په ترسره کولو سره سړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج- که یو لیکوال د بل پر وړاندې خپرنې لیکنې تبلیغ پیل کړ، نو بیا دې هم ځان غلی کړي، ځواب دې نه ورکوي، ځکه که ځواب یې ورکړ هغه داسې تصور کوي، چې زما لیکنه اغېزناکه وه، نو که همداسې بې تفاوته پاتې شي، دلیکنې ارزښت له منځه ځي او د وخت په تېرېدو سره هغه لیکوال هم له خپلې لیکنې پښېمانه کېږي او دا پر معترض لیکوال د هغه بل لیکوال یو اخلاقي پور پاتې کېږي. انسان په تېره بیا لیکوال په تحت الشعور کې پاک وي خو شعور یې هغه دمشروع او نامشروع ځاني ګټو خوندیتوب ته هڅوي، نو کله چې بیا لیکوال خپلې تحت الشعور ته مراجعه کوي، هلته بیا خپله تېروتنه مني.

د- ځینې واړه یا هم مبتدي لیکوال غواړي، خپل ځان او یا هم خپله خپرونه ژر او تر وخت دمخه شهرت ته ورسوي، نو دا ډول لیکوال هم غواړي پر یوه پوخ او مطرح لیکوالو داسې پرځای او بې ځایه اغېزمنې نیوکې وکړي، چې هغه غبرګون ته راکاږي او د لوستونکیو پاملرنه راواړوي. نو ددې لیکوالو پر وړاندې هم باید هېڅ ډول غبرګون ونه ښودل شي. ځکه دغبرګون په حالت کې ډېره ګټه معترضین کوي، خو که غبرګون ونه ښودل شي نو دا ډول لیکوال او خپرونه یې په اسانۍ شهرت ته نه رسېږي او د وخت په تېرېدو سره له خپل کاره پښېمانېږي.

هـ- د ټولو خپرندیو وسایلو مسولین باید هېڅکله هم هغه لیکنه او وینا خپره نه کړي، چې د شخصي عقدې پر بنسټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکل شوې وي. ځکه که عکس العمل څرګند شي، نو هغه کې به هم پرځواب سربېره څه ناڅه د بل شخصيت تـه لاس غځول کېږي، څو ځله چې دا عمل تکرار شو، خبره تر انتقاده عملي انتقام ته وځي.

و- ليکوال بايد يوازې هغو ډول ليکنو ته ځواب ورکړي، چې دعلمي، سياسي او ملي مسايلو پـه برخـه کې د ابهام د تشريح غوښتونکي وي، که دې ډول انتقادونو ته چوپـه خولـه پاتې شي نو ددې مانا ورکوي، چې ليکوال د دلايلو پـه وسله سمبال نه دی.

ز- ليکوال دې بل سره د سالم رقابت پر ځای د خپلې سويې د اوچتولو لپاره هلې ځلې وکړي. دليکوالی لپاره ټول اوسني وسايل، لکه کور، کتابتون، کمپيوټر او انټرنيټ دې برابر کړي يو ساعت د خپـل ځان لپاره کار کـول د بـل پـر ضد تر لسو ساعتونو کاره غوره او مثمر دی.


ح- ليکوال بايد د زغم او تحمل کلتور لومړی پر خپل ځان او بيا پـه ټولنه کې عام او دود کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ((پسرلي)) د فکر پسرلی

> دا ليکنه د استاد محمدصديق پسرلي پـه هغـه نمانځغونـډه کـې اوروله شوې ، چې دده په وياړ د غزني ولايت د فرهنګيانو له خوا په غزنـي ښـار کې جوړه شوې وه. داليکنه وروسته د ښکلا مجلې د ۱۳۸٦ل کـال پـه (۵) ګڼه کې هم چاپ شوې ده.

شعر پوهانو او ادبپوهانو د شعر په اړه تراوسه پورې ډېرې څېړنې او شننې کړې دي، خو تراوسه پورې لاد شعر پر يوه نړه، کره، پوره او بشپړ تعريف بريالي شوي نه دي.



خو هر کله چې د شعر پـه اړه خبـرې کېـږي، د شـعر جولـه يـا شکل او محتوا تر هر څه دمخه د بحـث موضـوع ګرځـي. د شـعر محتـوا د شـعر پـر انـد او فکـر راڅرخي او د شعر جوله بيا د شعر د کليمـو پـر سکښـت او رغښـت، وزن او اهنګ او د هغو پر مناسب اوډون راګرځي، چې دا ټول بيا د شعر د ښکلا رغنده عناصر بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينې شعر پوهان د شعر شکلي او ښکلاييز اړخ ته زيات ارزښت ورکوي او وايي: ((د شعر غايه اصلاً ښکلا ده))، خو ځينې نور بيا فکر يا مانا د ښکلا يوه برخه ګڼي او وايي، هغه شعر چې ښکلا ولري او مانا ونه لري، داسې وي لکه سړی چې سرېتوب ونه لري.
شعر پوهان همدارنګه د شعر شعريت د فکر او ښکلا امتزاج ګڼي او د يوه شعر لپاره يې داسې حتمي او لازم بولي، لکه د يوه سړي لپاره چې سرېتوب ضروري او لازم دی. خو په شعر کې پر هر فکر باندې ډېر ټينګار ځينې ستونزې او خطرونه هم لري. پر شعر باندې د فکر ډېر درووند بار شعر له شعريت څخه شعاريت ته راکاږي، دا کار د شعر ښکلا ته زيان رسوي او له شعره چې ښکلا لاړه شي، نو بيا هغه، ذوق او شوق نه شي خړوبولای، عواطف نه شي مستولای او ولولې نه شي راپارولای. که په شعر کې د ښکلا عنصر کمزوری او له منځه لاړ شي، نو شعر پر عادي نظم او خبرو بدلېږي او د هنر له دايرې څخه بهر کېږي.
له همدې امله شعر پوهان نسبي ښه شعر هغه ګڼي چې د فکر او ښکلا موازي حرکت په کې تضمين شوی وي. موږ چې کله د پښتو کلاسيکې او بيا اوسنۍ شاعرۍ ته نظر کوو، نو پر يو شمېر ډېرو مطرحو شاعرانو، د شعر پوهانو دا وروستی فورمول د تطبيق وړ ګرځي. په اوسني شعري بهير کې يوه مطرحه څېره استاد محمد صديق پسرلی دی، چې همدې فورمول ته ور داخلېږي. دده شاعري د الفت صيب د وينا په مصداق ((د لوړ خيال او ژور فکر)) امتزاج دی. له لوړو خيالونو او ژورو فکرونو د راټوکېدلې شاعرۍ درک

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداسې يوه ژور سوچ او يوه لوړ تخيل ته اړتيا لري. دا ډول شاعران ډې مشهور او نوميالي نه وي، خو شاعري او هنر يې ډېر متداوم او مقاوم وي. مينه وال او لېوال يې هم زيات نه وي، يوازې د فكر او ذوق خاوندان ترې خوند اخيستلای شي.

كله چې موږ پسرلی صاحب او د هغه شاعري مطالعه كوو، نو ګورو چې پسرلی د خپل ژور هنر په انډول په ټولنه كې زيات مشهور نه دی او كله چې د هغه شاعري شنو، نو له دې واقعيت سره مخامخېږو، چې په يو ځل لوستلو د هغه د شاعرۍ د مانا تل ته نه شو ورکښته کېدلای او که څوک غواړي د هغه د شاعرۍ پر رمزونو پوه شي، نو د هغه د هر شعر څو ځله لوستنې ته اړتيا پېښېږي. له دې څخه دا نتيجه اخلو، چې د پسرلي شاعري نه د عوامو لپاره ده او نه د خواصو لپاره، بلكې په خواصو كې هم د خواصو لپاره ده. په دې مانا چې دده شاعري د عوامو، ځينو روښاندو او د ټولنې د نورو پاړكو تر ذهني كچې اوچته ده، يوازې شاعران كولای شي دده له كلامه خوند واخلي او پند ترلاسه كړي، په شاعرانو كې هم بيا يوازې ((شاعران)).

ستا مختـه مې اوښكه چې لـه ستركو بهېدلې وه
خپلـه بېوسـي مـې پـه لېمـو كـې رغړېـدلې وه
كـومې يـوې راشـې تـه بركـت ووايـم
زمـا دانـه خـو وړانـدې تـر كرلـو سـوځېدلې وه
خپلـو پښـو تـه سـل ځلـه رامـات يـې تجربـو كـړ سـر
هـر څـو كـه نقشـه راتـه د ښـه ژونـد ځړېـدلې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وې زه به سیوری شم او پښو ته به دې ولوېږم
ځوانه غرځنې وه له خپل سیوري رمېدلې وه
ما کړل ربېل چې اوس به لاس د یارې راکړي وخت
پوه نه وم چې دا کیسه انجام ته رسېدلې وه.

دا او دې ته ورته غزلې داسې نه دي، چې په یو ځلې او انې ډول یې ټول خوند او مانا د لوستونکي او اورېدونکي ذهن ته ور ولېږدي، هر څوک چې د پسرلي صاحب شاعري لولي، نو په خپل ذهني لابراتوار کې به یې تجزیه کوي او تحلیلوي او بیا به ترې د مانا کوچ راوباسي.

خپله شاعر د ژورې مطالعې او ژور نظر خاوند دی، هغه چې هر څه لیکلي په درد یې لیکلي او په فکر یې لیکلي، هغه د فکري بلوغ پر داسې یوې پوړۍ ولاړ دی، چې نور یې د تزلزل او ښویېدو خطر نه ګواښوي او خپله چې هر څه ټولنې ته وړاندې کوي، تر ډېر اوږده تحلیل او د پرله پسې مطالعې او تجربې د نچوړ او غورچاڼ په نتیجه کې یې وړاندې کوي.

یو غربي لیکوال فرانسیس بیکن شاعران پر دریو کټګوریو وېشي:

۱- هغه ډله چې هېڅ ډول مطالعه نه کوي او هر څه چې وړاندې کوي، هغه یې د خپلې ګېډې او خپل فکر محصول وي، دا ډول شاعران د غنې مثال لري، چې له خپلې خولې تارونه باسي او له بهر څخه هېڅ هم نه اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- هغه شاعران چې د مېږيو خاصيت لري، ټول عمر غله دانه راټولوي او بېرته هېڅ هم نه ورکوي، دا کټګوري شاعران هم د نورو په فکر او تجربو شخوند وهي او وخت تېروي.
۳- هغه شاعران دي چې لکه د شاتو د مچيو په شان پر ګلونو ګرځي، شيره راټولوي او تر ډېر زيات زحمت او کړاو وروسته يې پر شاتو بدلوي او بيا يې لوستونکو ته وړاندې کوي.
څوک يې مني او که نه؟ خو زما په نظر پسرلی صاحب د همدغې درېيمې کټګورۍ په سر کې ځای لري، خو زه په کې دا زياتونه هم کوم، چې د پسرلي د ذهن شات بيا په شاتو کې د ښېرې اوپلوسې شات دي، چې زحمت يې هم زيات دی او قيمت يې هم لوړ، يوازې هغه څوک د دې شاتو پر قيمت پوهېږي چې د ذهن مچۍ يې د دې ونو او بوټو پر ګلانو خپل وزرونه غوړولي شي.
په کيسه ييزو اثارو کې کرکټرونه د کيسې د بشپړاوي يو مهم عنصر ګڼل کېږي او دا خبره هم معموله ده چې په خپله ليکوال چې د کرکټرونو پنځوونکی دی، خپله د کرکټرونو تر شا ولاړ دی او ډېر ځله خو داسې هم کېږي، چې اصلي کرکټر خپله ليکوال وي او دا عملي کرکټر د هغه عکس يا ممثل وي. د شکسپير د يو شمېر ډېرو برياليو ډرامو يو راز دا ګڼي، چې د دې ډرامو اصلي کرکټر خپله ليکوال ياني شکسپير دی، هېڅ ممکنه نه ده، هغه پټ درد او روحي حالت چې په خپله پر ليکوال نه وي تېر شوی، هغه دې د يوه بل کرکټر په وجود کې څرګند او تمثيل کړي، دغسې په شعر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم کرکټر او کرکټرونه شته، خو د شعر اساسي او مرکزي کرکټر په خپله شاعر دی.

کله چې مونږ د پسرلي صاحب شاعري د فکر له پلوه څېړو، نو هلته مونږ ته خپله پسرلی صاحب سترګو ته درېږي، ماضي یې څه وه؟ حال یې څه دی؟، ټولنیز، افاقي او سیاسي شخصیت یې څنګه و او څنګه دی؟ مونږ چې خپله اوسنۍ شاعري په تېره له ۱۳۵۷-۱۳۸۵ پورې څېړو، نو له فکري پلوه درې کټګورۍ شاعران یا فکري کرکټرونه مو تر سترګو کېږي:

۱- هغه ډله شاعران یا ناظمان دي، چې پر منکسره فکري لیکه تللي، په دې مانا چې فکري بلوغ ته نه دي وررسېدلي، پر شعر یا نظم لیکلو یې پیل کړی و، دې ډلې اشخاصو داسې فکري لوړې ژورې ولیدلې، چې تر پایه پر دې بریالي نه شول، چې ځانته خپله لاره غوره کړي. په هر پړاو کې چې دې شاعرانو کوم شعرونه خپاره کړي وو، په بل سیاسي یا فکري پړاو کې هغه چاته د ښودنې نه وو، په دې کې داسې شاعران هم شته چې د خپل ځان او خپل تېر فکر پر ضد یې هم په اصطلاح شعرونه ولیکل.

۲- هغه ډله شاعران چې پر منحني فکري لیکله تللي، دې ډلو شاعرانو هم ډېرې فکري تېروتنې او ښویېدنې کړې، خو دې حد ته لانه دي رسېدلي، چې د خپل ځان او فکر پر ضد هم لیکنه وکړي.

۳- درېیمه کټګوري هغه شاعران دي، چې شعري او فکري بلوغ یې پر یو وخت پیل شوی، دوی یو مستقیم فکري خط تعقیب کړی او له خپل هنر سره یې فکر هم خلکو ته وړاندې کړی دی، دوی په

(c) ketabton.com: The Digital Library

هنر کې فکري ښوېېدنې، تېروتنې او جاروتنې نه دي کړې او نه يې د خپل ځان پر ضد نظمونه يا شعرونه ليکلي دي. پسرلی صاحب په همدې وروستۍ کټګورۍ کې راځي، کـه مـوږ د پسـرلي صـاحب لومړنۍ څلوريزه وګورو چې وايي:

لالـه ښـکاره شـو پـه يـوه داغ بانـدې
مــا پــټ ســاتلی تــر پــردو لانــدې
نســيمه راشــه زړګــی مــې واکــړه
چـې کـړم داغونـه خلکـو تـه وړانـدې

دا څلوريزه نن څه څه باندې پنځه لسيزې دمخه ليکل شوې، خو که د ۱۳۷۷ ل کال غزل هم ولولو، نو بيا به يې هم په فکري جوهر کې اختلاف ونه ګورو.

بېګاه يې غلی ناست ومه تر څنګ يې والوتم
دا څـومره بــې مقصـده لکـه رنـګ يــې والــوتم
کتــه مـــې ورتــه لاره، لکـــه خـــوب د مســـافر
ناځاپــه د بنګــړو پــه يـــوه شـــرنګ يـــې والـــوتم.

که د پسرلي صاحب له شعرونو څخه نېټې او د هغه نوم لرې شي، نو د ډېرو بـه پـرې زمـوږ د يـو شمېر کلاسيکو شاعرانو د شـاعرۍ تنـده هـم ماتـه شـي، زمـا پـه فکـر پسـرلی صـاحب د خپـل عصـر کلاسـيک دی او دا ډېـره سـخته ده چـې هـر شـاعر د خپـل عصـر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلاسیک شي. د کلاسیک یوه مانا داده چې نور پرې د زمان او مکان د توپانونو زور نه رسېږي او مرګ یې وژلای نه شي.

کله چې موږ د پسرلي غزلونه او څلوریزې یانې رباعیات لولو، نو د کاظم خان شیدا او یا هم د خوشال بابا د غزلو او رباعیاتو په تله یې تللای شو. د پسرلي د افکارو ډېره برخه همدې غزلو او رباعیاتو رانغاړلې ده. دلته یې یوازې څو څلوریزو ته اشاره کوم:

لکه مانا چې رڼوي ستوري
په تارونېږي د سترګو توري
هر ځای کې کېږي تر سترګو، سترګو
احساسوم دې په هر هر لوري.

✸✸✸

چې ورته ګورم له شرمه سره شي
د حسن ګل وي د زړه ټوټه شي
شرم و حیا وي جوهر د حسن
مڼه چې سره شي هاله خوږه شي.

✸✸✸

نه وایم عشقه چې ژوند اسان کړه
ارزو مې ډېره دیدن دې ګران کړه
چې د زغم کاڼي په کې اوبه شي
سوی زړګی مې اتشفشان کړه.

پښتو څلوریزې یا رباعیات او همدارنګه غزل هغه شعري فورمونه دي، چې د یوه مفکر او اندیال شاعر د فکر د بیان لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر مناسب دي او پسرلي صاحب لکه د خوشال بابا په څېر له دې شعري فورمونو څخه ښه او پرځای ګټه پورته کړې ده. په علمي سیمینارونو کې لیکنې ډېرې او وخت کم وي، له همدې کبله اوږدې لیکنې د چا نه خوښېږي، اوږدې لیکنې په کتابونو کې بدې نه ښکاري، خو دا ټکی هم باید قید کړم، چې لنډې لیکنې که هرڅومره په دقت او ځیرتیا ولیکل شي، د پسرلي صاحب د شاعرۍ د یوې خوا رنګ او خوند هم نه شي راټولولای، په پای کې زه په لنډیز سره د پسرلي د شاعرۍ په باب ددغو څو ټکو یادونه کوم:

۱- د پسرلي صاحب شاعري یوه فکري شاعري ده.

۲- له ښکلا ډکه ده، یانې فکر او ښکلا په کې غاړه غړۍ دي او په موازي ډول حرکت کوي.

۳- مقاومه ده (د وخت توپانونه یې له منځه وړلای نه شي.)

۴- متداومه ده (ډېر عمر به دوام وکړي او څومره چې د ټولنې ذهني کچه اوچتېږي هغومره به یې د شاعرۍ مینه وال زیاتېږي.)

۵- د پسرلي صاحب شاعري موسمي نه ده، تخلص یې موسمي دی، خو شاعري یې موسمي نه ده، یانې هېڅ ډول سیاسي موسمونه یې خوند او رنګ نه شي پیکه کولای.

۶- د پسرلي شاعري مکاني نه ده، یانې په یوې مشخصې جغرافیایي سیمې پورې تړلې نه ده.

۷- د پسرلي شاعري د عوامو لپاره نه ده، دده شاعري د خواصو او په خواصو کې هم د خاصو اشخاصو لپاره ده، هر کله چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنه کې د دې خاصو خلکو شمېر زیاتېږي، د پسرلي صاحب د شاعرۍ مینوال او لېوال هم زیاتېږي.

۸- د پسرلي شاعري د اوس وخت لپاره نه ده، د راتلونکو لسیزو، راتلونکو نسلونو او راتلونکو پېړیو لپاره ده او قدر به یې پر همغو خلکو ډېر زیات وي، هغه د خوشال بابا خبره:

**د خوشال قدر که اوس په هېچا نه شته**
**پس له مرګه به یې یاد کا ډېر عالم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د يوې ((ژبخورې)) ژبې يرغل
# او د پښتو او دري ژبو برخليک

دا ليکنه تر ليکلو وروسته په ځولۍ مجله او په ځينو پښتو وېبپاڼو کې خپره شوې ده.

د نړۍ يو شمېر ژبپوهان انګليسي يا انګرېزي ژبې ته (ژبخوره) ژبه وايي. په دې مانا چې د نړۍ هرې سيمې او ټولنې ته، چې دا ژبه رسېدلې؛ نو محلي او يا سيمه ييزې ژبې يې بې اغېزې کړې، له کاره يې غورځولي او له دفتري دريځ او ارزښته يې لرې کړې دي.

د انګرېزي ژبې جادو په دې کې ده، چې له کوم ملموس فزيکي او نورو فشارونو پرته خپل ارزښت او قيمت په ټولنه کې خوندي کوي او خلک يې مني او هضموي يې.

يو شمېر پيداګوژستان يا ښوونپوهان په دې نظر دي، چې بې فشاره، نامستقيمه او نارسمي زده کړه تر رسمي او مستقيمې زده کړې ډېره موثره ده او زده کوونکي يې په اسانۍ سره منلای او هضمولای شي، دغسې، سياستپوهان هم په دې نظر دي، چې تر مستقيم استعمار (ښکېلاک) نامستقيم ښکېلاک په اسانۍ سره ولسونه ښکېلولای شي.

د مستقيم ښکېلاک پر وړاندې د غبرګون لپاره عوامل او دلايل ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژر څرګند ېږي او ولسونه د هغوی په مټ عکس العمل یا غبرګون ښیي؛ خو د نامستقیم ښکېلاك د رد او غبرګون لپاره موجه دلایل، د ابهام په تیارو کې پټ وي او عام ولس، چې د ښکېلاك پر وړاندې د غبرګون اساسي فزیکي سرچینه ده، په اسانۍ سره دا دلایل درك کولای نه شي؛ نو په دې ډول نامستقیم ښکېلاك ډېر دوام کوي.

د سیاسي ښکېلاك تر څنګ کلتوري یا ژبني ښکېلاکونه هم شته، چې ژبني ښکېلاکونه بیا پخپل وار د دین یا مذهب، سیاسي زورواکۍ، علم او تمدن او دغه راز د اقتصاد په مټ رامنځته کېږي. په دې مانا، چې د یوې ژبې د بقا، ځلا، پاینښت او پرمختګ لپاره دا څو ملاتړه ډېر ضروري دي:

**الف ـ دین یا مذهب:** ژبه باید مذهبي ارزښت او ملاتړ ولري، یانې د مذهب او دین زده کړه باید د هماغه ولس په ژبه وي.

**ب ـ سیاسي یا دولتي ملاتړ:** ژبه باید د سیاست او دولت ژبه وي، یانې سیاسي چارواکي په هماغه ژبه خبرې وکړي او دفتر و دېوان په همغه ژبه وي.

**ج ـ اقتصادي ملاتړ:** ژبه باید د ګټې ژبه وي، په دې مانا، چې څوك ددې ژبې ویونکي دي، د هغوی اقتصادي ګټې خوندي وساتلای شي او څوك چې دا ژبه زده کوي د هغو ګټې لاورزیاتې کړي.

**د ـ علمي ملاتړ:** ددې ژبې ویونکي باید خپلې ټولې علمي تندې خړوبې کړي او څوك چې دا ژبه زده کوي د هغه ذهني او

(c) ketabton.com: The Digital Library

علمي کچه نوره هم اوچته کړي. البته یو بل ډول اساسي ملاتړ هم شته، چې هغه ولسي ملاتړ دی، چې د واك و ځواك اساسي سرچينه ده، چې دوی کولای شي خپله ژبه خونديوساتي؛ خو بيا به هم د علمي، اقتصادي، سياسي او دفتري اړتياوو د لرې کولو لپاره اړ کېږي، چې نورې اړتيا خړوبې ژبې هم زده کړي. دا ډول ژبې چې تر ډېره حده د ولس له ملاتړه برخمنې وي او نور ملاتړونه يې کمزورې يا سست وي، يوازې ددې جوگه دي، چې د ولس په ملاتړ ځان وساتي، په همدې علت ځان ساتې (محافظه کارې) ژبې بلل کېږي.

پښتو ژبه هم يوه ځانساتې يا محافظه کاره ژبه بلل کېږي، چې تر ډېره حده د ولس په ملاتړ ژوندۍ ده او نور ملاتړونه يې لاتر دې دمه ډېر غښتلي نه دي.

د پښتو ژبې د بقا او مقامت يو بل غټ عنصر دا هم دی، چې پښتو نه يوازې د يوې ژبې نوم دی؛ بلکې د پښتون ولس يو ټولنيز قانون هم دی، تر څو چې ولس ژوندی وي؛ نو مجبور دی، چې د خپل ټولنيز قانون له لارې خپلې ستونزې حل کړي؛ نو ځکه خو د قوم تر پايښته د قانون او واك پايښت اټکلېږي.

د پښتو ژبې د بقا بل علت دادی، چې خپله د "پښتو" ريښه له (پښت يا پښتون) څخه اخيستل شوې. هغه ژبې، چې د نوم په ريښه او محتوی کې يې د قوم ريښه او محتوی پرته وي، د هغوی ژوند د قوم له ژوندانه سره موازي او مساوي دی او هغه ژبې، چې د علمي، کولتوري، سياسي او اقتصادي ارزښتونو په نتيجه کې رامنځته شوي او له يوه ځايه بل ته لېږدېدلي، وده او پرمختيا يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې د همدغو ارزښتونو په کمزورۍ او له منځه تلو سره، لـه منځـه ځي.
څو ژبې به د بېلګې په توګه وړاندې کړو: عربي ژبه تر شا يې عرب ملت ولاړ دی، ترکي ژبه تر شا يې ترک ملت ولاړ دی، روسي ژبه تر شا يې روس ملت ولاړ دی او پښتو ژبه تر شا يې پښتون ولس ولاړ دی. دلته د ژبې او قوم د نومونو تر منځ پر مانيز تړاو سربېره رواني تړاو، ارزښت او ماهيت هم پروت دی، دا قومونه هېڅکله هم دا نه شي زغملای، چې دوی دې ژوندي وي او ژبې دې يې ومري.
اوس بېرته د انګرېزي ژبې پر چټک پرمخيون خبرې کوو:
انګليسي او يا هم انګرېزي ژبه د (جرمانتيک) ژبو له کورنۍ څخه ده، په (۱۷) ميلادي پېړۍ کې يې د سياسي، اقتصادي او علمي ملاتړ له امله چټك پرمختګ پيل شو او د نړۍ ګټو سيمو ته يې لاره وکړه، د انګليسي ژبې د چټک پرمختګ بهير اوس افغانستان ته هم را رسېدلی، له تېرو څلورو کلونو راهيسې چې هره کورنۍ او بهرنۍ موسسه ګوري؛ نو د تقرر لومړی شرط يې پر انګليسي ژبه او کمپيوټر پوهېدل دي. له دولتي موسسو پرته اوس دا شرط يا اړ مهمو دولتي پوستونو ته هم غځېدلی، دولتي چارواکي استدلال کوي، چې د افغانستان دولت پر بهرنيو مرستو ډېره لګوي؛ نو بايده دي داسې يو څوك پر مهمو دولتي څوکيو وګومارل شي، چې پر انګليسي ژبه پوه وي، له بهرنيو سرچينو سره اړيکي ټينګ کړي، مرستې راماتې کړي او د پوهاوي جوګه شي.
په ولس کې هم د انګليسي ژبې مينه وال او لېوال ډېر زيات دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

(څوك په انګليسي ژبه پيسې ګټي) او (څوك پر انګليسي ژبه پيسې ګټي). د افغانستان په ښارونو کې تر درملتونو وروسته د انګليسي ژبې د کورسو شمېر تر بل هر څه زيات دی. د انګليسي ژبې دا چټکه وده او پراختيا به په نږدې څو کلونو کې (که حالات همداسې روان وي) د افغانستان د دولت د دفتري چارو زياتره رګونه ونيسي او خلکو ته به هم تر يوه حده د ګټې او علم ورونه ببرته شي؛ خو اوس راځو دې ته، چې دا ژبه به د کومې ژبې ځای ونيسي، کومه به کمزورې کړي او له کومې يوې سره به مرستندويه شي؟ دا ډېره مهمه پوښتنه ده، چې دقيق اټکل او ارزونه غواړي.

زما په اند په افغانستان کې به وړې ژبې چې هسې هم د لويو ژبو (پښتو) او (دري) تر اغېز لاندې دي، نور زيان هم وګالي؛ ځکه ددې ژبوويونکي به د خپلو ځاني ګټو لپاره هم هڅه وکړي، له نړيوالو سره د ارتباط په هيله انګليسي ژبه زده کړي او د خپلې سيمه ييزې ژبې د ودې لپاره به ډېره هڅه ونه کړي.

دويم هره علمي او سياسي ژبه چې يو هېواد ته ورځي او د دفتري ژبې ماهيت او ارزښت راخپلوي، تر ټولو لومړی ګوزار يې پر همغې ژبې دی، چې دا وخت پر حکومت او دفتر حاکمه ده. د حکومت او دفتر د خپلولو لپاره به ددې دوو ژبو تر منځ سيالي روانه وي او ميدان به هغه ژبه ګټي، چې تر شا يې لوی سياسي، اقتصادي، علمي او تخنيکي قوت پروت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د دولت دفترونو ته، چې اوس په کوم سرعت انګلیسي ژبه را روانه ده، دا په حقیقت کې له دفتر څخه د دري ژبې د حاکمیت د ختمېدو زیګنال دی.

دري ژبه په هېڅ وجه له علمي، اقتصادي، سیاسي او تخنیکي پلوه اوسمهال د انګرېزي ژبې مقابله نه شي کولای؛ نو ځکه به یې په اسانۍ سره ځای انګلیسي ژبه ونیسي.

ددې خبرې یادون هم ضروري دی، چې دري ژبه په افغانستان کې ډېر قومي ملاتړ نه لري، په دې مانا، چې دري ژبه د دربار او دفتر ژبه وه او تر یوه حده د مذهب دویمه ژبه. له قومي پلوه یوازې تاجکان او په دویمه درجه کې هزاره ګان ددې ژبې ملاتړي دي. تر اوسه پورې دري ژبه د دربار له لارې د ګټې ژبه هم وه؛ نو ځکه یو شمېر نورو افغانانو هم یا د ضرورت او یا هم د مجبوریت له مخې زده کوله، هغه ژبې چې په هېواد کې د دربار له لارې حاکمې وې، هغه د درباري امتیاز د له منځه تلو سره سمې کمزورې کېږي او نورې ژبې یې ځای نیسي. غوره بېلګې یې په روسیه کې د (فرانسوي) ژبې او د هند د مغولو په دربار کې د (دري) یا (فارسي) ژبې د درباري ارزښت ختمېدل وو، کله چې دا ژبپالي دربارونه له منځه لاړل، له هغو سیمو څخه ددغو ژبو د نفوذ ټغر هم راټول شو او ځای یې قومي ژبو ونیو.

د انګلیسي ژبې د مخ پر زیاتېدونکي ګواښ تر څنګ د افغانستان د اساسي قانون د شپاړسمې مادې حکم هم د دري ژبې حاکمیت ته غټ ګواښ پېښ کړ. ددې مادې د حکم له مخې محلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او سیمه ییزې ژبې د پراختیا او پرمختیا حق لري، دلته خو نورې محلي ژبې دومره د بحث وړ نه دي؛ خو ازبکي او ترکمني ژبې چې اوس دواړه د (ترکي ژبې) په نومونو یادېږي. د دري ژبې حاکمیت ته ستر ګواښ دی.

د افغانستان د دري ژبې د حاکمیت غټه سیمه همدا د هېواد د شمال ولایتونه وو، البته د دفتر له لارې د هېواد په جنوب لویدیز او نورو سیمو کې هم دود ده؛ خو شمال یې یوه امتیازي سیمه ده. اوس هلته ازبکي (ترکي) ژبه چې د ترکیې د لوی تمدن، اقتصادي او سیاسي قوت ملاتړ هم لري، په ټوکېدو ده او دا له احتماله لرې نه ده، چې د هېواد په شمال کې د دري ژبې ټولواکه واکمني له سخت زوال سره مخامخ کړي. له قومي پلوه د هېواد په شمال کې هېڅ قوم هم بشپړ اکثریت نه لري؛ بلکې ازبک، پښتانه، تاجك او هزاره ګان ټول یو نسبي توازن لري؛ نو کله چې د هېواد په شمال کې ازبکي ژبه وده وکړي، پښتانه هم د خپلې ژبې د ودې لپاره کار وکړي دا کار به د دري ژبې د واکمنۍ ډګر راتنګ کړي او نوي سیالان به یې ورځ پر ورځ غښتلي شي.

د حکومت دننه چې ورو ورو انګلیسي ژبه پر دفتر حاکمه وي؛ نو د دري ژبې درباري ارزښت به له منځه لاړ شي او هغه په سوونو څه، چې په زرونو مامورینو ته، چې پر دري ژبې د حاکمیت له لارې یې د حکومت ډېر خواږه ترخولې کول او د درباري مهارتونو او لفاظۍ له لارې یې زیات شمېر امتیازات راخپلول، ددې میرزایانو او میرزا قلمانو ځای به داسې نوي ځوان کدرونه ونیسي، چې هم پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګرېزي ژبه او هم پر کمپيوټر حاکم وي او هم يې عصري علوم زده وي.

د انګرېزي ژبې په زده کړه کې پښتانه تر هر چا ځکه زيات دمخه دي، چې د انګرېزي ژبې غږيز يا فونولوژيك جوړښت د پښتو له غږيز جوړښت سره يو شان دی، د جنس او حالت توپير او پر ساکن توري د کلمې پيل په دواړو ژبو کې شته، په داسې حال کې چې د دري ژبې ګرامري سکښت له دې سره توپير لري؛ نو له ځينو استثناتو پرته د ژبې د زده کړې د عملي نتيجو او اصولو له مخې هغه ژبې چې مشترکات سره ولري، د هغو ژبو ويونکي دا ژبې ښې زده کولای شي؛ نو په دې ډول ويلای شو په هر انګليسي ژبې ټولګي کې چې پښتانه او دري ژبي سره ناست وي د تلفظ (وينګ) او ګرامر له مخې پښتنو ته د انګليسي ژبې زده کړه اسانه ده. دا خبره هم واقعيت دی، د هرې ژبې يا هر قوم کدرونه چې په حکومت يا دربار کې کار کوي، طبعاً خپل قومي او ژبني تمايلات لري او د خپل ځان په ګټه به کار کوي. کله چې بيا په دفتر يا حکومت کې د دويمې يا قومي ژبې مساله راولاړېږي؛ نو طبعاً د پښتو امتياز او استحقاق زياتېږي. د ملګرو ملتو يوه اداره (يونيسکو) چې د کلتوري ميراثونو او فرهنګي شتمنيو د ساتنې او پالنې لپاره کار کوي، په هر هېواد کې يوه ژبه د هغه هېواد د ملي ژبې په توګه په رسميت پېژني، دا سازمان په ايران کې فارسي ژبه او په افغانستان کې پښتو ژبه د ملي ژبې په توګه په رسميت پېژني؛ نو د انګليسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبې په راتګ سره به یوه د دربار د ژبې او بله د ملت د ملي ژبې مساله زیاته راولاړه شي.

دا یو څرګند حقیقت دی، کېدی شي د پښتو ژبې مخالفینو ته دا یو تریخ حقیقت وي؛ خو حقیقت دی. ملي ژبه د ملت د اکثریت ژبې ته ویل کېږي، نه درباري یا دفتري ژبې ته، په ځینو هېوادونو کې ملي ژبې هم درباري او دفتري بڼه لري؛ خو په ځینو کې بیا دفتري ژبې ځانته اوملي بېلې وي.

د افغانستان د اوسني اساسي قانون د ۱۲ او ۲۰ مادې د محتویاتو له مخې پښتو هم د دولت رسمي ژبه او هم د ملت ملي ژبه ده؛ خو د یو لړ نامشروعو جریانونو د پرله پسې حاکمیت له امله پښتو ژبې خپل ټول دفتري استحقاق نه دی تر لاسه کړی؛ خو ملي ژبه ځکه وه، چې د تاریخ په اوږدو کې یې همدې ملت ساتنه او پالنه کړې ده.

اوس دلته بېرته خپل بحث رانغاړم او وایم، چې که د انګرېزي ژبې د پرمختګ سرعت همداسې روان وي؛ نو ددې احتمال شته، چې د دري ژبې درباري ارزښت، قوت او حاکمیت له منځه یوسي او کله چې ددې ژبې درباري قوت ختم شي؛ نو ددې احتمال شته، چې اوسنی شان او شوکت یې هم له زوال سره مخ شي او انګلیسي ژبه، چې په نړۍ کې یې تر دې دمه ډېرې ژبې خوړلي او له درباره شړلي، د افغانستان دري ژبه به هم د کمزورۍ له سخت ګواښ سره مخامخ کړي. د پښتو ژبې پر وړاندې بیا بل ډول اټکل کېدی شي او هغه دا چې پښتو ژبه خو هسې هم په دربار کې درنه برخه نه لري؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو که انګلیسي دربار ته را هم شي، له پښتو څخه څه کمېدی نه شي، پښتو به د ملي ژبې او د وخت په تېرېدو سره د انګلیسي تر څنګ د دولت د ژبې په حیث خپل شتوالی خوندي وساتي او هلته به لا ښه څرګنده شي، چې پښتو د افغان ولس ملي ژبه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغانستان او د ایران کلتوري یرغل

دا لیکنه د هیلې مجلې د ۱۳۸۲ل کاله په (۳) ګڼه کې خپره شوې ده.

افغانسان دتاریخ په اوږدو کې د بېلابېلو هېوادونو او مختلفو امپراتوریو تر سیاسي، پوځي او کلتوري یرغل لاندې راغلی دی، خو افغانانو په ډېره مېړانه د پردیو سیاسي او پوځي یرغلونه په شا تمبولي، خو د کلتوري یرغلونو اغېزې لکه د سیاسي او پوځي هغو په شان ژر له منځه نه دي تللي.

د کلتوري یرغلونو په جمله کې د عربو، ایران، پاکستان او اوس اوس د لویدیزې نړۍ د رنګارنګ کلتورونو د ځپاو یادونه کولای شو، د عربو کلتوري تاثیرات د دیني او مذهبي ارزښتونو د دودونې، د پاکستان کلتوري اغېزې، د هغو د سیاسي او اقتصادي پرمختګونو او د لویدیزې نړۍ کلتوري اغېزې په افغانستان کې دهغو د اوسنیو سیاسي لېوالتیاوو او تخنیکي برلاسۍ له امله رامنځته شوي دي.

خو د ایران کلتوري تاثیرات د هغو له مذهبي، سیاسي او ژبنۍ پراختیا غوښتنې سیاست سره تړاو او په افغانستان کې له پېړیو پېړیو راهیسې دوام لري، ایراني لیکوالو او د وخت سیاستوالو هېڅکله هم په افغانستان کې خپله ژبنۍ لېوالتیا پټه کړې نه ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایرانیان افغانستان خپله ژبنۍ او فرهنګي حوزه ګڼي، د فرهنګي او مذهبي اغېز د ساتلو تر سیورې لاندې غواړي د اوږدې مودې لپاره خپلې سیاسي ګټې هم خوندي او ترلاسه کړي.

له همدې امله له پېړیو راهیسې د ایران د هر وخت حکومتونو هڅه کړې په افغانستان کې د سیاسي لاسوهنې تر څنګ فرهنګي لاسوهنه وکړي، له همدې کبله خو په افغانستان کې د کلتوري چارو د ادارو اکثره مسوولین فارسي ژبي او یا هم داسې پښتانه تاکل شوي وو، چې د دري ژبې تر زیات تاثیر لاندې وو.

کله چې د هند په نیمه وچه او د منځنۍ اسیا په بېلابېلو سیمو کې د فارسي ژبې پر وړاندې نورې قومي ژبې راوټوکېدې، نو د فارسي ژبې لمن له دې سیمې څخه په ټولېدو شوه او یوازې د فارس (ایران) له لوري د راټوکېدو په حال کې شوه، په منځنۍ اسیا کې روسي ژبې د فارسي ژبې ځای ونیو او د هند په نیمه وچه کې لومړی نورو قومي ژبو او بیا وروسته انګلیسي ژبې د فارسي درباري حاکمیت ختم کړ.

په افغانستان کې د هوتکیانو، احمدشا بابا، امیر شېرعلي خان، امیر حبیب الله خان او غازي امان الله خان ژبنیو ریفورمونو (سمونونو) د فارسي ژبې پرله پسې درباري حاکمیت له سخت ګواښ سره مخامخ کړ.

په سقاوي اړو دوړ کې ټول ریفورمونه په شا وتمبول شول، خو د اعلیحضرت محمد نادر خان پر وخت پښتو ژبې ته یو ځل بیا اساسي پام راواوښت، خو دا سمونونه هم د محمد نادر خان د وژنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له امله ټکني شول، خو د وزیر محمدګل مومند په شان د هغه د یو شمېر ملګرو او ملتپالو افغانانو په هڅو ژبني ریفورمونه ژوندي وساتل شول، د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د واکمنۍ پر مهال په اساسي قانون کې دپښتو ژبې دملي حق تثبیت، د افغانستان دملي هویت د روښانتیا په لاره کې یو مهم ګام و، تر هغه وروسته د ولسواکۍ په لسیزه کې هم پښتو ژبې تر یوه بریده وده وکړه.

د ۱۳۵۷ل کال تر سیاسي بدلون وروسته هم پښتو ژبې وده وکړه او ان د درباري ژبې حیثیت یې خپل کړ، تر دې وخت دمخه ټوله موده کې د ایران حکومت دپښتو ژبې د پرمختګ بهیر ته خواشینی و او هڅه یې کوله چې دا بهیر له ځنډ او خنډ سره مخامخ کړي. پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد تر پوځي یرغل وروسته په افغانستان کې د پښتو ژبې د ودې بهیر ټکنی شو او ژبنی پرمختګ د سیاسي حالاتو تر اغېز لاندې راغی، دپښتو ژبې د ودې ګړندی بهیر سست شو او فارسي ژبې ته زیاته پاملرنه راواړول شوه، پښتو د دولت په رسمي خپرونو کې د دویمې او ژباړیزې ژبې پوړۍ ته راټیټه شوه، د شوروي اتحاد پښتون ضد او د مشخصو لړکیو د پیاوړتیا پالیسي ددې سبب شوه، چې پښتو ژبه او پښتني فرهنګ په زیاتو برخو کې وځپل شي، د شوروي اتحاد حکومت که څه هم له سیاسي پلوه د ایران دمذهبي حکومت مخالف و، خو په ژبنۍ او فرهنګي برخه کې دشوروي اتحاد افغان ضد سیاست عملاً د ایران له هیلو سره مطابق و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په داسې حال کې چې په کابل کې د روس پلوه حکومت پر فرهنګي او خپرنيزو مرکزونو او وسايلو واکمنه فضا د ايران د دوديزې فرهنګي او ژبنۍ پراختيا غوښتنې له هيلو سره سمه وه، خو ايران بيا هم پر دې بسنه ونه کړه، په ايران کې مېشت اته ګوني شيعه ګوندونه چې له مذهبي او ژبني پلوه يې د دوی ايډيالوژي تعقيبوله، په خپلو ټولو امکاناتو ښه سمبال کړل او ډېر يې ونازول، ايران مېشتي شيعه مذهبي ډلې دومره زياتې د ايران تر اغېزې لاندې راغلې چې ان د ايران مذهبي او سياسي مشران يې خپل مشران ګڼل او دهغوی پر مشرۍ يې وياړ کاوه. دې ډلو که څه هم جهاد او مذهب خپل شعار ټاکلی و، خو په واقعيت کې قومي او ژبنی عنصر په کې تر بل هر څيز ډېر قوي و. دې جهادي ډلو په کابل کې نورو واکمنو الحادي شيعه ډلو سره په پټه او ښکاره داسې اړيکي درلودل چې په ايران پالنه او ژبپالنه کې يې بيا ګډې هڅې په ښه ډول څرګندېدلې، د ډاکټر نجيب الله د واکمنۍ پر مهال به د ايران د اسلامي انقلاب او د ايران نورې مذهبي او سياسي ورځې دهمدې شيعه واکمنو ډلو په مرسته په داسې شاندارو مراسمو سره لمانځل کېدلې چې ځينو به دا فکر کاوه چې دا د افغانستان مرکز (کابل) نه دی، بلکې د ايران کوم لوی ښار دی.

د خميني او د ايران د نورو مشرانو عکسونه به پر موټرو ځړېدلي وو او په لاريونو کې به (د الله اکبر- خميني رهبر) غږونه اورېدل کېدل، د ايران حکومت له ژبني او مذهبي پلوه پر ايران مېشتو اته ګونو شيعه ګوندونو سربېره پاکستان مېشتي اسلامي جميعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوند سره هم ښه اړیکي درلودل، له جمیعت تنظیم سره د ایران د خوږو اړیکو درلودلو علت مرکزي ټکی د هغوی ژبنۍ او فرهنګي لېوالتیا وه، د استاد رباني اسلامي جمیعت تنظیم د خپل سیاسي ژوندانه په کار او فعالیت کې خپل قومي او ژبني تمایلات تر هر چا زیات ښه ډاګیز کړي وو او د اسلام او جهاد تر چتر لاندې یې دا بله ستراتیژي هم پرمخوړله.

د ایران او اسلامي جمیعت ترمنځ ژبني اړیکي دومره ټینګ وو چې یو وخت دجمیعت تنظیم مشر پروفیسور برهان الدین رباني له ایران سره د ګډې فرهنګي همکارۍ او ستراتیژۍ تړون هم لاسلیک کړ، ایران او افغانستان یې دواړه هم فرهنګه او یو ژبي هېوادونه وګڼل.

خو پر کابل باندې د استاد برهان الدین رباني د نیمواکې واکمنۍ پرمهال په کابل حکومت کې د ایران پلوه اصلي ډلې یاني وحدت ګوند له غوښتني سره سم دمناسبې ونډې دنشتوالي له امله د استاد رباني له اداري سره له سیاسي پلوه د ایران دحکومت اړیکي اکثره وخت ترینګلي وو، دغه راز دا مهال کابل دتنظیمي جګړو ډګر و او د ایران د فرهنګي فعالیت لپاره چندان زمینه برابره نه وه، خو بیا هم د کابل یو شمېر خپرونو، ایراني ښه خپلوله، همدا مهال یو شمېر فرهنګي او علمي مرکزونو ته له ایران څخه د مرستې په نامه په لسګونو زره عنوانه کتابونه راغلل او په علمي مرکزونو او د هغو په کتابتونونو کې ځای پر ځای شول، خو کله چې د طالبانو دتحریک د زور له امله د استاد رباني دتنظیم واک له

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل او د هېواد له بېلابېلو سيمو څخه ټول او يوازې د هېواد په يو نيم ګوټ کې راټول شو، نو د ايران حکومت بيا د استاد رباني د سمبوليک او تمثيلي حکومت هر ډول سياسي، اقتصادي، پوځي او تبليغاتي ملاتړ ته راودانګل.

دا وخت د ايران اکثرو راډيويي، تلويزيوني او چاپي خپرونو د استاد رباني د تمثيلي حکومت تائيدونه او د طالبانو د نظام غندنه خپله اصلي موخه کړه، ان تر دې بريده چې د استاد رباني د شړل شوي حکومت ټول نشرات يې يو سلنې ته هم نه رسېدل، ايراني خپرونو دا وخت دومره سپين سترګي کوله چې د نړۍ هېڅ هېواد به په بل هېواد کې کوم خپل خوښي تنظيم يا حکومت لپاره نه وي کړې، کله چې د امريکايي ځواکونو په زور د طالبانو نظام ړنګ شو، نو ايران ته ډېره ښه زمينه په لاس ورغله، چې هم له طالبانو څخه خپل سياسي غچ واخلي اوهم په افغانستان کې خپل ژبنی او فرهنګي پلان عملي کړي.

پاکستان دا وخت په افغانستان کې د سياسي لوبې يو بايلونکی هېواد ګڼل کېده، سعودي عربستان هم له سياسي ډګر څخه لرې شوی و، د امريکا متحده ايالتونو خپلو سياسي اهدافو ته ترجيح ورکوله، د منځنۍ اسيا هېوادونه اکثره له ايران سره موافق وو او که ځينې بيا موافق نه و، نو مخالف هم نه وو.

امريکائيانو هم نه غوښتل د ايران د فرهنګي نفوذ د پراختيا د مخنيوي لپاره خپله انرژي مصرف کړي، دا ټول عوامل د دې سبب

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول چې ایران تـه طلایـي چـانس پـه ګوتـو ورشـي او هغـوی د خپلـې اوږدې او لنډې مودې فرهنګي پلانونه عملي کړي.

د ایـران د کلتـوري اغېـز لپـاره بـل طلایـي چـانس دا و چـې اکثـره کلتوري وزارتونه لکـه د بهرنیـو چـارو، لـوړو زده کـړو او اطلاعـاتو کلتور وزارتونه د ایران پلوو اشخاصو په لاسو کې پرېوتـل، پـه کابـل کـې د ایـران سـفارت فـوراً د افغـانسـتـان د اطلاعـاتو کلتـور وزارت سره په لسګونو بېلابېل قراردادونه لاسلیک کړل، چې هر یو یې پـه افغانسـتان کـې د ایرانـي کلتـور او ژبـې پراختیـا تـه لاره اوارولـه. پـه ایران سـفارت کـې څـو ځلـه داسـې خاصـې غونډې او مېلمسـتیاوې برابـرې شـوې، چـې پـه هغـه کـې هغـو ډول اشخاصـو تـه بلنـه ورکـړل شوې وه چې د ایرانپالنې روحیه یې لرله.

تر دې وروسته په ښکاره ډول د افغانسـتان پر ملي ترمینـالوژۍ د ایرانـي ترمینـالوژۍ یرغـل وشـو او ګـڼ شـمېر فـارسـي ژبـي افغـانـي خپرونې ترې ډکې شوې، ان تر دې چې دولتـي او رسـمي خپرونـې د ایرانۍ ترمینالوژۍ د تبلیغ او ترویج اصلي وسیلې وګرځېـدې، یـو شـمېر خپرونـې د ایرانـي خپرونـو پـه شـکل، سلیقه او ډیـزاین چـاپ شـوې، علمـي او کلتـوري مرکزونـو تـه هـم د ایرانپـالنې او ایرانـي ترمینالوژۍ لمن خوره شوه، ایران د افغانسـتان پـر علمـي مرکزونـو دومـره واکمــن شــو، چــې ان د لــوړو زده کــړو لپــاره د کــانکور د ازموینې پاڼې هـم پـه ایـران کـې چـاپ شوې او د کتنې لپـاره بیـا هـم ایران ته واستول شوې، دا د افغانستان د لـوړو زده کـړو د تـاریخ پـه ټول بهیر کې تر ټولو بدرنګه پېښه ده، چې افغـانسـتـان ورسره په ټېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې هېڅکله هم نه و مخامخ شوی، د افغانستان په پوهنتونونو کې ایراني ترمینالوژۍ دود شوه.

دې کار سره تر ټولو لومړی په خپله د لوړو زده کړو او اطلاعاتو او کلتـور وزارت اول لاس چـارواکو مرسـته کولـه او ورتـه لېـوال وو. ایرانـي ترمینـالوژي نـه یـوازې پـه علمـي مرکزونـو کـې خوره شـوه، بلکـې پـوځي مرکزونـو تـه یـې هـم لاره وکـړه، یـو شـمېر ایـران پلـوو اشخاصـو هڅـه پیـل کـړه هغـه عسـکري اصـطلاحات چـې د امیـر شېرعلي خان له وخته بیا تر دې دمه په پښتو وو، له منځه یوسي او پرځـای یــې ایرانــي عســکري اصــطلاحات دود کــړي، ایرانــي اصطلاحاتو په چاپي خپرونو کې د ځای نیـونې ترڅنګ ټلویزیـوني او راډیویي خپرونو ته هم لاره وکړه، کابـل ټلویزیـون او ځینـې نورو ټلویزیوني چینلونو اکثره ایراني فلمونه او یا هم په ایران کې ژبـاړل شوي او دوبله شوي فلمونه خپـرول او خپـروي یـې، سـړی دا فکـر نـه شي کولای چې دا د افغانسـتان ټلویزیـوني خپرونـې دي، یـانې کلـه چې سړی پـه کابـل کـې پـه مجموعي ډول فارسي خپرونـې لـولي او ګوري نو سړي تـه لـه ورایـه ایران تـداعي کېـږي او فکـر کـوي چـې د ایران په کوم لوی ښار کې اوسي، که چېرې د ایران فرهنګي یرغـل همداسې دوام ومومي او د مخنیوي لپاره یې اساسي ګامونه پورتـه نـه شـي، نـو لـرې نـه ده چـې د افغـان ملت ملـي هویـت بـه د ایـران د فرهنګي یرغل په خم کې دل او حل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زرين انځور د فکر او کار سړی

دا ليکنه پر ۱۳۸۵ل کال، د زرين انځور د پنځوسمې کاليزې په وياړ ليکل شوې وه او په هغه علمي غونډه کې اورول شوې چې د زرين انځور په وياړ په کابل کې جوړه شوې وه. دا ليکنه تراوسه په کومه خپرونه کې چاپ شوې نه ده.

په هره ټولنه کې چې هر ډول بشري پرمختګ او هوساينه رامنځته شوې، دا د هغې ټولنې د انديالو اشخاصو او د کار د سړيو د هڅو نتيجه ده. نېکمرغه ټولنې همغه دي چې د فکر او کار سړونه لري، اول فکر وکړي بيا کار وکړي او وروسته پاتې يا بدمرغه ټولنې هغه دي چې د فکر او کار سړونه په کې نه وي او يا که وي هم له خبرلوڅو او منفي پالو اشخاصو څخه سر نه شي پورته کولای. د مقدوني سکندر د بري غټ راز په دې کې و چې د



(c) ketabton.com: The Digital Library

ارستو په شان د یوه غټ مفکر ماغزه یې ملاتړي وو. دغه راز که د نړۍ د هر زورواک، ولسواک نومیالي او فرهنګیالي د بري شالید ته وګورو نو وبه وینو چې بریالیتوبونه یې د فکر او عمل د پیوستون نتیجه ده.

زموږ په ټولنه په تېره بیا په لیکوالو کې، درې ډوله لیکوال لیدل کېږي:

۱- یو هغه ډله لیکوال دي چې هېڅ کار نه کوي او یوازې خبرې کوي، دوی خپلې ذهني ناروغۍ او سپوره انتقادونه د نقد یا کره کتنې په نامه تېروي او غواړي په ټولنه کې د یوه کره کتونکي په توګه مطرح شي، ان تر دې چې ځینې د کار لیکوال یې هم ((پوهې))، ((بصیرت)) او ((دقت)) ته په درنه سترګه وګوري، دا په حقیقت کې شفاهي یا بې لیکه لیکوال ګڼلای شو چې لیک او اثار نه لري، خو په لیکوالو کې حساب دي.

۲- دویم هغه ډله لیکوال دي، چې د نظر او پوهې خاوندان دي، پوهه یې ډېره خو کار یې کم دی، دا ډله لیکوال کوښښ کوي، چې ټولنې ته دقیقې لیکنې وړاندې کړي، ډېر ځله داسې پېښېږي، چې ددې لیکوالو ډېرې لیکنې دډېر احتیاط له وېرې له چاپه پاتې شي او ولس یې له ګټو برخمن نه شي، داسې هم شوي چې د زیات احتیاط له وېرې ،دوی خپلې لیکنې پر وخت چاپ کړې نه دي او بیا یې چې کله د چاپ هڅه کړې او یا یې چاپ کړې، نو اثر یې خپل هغه پخواني ارزښت، قیمت او ماهیت له لاسه ورکړی او یا کم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی دی. یانې دا ډله لیکوال د ښه نظر خاوندان دي، خو ښه د کار سړي او مېړني نه دي.

۳- درېیمه ډله هغه لیکوال دي چې هم فکر لري، هم فکر کوي او هم کارونه ترسره کوي، ددې لیکوالو له جملې څخه پوهاند مجاور احمد زیار، استاد حبیب الله رفیع، سرمحقق زلمی هېوادمل او ځینې نور دي، چې څه یې په ذهن کې ګرځېدلي، فکر یې پرې کړی او بیا یې ټولنې ته وړاندې کړي دي، یانې د نن کار یې سبا ته نه دی پرې ایښی. زما په فکر ښاغلی زرین انځور هم په همدې درېیمه کټګورۍ لیکوالو کې راځي، یانې دا چې هم فکر کوي هم کار کوي. د فکر او کار ترڅنګ یو څو نور مهارتونه هم لري، چې هغه هم د ده د فرهنګي کارونو په بریالیتوب کې مرسته کوي، ددې مهارتونو له جملې څخه یو مهم مهارت یا خصلت دادی، چې د خپل کار په بهیر کې د نورو احساسات او کینه نه راپاروي یانې کار په دې ډول ترسره کوي، چې د رخه ګرو او کینه ګرو ورته ډېر پام نه شي او که پام یې هم شي نو پر ده د نیوکې داسې ښکاره څه پیدا نه کړي چې د هغوی د کینې اظهار سبب شي. زموږ د ټولنې په ځینو لیکوالو کې یو غټ عیب دادی چې څوک ډېر کار کوي له هغه سره زیات مخالفت کوي، له ښاغلي استاد رفیع صاحب سره د یو شمېر کسانو رخه په دې ده، چې ولې ډېر کار کوي او د انتقاد غټه وجه، عامل او دلیل د هغه زیات کار ګڼي، خو خپله چې هېڅ کار نه کوي له هر ډول نیوکې، ګناه او انتقاده پاک او معاف دي. دې ډول لیکوالو په حقیقت کې د ېته کار ویلای چې د نورو کارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وځاري، چې هغوی څه کوي، د خپل ځان په اړه فکر نه کوي، خو د نورو کار او زیار له زربینه تېروي.

زرین انځور زمور د ټولنې د غسې یوې څنګزنې خو ډېرې عیبجنې نیمګړتیا ته متوجه شوی، نو ځکه پر داسې یو محتاط او مستقیم خط حرکت کوي او خپل کار ته دوام ورکوي چې له ښي اړخو او کیڼ اړخو ناروغانو ځان وژغوري، دی په دې خاطر چې د رخه ګرو او کینه ګرو حسادت را ونه پارېږي، خپل ځینې کړي کارونه یې هم د نورو په نامه تمام کړي او په دې ډول یې د کینې د توپان مخه ډب کړې ده.

په فرهنګي کار او چار کې د انځور بله پخه تجربه او مهارت دادی، چې که غواړې کار وکړې، نو ځان به نه مطرح کوې، نور به مطرح کوې، خپله به شاته کېږې، نور به مخې ته کوې، په دې ډول به د هغو خلکو مرسته او همکاري جلبوې چې یوازې د ځان د ځلونې او شهرت لېوال دي او یا د ېته اړتیا لري؛ طرحه به دې خپله وي خو عملي کوې به یې په بل چا، خبره به دې خپله وي خو کوې به یې د بل په خوله، د همدغه مهارت او فورمول دقیق استعمال انځور ددې جوګه کړی دی، چې د فرهنګي کارونو لپاره د مختلفو سلیقو، نظرونو، افکارو او ان عقایدو د خاوندانو مرسته او همکاري راجلب کړي او ځان د پښتني ټولنې په داسې یو حالت کې چې د شخصیت د تثبیت بحران یې ګواښوي، د یو مثبت او باور وړ شخصیت په توګه تثبیت کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دله غواړم په لنډيز سره د ده پر کړیو فرهنګي کارونو لنډه رڼا واچوم او بيا په پای کې يو څو خبرې د نچوړ او لنډيز په توګه راوړم:

**۱- د فرهنګي کار موده:**

انځور په رسمي ډول له ۱۳۵۲ل کال څخه پر فرهنګي کارونو لاس پورې کړی، البته تر دې دمخه د تحصيل په بهير کې يې هم څه نا څه ليکوالي کړې، خو د رسمي او عملي کارونو پيل يې له ۱۳۵۲ل کال څخه دی، پر همدغه کال دی په راډيو افغانستان کې د هنر او ادبياتو په اداره کې د رسمي کارکوونکي په توګه مقرر شو او تر ننه پورې يې له وقفې پرته نږدې (۳۰) کاله فرهنګي کارونه ترسره کړي دي.

**۲- راډيو افغانستان کې کار:**

انځور په راډيو افغانستان کې له ۱۳۵۲-۱۳۶۵ل کال پورې نږدې لس کاله کار وکړ، ددې کار په بهير کې انځور بېلابېلې پښتو ادبي خپرونې برابرولې، له هغې جملې څخه يوه هم «د شومه دم انګازې» پښتو ادبي خپرونه وه، چې زيات مينوال يې درلودل، «د کيسو جونګړه» چې لنډو کيسو ته ځانګړې شوې خپرونه وه، هم زياته په زړه پورې وه. انځور په اوونۍ کې پر ټاکلې خپرونې سربېره نورو ادبي خپرونو سره هم مرسته او همکاري کړې، خو که موږ لږ تر لږه په اوونۍ کې يوه ادبي خپرونه دده په کړي کار کې محاسبه کړو، نو د انځور صاحب په لاس د جوړو شويو او خپرو شويو پروګرامونو شمېر به (۴۸۰) پروګرامونو ته ورسېږي. انځور صاحب په راډيو افغانستان کې د ځوانو ليکوالو او شاعرانو د استعدادونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غورېدونو لپاره د «ولولې» په نامه يوه ځانګړې ادبي خپرونه هم جوړه کړه، چې هره يکشنبه به د يوه ساعت لپاره خپرېدله، دې خپرونې تر يوې لسيزې زيات عمر وکړ او په لسګونو ځوان شاعران يې وغوړول.

**۳- د افغانستان ليکوالو په ټولنه کې کار:**

د افغانستان د ليکوالو ټولنه د شپېتو کلونو په لومړيو کې جوړه شوه، لومړی پړاو يې ډېر سياسي و او د واکمن ګوند د افکارو ځرګندويه او پالندويه وه، خو وروسته وروسته دا ټولنه خپل ادبي بهير ته ولوېده او آن منتخبه بڼه يې خپله کړه. زرين انځور پر ۱۳۶۵ل کال ددې ټولنې د رئيسه هئيت غړی او ادبي کره کتنې او څېړنې د څانګې مسول شو. دا هغه مهال و چې د افغانستان په استوګن ادبي بهير کې د شعر او شعار ترمنځ کرښه غبنتلې کېدله. البته تر کال دوه دمخه په افغانستان کې د شعاري ادب زوال پيل شوی و، زرين انځور په دې چار او کار کې د يو شمېر نورو ليکوالو لپاره د ادبياتو يو روزنيز کورس جوړ کړ، په دې کورس کې په لسګونو ځوان ليکوال شامل وو، چې د زرين انځور، استاد بريالي باجوړي، اکبر کرګر او نورو له خوا ورته د ادبياتو بېلابېلې خواوې تدريسېدلې. دا کورسونه په افغانستان کې د ادبياتو د تدريس په برخه کې لومړي کورسونه وو، چې د ځوانو استعدادونو په غوړونه کې يې اساسي نقش درلود. کوم ځوان ليکوال چې په دې کورس کې شامل وو، له همغه ځايه يې له شعاري ادب سره خدای پاماني وکړه. ځکه نو که موږ اوس په استوګن ادبي بهير کې د شعاري ادب

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ادب د بېلتون مخکښان معرفي کوو، نو د زرين انځور نوم يې په سر کې راځي.

انځور د دې ترڅنګ د هغو ادبي اثارو چاپ او خپراوي ته هم لاره اواره کړه، چې د واکمنې سياسي فضا ښکارندويي يې نه کوله، تر دې دمه ورته د چاپ زمينه برابره نه وه. دا مهال په لسګونو ادبي اثار چاپ شول او د ژوندون مجلې دواړه برخې د سياسي مسايلو پرځای يوازې ادبياتو ته وقف شوې.

**۴- په ناستوګن ادبي بهير (پېښور) کې د انځور نقش:**

انځور لا په کابل کې د شعاري ادب لمن ټوله کړې نه وه، چې له کابله پېښور ته لاړ، لومړی يې د ازاد افغانستان د ليکوالو ټولنه کې کار پيل کړ او د خپلواکۍ مجلې مسوول مدير شو. دا هغه مهال و، چې زموږ نا استوګن ادبي بهير هم د شعار په منګولو کې سولېده او ايډيولوژيک بار اوچتولو ته يې اوږه ورکړې وه او دا ډېره سخته وه چې خلک دې په اسانۍ سره د ادب ښاپېرۍ له ايډيالوژيکي چاپېريال څخه راوباسي. دا ډول يوه هڅه هغه وخت ان د تکفير په بيه تمامېدلای شوه، خو د ښاغلي محمد صديق پسرلي، استاد حبيب الله رفيع، محمد اصف صميم او مرحوم امان الله ساهو او څو نورو فرهنګيانو افغانانو په مرسته انځور هم د دې بهير ملګری شو او د افغانستان د کلتوري ټولنې له لارې يې د ادب جوهر خلا ته لاره اواره کړه. (سپېدې) په نا استوګن ادبي بهير کې هغه لومړنۍ مجله وه چې د شعاري ادب پر وړاندې يې ګامونه پورته کړل او ورو ورو د شعاري ادب امپراتوري مخ پر ځوړ شوه، تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۷۱ل کال وروسته چې د استوګن او نا استوګن ادبي بهیر اصلي مخکښان سره یوځای شول، نو د شعاري ادب بازار سوړ شو. د «افغان ادبي بهیر» جوړېدو سره د شعاري ادب لمن لاپسې ټوله شوه او تر نږدې دوه نیمو لسیزو وروسته ایله ادب بېرته خپل مسیر ته راوګرځېد.

**۵- په مسکو کې فرهنګي هڅې:**

په پېښور کې لاهم د شعاري ادب واکمني وه، چې انځور صاحب مسکو ته لاړ او هلته یې د خپلې مېشتېدنې په نږدې یونیم کلن بهیر کې د نورو ګڼو افغانانو فرهنګیانو په مرسته «د افغانستان د فرهنګ ټولنه» تاسیس کړه، انځور په دې ټولنه کې د مرستیال په توګه وټاکل شو او د یوې ځانګړې ادبي خپرونې له لارې یې فرهنګي هڅې وغځولې. دا فرهنګي هڅې بیا وروسته په مسکو کې د نورو افغان فرهنګیالیو له خوا وپالل شوې او وغځول شوې.

**۶- په جرمني کې فرهنګي هڅې:**

زما په فکر د انځور د فرهنګي فعالیتونو یوه ډېره درنه برخه همغه ده چې په جرمني کې ترسره شوې.انځور چې کله هم له هېواده د مسکو او له مسکوه د جرمني په نیت حرکت کاوه، نو له یو شمېر اندیالو او ستراتیژیستو لیکوالو سره یې د یوې اوږدې او عملي فرهنګي ستراتیژۍ په باب مشوره وکړه. ددې مشورو یوه برخه دا وه، چې کله دی جرمني ته ورسېږي، نو هلته به افغان لیکوال او ادبپال راټولوي، د هغوی د مالي او معنوي مرستو په مټ به په پېښور کې فرهنګي فعالیت خصوصاً چاپ او خپراوي ته لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

اواروي. همداسې وشول، کله چې انځور صاحب جرمني ته ورسېد،
نو هلته يې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې د جوړېدو لپاره
هڅې پيل کړې، المان مېشتو افغان ليکوالو او فرهنګپالو دا هڅه
تائيد کړه او دا ټولنه يې تاسيس کړه، دې ټولنې تر ۱۳۷۷ل کال
وروسته عملاً په پېښور کې د کتابونو پر چاپ او خپراوي پيل وکړ
او له هغه وخت تر دې دمه يې نږدې (۹۰) عنوانه بېلابېل، علمي،
ادبي، تاريخي، سياسي او طبي کتابونه چاپ کړل. که ددې
کتابونو کميت او کيفيت ته په دقيق ډول وګورو، نو له بابا ادمه تر
دې دمه هېڅ يوې خپلواکې افغان کلتوري ټولنې، دومره کتابونه نه
دي چاپ کړي، سربېره پر هغو کتابونو چې د ټولنې نښان پرې
لګېدلی او شمېر يې اوس تر (۹۰) عنوانو اوړي، دې ټولنې، د
کابل پوهنتون، هيلې مجلې او ځينو نورو خپرونو لاسنيوی هم کړی
او دغه راز يې تر (۲۰) عنوانو زيات نورو هغو اثارو ته چې لا د
ټولنې نښان پرې نه دی لګېدلی، هم له بېلابېلو لارو د چاپ زمينه
برابر کړې ده. دې ټولنې نه يوازې دا کارونه ترسره کړي، بلکې ددې
ټولنې جوړېدو او فعاليت ددې زمينه هم برابره کړه، چې په اروپا
کې نورې افغاني کلتوري ټولنې هم راوټوکېږي، په خپله په جرمني
کې د پښتني فرهنګ د ودې او پراختيا ټولنه، ددې ترڅنګ فعاله
شوه او (۱۳) عنوانه بېلابېل اثار يې خپاره کړه. د افغانستان د
کلتوري ودې ټولنه په دې بريالی شوه چې په اروپا کې د مېشتو
افغان فرهنګي ټولنو ګډه جرګه ګۍ جوړه کړي، چې اوس په کې، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډنمارک، هالنډ، سویډن، بیلجیم، ناروې او نورو هېوادو کې تر لسو زیاتې کلتوري ټولنې راټاله دي.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې څو مهم نړیوال او څو سیمه ییز علمي او تاریخي سیمینارونه هم جوړ کړي او یو شمېر افغان لیکوالو، علمي او کلتوري شخصیتونو ته یې ستاینلیکونه او مډالونه هم ورکړي، چې مالي ملاتړ هم ورسره مل و.

دا کار په فرهنګي هڅونه کې ډېر موثر و. د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې ترڅنګ نورو اروپا مېشتو افغان کلتوري ټولنو هم د قدر وړ کارونه ترسره کړي دي، چې که د ټولو چاپ شویو کتابونو شمېر یې محاسبه کړو نو تر (۱۲۰) بېلابېلو عنوانو اوړي. یانې په مجموعي ډول د ټولو هغو اثارو شمېر چې اروپا مېشتو افغان کلتوري ټولنو او په انفرادي ډول افغان لیکوالو په تېرې یوې نیمې لسیزې کې چاپ کړي (له مهالنیو خپرونو پرته) شمېر یې تر (۳۰۰) عنوانو اوړي.

دا کار که د افغانستان د حکومتونو د یوې نیمې لسیزې له ټول کړي خپرنیز کار سره پرتله کړو، نو څو برابره ترې زیاتېږي. نو کله چې جرمني کې د انځور صاحب د هڅو یادونه کېږي، نو لازمه ده چې په متناسب ډول د هغه د نورو فرهنګي ملګرو لکه: ډاکتر طارق رشاد، نجیب احمدزي، امین باوري، عاشق الله غریب، افضل ټکور، نظیف الله تکل، ډاکتر خوشال روهي، ډاکتر شېرولي برهان، حبیب الله غمخور، عبدالمالک بېکسیار، یوسف هېواد دوست، ممتاز ارمان، اسدالله بها، بسم الله امیر او نورو لیکوالو

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه هم وشي. همدا ماڼوګان دي چې زموږ د فرهنګي مرام بېړۍ د خپل هدف پر لوري بیایي.

انځور د خپل دېرش کلن فرهنګي کار او زیار په نتیجه کې پر پورتنیو یادو شویو خدمتونو سربېره (۱۹) عنوانه بېلابېل اثار هم ټولنې ته وړاندې کړي، چې په هغو کې (۵) داستاني مجموعې او نور علمي او څېړنیز اثار دي، چې نه غواړم دلته پرې بحث وکړم.

زه اوس یوې پوښتنې ته راځم، د انځور د دومره سترو کارونو د برې راز په څه کې دی؟ زه فکر کوم یو دده خپله ذاتي پوهه او کار و زیار دی او بل اساسي علت یې دادی چې ده خپله ټولنه ښه پېژندلې او د خپلو خلکو پر روحیاتو ښه خبر دی. دی د یوه ګټور احتیاط پر لیکه روان دی، خو دا احتیاط مضر احتیاط نه دی، چې خپل هر څه له احتیاطه قرباني کړي، بلکې دا داسې یو احتیاط دی چې کار خپله وکړي او شهرت بل چاته ورکړي، خبره او نظر دې خپل وي، خو ممثل ورته بل پیدا کړي، په تاوان کې ځان شریک کړي او په ګټه کې نور، د همدغه پرنسیپ له مخې چې قرباني یې یو اصل دی، انځور صاحب دې اوسني اوچت معیار ته رسېدلی دی.

د روهي صاحب په وینا: ((په وروسته پاتې ټولنې کې د شخصیت او خدمت معیار معلوم نه وي)) یانې دا چې یو شخص ته ټول خلک د یوه مثبت شخصیت په سترګه نه ګوري، ځکه چې دلته خلکو سره کوم مشخص معیارونه نه وي او نه یې هم په اسانۍ سره تشخیصولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو اوس لـه نېکـه مرغـه زمـوږ پـه ټولنـه کـې هـم د شخصـيت د تشـخيص معيارونـه ورو ورو پـه تشخيصـېدو دي او دا اوسـنۍ غونډه (په کابل کې د انځور نمانځنې غونډه) يې يوه بېلګه ده.

زه فکر کوم زرين انځور که يو انځور دی، نو انځورګر هم دی، کـه انديال دی نو يو انديال هم دی، کـه فکر کـوي نـو عمـل هـم کـوي، فرهنګيال هم دی او فرهنګپال هم او همدغـه معيارونـه زمـا پـه نظر پـه ټولنـه کـې د يـوه مثبت شخصـيت د تثبيـت اساسـي تـوکي دي او انځور همدا معيارونه پوره کړي دي، نو ځکـه ورتـه (د فکـر او کـار سړی) ويلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د محمد اسمعیل یون لنډه پېژندنه



محمد اسمعیل یون د حاجي محمدخان زوی پر ۱۳۴۲ل کال، د لغمان ولایت د الینګار ولسوالۍ دنیا ته زیږېدلی دی. په یوې روښانفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی.

لومړنۍ زده کړې یې د الینګار ولسوالۍ د سلینګار په لومړني ښوونځي کې سرته رسولي دي، تر هغه وروسته کابل ته راغی او په خوشال خان لیسه کې شامل شو. پر ۱۳۶۲ل کال له نوموړې لیسې څخه په دویم نومره بریالی او پر ۱۳۶۷ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې محصل شو. پر ۱۳۷۰ل کال له نوموړې څانګې څخه اول نومره بریالی او پر همدې کال ببرته دپښتو څانګې د کدر غړی شو. پر ۱۳۸۵ل کال په نوموړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګه کې د ماسټرۍ دوره پیل شوه، یون په ډېر ښه او بریالي ډول دا دوره پایته ورسوله.
محمد اسمعیل یون له ۱۳۷۰ ل کال څخه بیا تر ننه پورې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي تدریسي غړی او د ((پوهندوی)) علمي پوړۍ ته رسېدلی دی، پر استادۍ سربېره، استاد یون د ((کابل پوهنتون))، ((هیلې)) او ((شمشاد)) مجلو د چلوونکي دنده هم په ښه ډول ترسره کړې ده. په پېښور کې د چاپېدونکې ((معارف)) مجلې کتونکی غړی هم و. همدارنګه دیو شمېر نورو چاپي خپرونو همکار هم پاتې شوی دی.
استاد یون پر ۱۳۸۱ ل کال، په جلال اباد کې بېړنۍ لویې جرګې ته د ختیزو ولایتونو د انتخاباتو د دفتر مشر شو، ددې جرګې لپاره تر ټاکنو وروسته د جرګې غړی، بیا د جرګې د غړو له خوا د بېړنۍ لویې جرګې دلومړي منشي په توګه انتخاب شو. استاد یون په دې جرګه کې تر خپل وروستي وسه خپل ملي او تاریخي مسولیت ادا کړ او د هېواد دښمنه عناصرو د توطیو مخه یې ونیوله.
تر دې جرګې وروسته، کله چې د افغانستان د اساسي قانون د تدوین بهیر پیل شو، نو استاد یون بیا ددې بهیر لپاره د ختیزو ولایتونو د دارالانشاد دفتر مشر وټاکل شو. په ختیزو ولایتونو کې د اساسي قانون د لویې جرګې لپاره انتخابات هم د همدې دفتر له خوا ترسره شول. استاد یون د اساسي قانون د تصویب په لویه جرګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د نوموړې جرګې د دارالانشا د غړي په توګه خپل فعال رول ادا کړ. ټاکل شوې وه، استاد یون په ختیزو ولایتونو کې د افغانستان د جمهوري ریاست لپاره د عمومي ټاکنو د دفتر مسول شي، خو په کابل کې د لویو جنګسالارانو او ځینو تنظیمي مشرانو له خوا پر حکومت او ملګرو ملتونو د زیات فشار له امله له کاره ګوښه شو. ملګرو ملتونو (UNAMA) استاد یون ته وړاندیز وکړ، چې په کابل کې به تر دې لوړه دنده دروسپارو، خو استاد یون ونه منله او خپلې استادۍ ته یې دوام ورکړ.

درې کاله وروسته یې د ځینو ملګرو په زیات ټینګار او غوښتنه، د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا په دفتر کې د فرهنګي چارو د ریاست دنده ومنله او په کابل پوهنتون کې پر استادۍ سربېره لاتر اوسه دا دنده پر مخ وړي. استاد یون پر ۱۳۸۵ ل کال د افغانستان او پاکستان د امن ګډې جرګې لپاره د افغانستان له خوا د منشي په توګه غوره شو او دا دنده یې هم په ښه ډول ترسره کړه.

استاد یون د خپلواک لیکوال په توګه په تېرو شلو کلونو کې ګڼ شمېر فرهنګي او ټولنیز خدمتونه ترسره کړي، په ګڼو چاپي، رادیویي او ټلویزیوني مرکو کې یې د واقعیتونو او حقایقو د څرګندبیان له امله د خلکو په زړونو کې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې خلک هم شته، چې د يون سرسختي مخالفين دي. د هغه ملي او ګټورو نظرياتو ته هم غلط رنګ او تعبير ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره يې زورواکي او د سياسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د استاد يون نظريات خپلو شخصي او تنظيمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه يې په ټينګه مخالفت کوي. زه ددې شاهد يم، هر کله چې يون کومه ليکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې يې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي، منفي غبرګونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سياسي بهير کې يې ډېرې نامشروع ګټې ترلاسه کړې او ځانونه يې مطرح کړي دي.

مثبت غبرګونونه اکثره د ولس دمشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو استاد يون په دغسې سختو اغزنو او تنګو شرايطو کې بيا هم خپل فرهنګي، سياسي او ټولنيز کار ته دوام ورکوي.

دا اوسنی فرهنګي کار، چې تاسو يې اوس په مسلسل ډول ګورئ، دا د تېرو شلو کلونو کارونه دي، چې له تېر يو نيم کال راهيسې پرې په منظم ډول کار شوی، اوډل شوي او دادی ستاسو مخې ته ايښودل کېږي، په داسې يو دولتي دفتر کې چې بوختياوې په کې ډېرې وي، د منظم او ستر فرهنګي کار سرته رسول اسانه کار نه دی.استاد يون پر خپلو فرهنګي کارونو سربېره د ګڼو فرهنګي ټولنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غړي، همکار او موسس غړي په توګه هم خپل فرهنګي رول ادا کړی، په پېښور کې يې د دوو المان مېشتو فرهنګي ټولنو (دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې) او (د پښتني فرهنګ د ودې پراختيا ټولنې) د همکار په توګه د بېلابېلو ليکوالو په لسګونو اثار، ايډيټ او چاپ کړي دي. دغه راز يې په سلګونو کورنيو مشاعرو، ادبي غونډو او سيمينارونو کې ونډه اخيستې ده، خپله يې هم په لسګونو مشاعرې، سيمينارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

سربېره پر دې، په يو زيات شمېر، ملي او نړيوالو کنفرانسونو کې يې په ښه ډول د خپل هېواد استازي کړې ده. دلته به يې د اثارو يادونه وکړو:

## اثار

### الف- پنځونې:

| کتاب نوم | څرنګوالی | چاپکال |
|---|---|---|
| • متکور | لومړۍ شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • په اورونو کې سندرې | دويمه شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |

### ب- راټولونې:

| | | |
|---|---|---|
| • هيلې | ګډه شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • نيمګړي ارمانونه | د حيران شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • د لوونو فصل | ګډه شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • د نازو انا ياد | د سيمينار د ليکنو ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د استاد الفت نثري کليات    داستاد الفت نثرونه    درېيم ۱۳۸۷
- سيندونه هم مري    د اسحق ننګيال شعري منتخبات    دويم ۱۳۸۷

## ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه
  دپوهنوال روستارتره کي اثر    دويم ۱۳۸۷
- .د افغانستان فرهنګي ميراثونو ته يوه کتنه
  د نينسي دوپري اثر    دويم ۱۳۸۷
- په افغانستان کې د جګړې جنايتکارانو محاکمه
  د پوهنوال روستار تره کی اثر    دويم ۱۳۸۷

## د - يونليکنې:

- د اماراتو سفر    د اماراتو يونليک    دويم ۱۳۸۷
- که يون دی يون دی    د اروپا يونليک    لومړی ۱۳۸۷
- دپنټاګون ترڅنډو    د امريکا يونليک    لومړی ۱۳۸۷

## هـ- څېړنې او شننې:

- د محمدګل خان مومند اند و ژوند ته يوه لنډه کتنه    دويم ۱۳۸۷
- استاد زيار د پښتني فرهنګ يو ځلاند ستوری    دويم ۱۳۸۷
- دکابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي پښتو کتابښود    دويم ۱۳۸۷
- د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زيانونه    دويم ۱۳۸۷
- د پښتو شعر هندسي جوړښت    شپږم ۱۳۸۷
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل    دويم ۱۳۸۷
- ساينسي پرمختياوې    دويم ۱۳۸۷
- ببړنۍ لويه جرګه ولسواکي او زورواکي    دويم ۱۳۸۷
- انديال خوشال    لومړی ۱۳۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هیله د خپلو سریزو په لمن کې — لومړی ۱۳۸۷
- کلتوري یون — لومړی ۱۳۸۷
- فرهنګي فقر — لومړی ۱۳۸۷
- مرکه او مرکې — لومړی ۱۳۸۷
- خوشال په خپل ایډیال — لومړی ۱۳۸۷
- د کتابونو په وړمو کې — لومړی ۱۳۸۷
- افغانستان په سیاسي کړلېچ کې — لومړی ۱۳۸۷
- پښتو لیکنی سمون — لومړی ۱۳۸۷
- اوسنۍ رسنۍ — لومړی ۱۳۸۷
- که نړیوال ماته وخوري؟ — لومړی ۱۳۸۷

خدای (ج) دې استاد یون ته ډېر عمر ورکړي او جرئت دې ورته هم تاند لري، الله(ج) دې دی له هر ډول بدو بلاوو وژغوري، په فرهنګي کارو زیار کې ورته د نور زغم او اوسېلې هیله لرم.

په درناوي

وفاالرحمن وفا

کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Kultori Yun

## (Cultural Movement)

BY:
M. Ismael yoon

ISBN 978-9936-500-22-8

د خپرونو لړ: (۲۳)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**